ماچې څۀ لیدلی دی هم هغه مې لیکلی دی
څۀ ماسره شوی دی ، څۀ نورو سره شوی دی

## د پښتو یوه ادبی ډرامه

# لوبه دَ پیسے ده

**مصنف**

**پرویز شیخ**

**(ایم اے اردو، انگلش)**





**ټول حقوق محفوظ دی**

د کتاب نوم : لوبه دَ پیسے ده

لیکوال : پرویز شیخ

اشاعت : فروری ۲۰۱۲ء

کمپوزر: حبیب الرحمن (صافی)

شمیر: (200)

پریس: اعراف پرنټرز محله جنګی پیښور
0312-5945568

بیعه: (200)روپی

**د مونډلو درکونه**

یونیورسټی بک ایجنسی پیښور
یونیورسټی بک شاپ پښتو اکیډمی
زیب آرټ پبلشرز پیښور

**تړون :**

دَ خپلې کور ودانے په نوم چې دَ ژوند
په هر ډګر کښې ، په هره کشاله کښې ،
زما په شاکلکه ولاړه ده او زما خپې یې
مضبوطے کړی دی

پرویز شیخ
14-02-2012


www.pukhto.net



**ایکټ۱ سین ۱ وقت :۔ دَ اوړی غرمه**

**ځاے :۔ دَ پروفیسر کمال پنځه مرلے کور۔**

**کردار:۔ پروفیسر کمال ۔ دَ هغه ښځه خدیجه بی بی**

پروفیسر کمال خان اوړے ، تږے او ستړے ستومانه په خولو کښې جب جوب کورته راځی ۔ دَ پکی بټن وهی خو پکې نه لګی ۔ ځان سره ګڼ ګڼ کوی ۔ قمیص اوباځی ، په کټ کښی پریوځی او سترګې پټې کړی ۔ لږه شیبه پس دَ هغه ښځه خدیجه بی بی ببوځې په لاس دَ هغۀ کمرے ته راځی او په خوبوی انداز هغه ته ببوځی وهی په پروفیسر صیب چې دَ ببوځی یخه هوا اولګی نو سترګې اوغړه وی ، مسکې شی او هغے ته وائی ۔

پروفیسرصیب:۔ بجلی بیاتلې ده ؟ (سترګی پټې کړی)

خدیجه بی بی :۔ هاؤ ، دَ عالم خان پلاره ، نن سحر چې تۀ دَ کوره اوتے نوستا دَ وتو سره بجلی هم لاړه ۔

پروفیسر صیب:۔ (په پټو سترګو) "دے بجلی په عوامو کښې ډیره پریشانی پیدا کړے ده ټول خلق ترینه پوزے له راغلی دی"۔

خدیجه بی بی :۔ هاؤ دَ عالم خان پلاره ، په عوامو کښې او بالخصوص په مونږ کښې چې لږے سترګې مو ورشی نو بجلی لاړه شی ...غرمه په ګرمۍ کښی تیره شی ... او

پیش منې په تیاره کښې ۔ د داسے بجلۍ نه خو نه
بجلي ښه ده ...څه ښه ده چې په خپله یې کټ کړه ۔
( په ډوبولے انداز کښے اسویلے ) ..په مونږ به یې
هم خدا یې تیره کړی ...څه ښه ده چې په خپله یې
تار را اوغورځوو۔

پروفیسرصیب (سترګې غړه وی او هغے ته نیغ نیغ ګوری) څۀ دے
اووے ۔ تار راوغورځوو ؟ څه مطلب ؟

خدیجه بی بی (اینګې کوی او خوله ته لاس نیسی) مطلب دا چې
منوری مونږ ته بجلی کټ کړه او دَ بجلی تاریې راته
رااوغورځوو"

پروفیسر صیب (په کټ کښی کینی او په غصه وائی)"تارې ولې را
اوغورځوو؟ دا خو یې ډیر بد اوکړل (دَ پاځیدو کوشش
کوی) " زه ورځم چې یوه خوله تپوس ترینه اوکړم "

خدیجه بی بی :۔(دَ هغه په اوږه لاس اړدی)"پاځه مه دَ عالم خان
پلاره ، سمله ډډه واچوه ۔ خپله بجلی یې وه چې
کټ یې کړه نو کټ یې کړه ، دَ خپلې خوښخے مالک
دے ، زمونږ ورسره څۀ زور خو نشته ۔

پروفیسر صیب:۔ واه ، زور ولے نشته ، پیسے ورکوم ، څۀ ویړیا خو یې
نه ده راکړے دَ نیم غټ بل پریکولو ژبه مِ ورسره کړے
ده ۔


www.pukhto.net



خدیجه بی بی (مسکی شی) ژبه دے ورسره کړے ده ورکړے خو دے نه
دی ؟ هغه غریب ته هم ګناه نشته ، دَ څلورو میاشتو
بل مونه دے ورکړے ۔

پروفیسر صیب ( کټ کښې ډډه اچوی) وربه یې کړم څۀ خورم خو
یې ترے نه، چې پنشن واخلم نو هله به یې جیب
کښې اچوم چې هغه له ترینه دَ بلونو پیسه پیسه
ورکړم ۔

خدیجه بی بی :۔ رشتیا دَ پنشن دې څۀ اوشو ؟

پروفیسرصیب (یو سوړ اسویلې) دَ عالم خان مورے هیڅ اونشو ۔ اے
، جی آفس ته تلے ووم خو ..( هغه چپ شی) ۔

خدیجه بی بی :۔ هغوی څۀ اووې ؟

پروفیسر صیب:۔ زما دولس کاله صوبائی سروس دے ، باقی ټول
سروس فیډرل دے ۔ صوبائی برانچ واله مِ فیډرل
برانچ ته لیږی او فیډرل واله مِ صوبائی ته ۔ ښۀ اټیرن
یې راباندې اوکړو خو هیڅ ترینه جوړه نشو ۔

خدیجه بی بی :۔ ستا دَ ریټائرمنټ پوره څلور میاشتے او څلور کاله
اوشو ، په دے دومره موده کښې تا څۀ اوکړل ۔

پروفیسر صیب:۔ ماڅۀ اوکړل ؟ ما چې څۀ کړی دی هغه لوے لوے
خلق نشی کولے ...ما دَ خپل کورنه واخله تر اے جی
آفس پورے ټوله فاصله په میلونو ، ګزونو ، فټونو او

انچونو کښې ناپ کړے ده ۔ په دیکښے دَ پیاده تګ
راتګ وخت مِ په ګهنټو ، منټونو او سیکنډونو
کښې تر سره کول معلوم کړې دی او خپلې ډائری
کښې مِ دا ټول ریکارډ لیکلې دے ۔

خدیجه بی بی :۔ دے نه علاوه نور دے څۀ اوکړل ۔

پروفیسر صیب :۔ نورمِ دا اوکړل چې دَ اے ۔ جی آفس هر کمره او دَ
هرے کمرے ګوټ ګوټ مِ اولیدو ۔ دَ هرے کمرے
بابوګان ، افسران او چپړاسیان مِ اوپیژندل ۔ دَ اکثرو
پکښې نومونه هم راځی او دَ څینو پکښې کور کلے
هم راته معلوم شو ۔

خدیجه بی بی ...چې دا فضول کارونه دے کول نو خپله پیژندګلو به
دې کړے وه او خپل کار به دې ویستی وو۔

پروفیسر صیب :۔ دے ټولو سره مِ خپله پیژندګلو اوکړه خو نه پو هیږم
چې د دې خلقو حافظے ولے کار نه کوی ۔ ما ټول
اوپیژندل خوزۀ چا اونه پیژندم ۔

خدیجه بی بی :۔ څوک شاګرد دې پکښې نشته ؟

پروفیسر صیب:۔ شته پکښې ، ښه ډیر دی او په ښۀ اوچتو اوچتو
کرسو ناست دی ... زما دا کیس هم زما یو زوړ
شاګرد سره دے ۔ په رومبو ورځو کښی به یې راته
سلام هم کوو ، د ناستے او دَ چاے اوبو ست هم کوو



www.pukhto.net



خو ...خو اوس خبره دے له راغله چې رانه پټیږی ۔
چې ما اووینی نو څۀ بهانه کړی ، دَ کرسی نه پاڅی او
په یو طرف اوځی خو زۀ هم ورسره چل ول کوم ، په
کرسی دَ هغه پروت څادر ته ګورم ...څم را څم او
څادر له راځم چرته به لاړ شی ۔ او اخر چې راپیدا شی ۔
خو زما دَ قسمته دَ ډیوټی وخت ختم شوې وی نو
هغه څادر اوچت کړی ، په اوږه یې واچوی او ماته
وائی "اوس خو دَ ډیوټی وخت ختم شو ۔ بیا څه
وخت راشه ... چې صوبائی برانچ ته ورشم نو
هغوی وائی "ستا کیس مو بره یعنی فیډرل برانچ ته
لیږلے دې " چې هلته ورشم نو هغوی وائی ستا
کیس مو لاندے صوبائی برانچ ته لیږلے دے ۔ په دے
دے کښی وخت تیریږی او مسله نه حل کیږی ۔

خدیجه بی بی :۔ نن دے څۀ اوکړل ؟

پروفیسر صیب :۔ ( په لاپروائی ) نن خو تلے ووم کچهرو ته ۔

خدیجه بی بی :۔ کچهرو کښی دے څۀ اوکړل ؟

پروفیسر صیب:۔ هغه بله ورځ راته یو چپړاسی اووے چی بابا زما نوم
چاته مه اخله خو ستا کیس ډیر پیچیده دے ۔ دا مسله
دوی نشی حل کولے ۔ هائی کورټ کښې اپیل اوکړه "
نن کچهرو ته تلے ووم او زاهد سره مِ خبره کوله ۔

خدیجه :۔ زاهد څوک دے ؟

پروفیسر صیب:۔ زاهد زماسابقه شاګرد او دَ هائی کورټ لوے وکیل دے۔

خدیجه بی بی (دَ هغے په مخ دَ مسکا رڼا راشی) ښه ښه ۔ هغه ته دے خبره اوکړه ؟

پروفیسرصیب (سترګې پټې کړی) خبره مِ اوکړه خو خوندې اونه کړو۔

خدیجه بی بی :۔ ولے انکار یې اوکړو ؟

پروفیسرصیب :۔ نه انکار ئې نه دے کړے ۔ زاهد ډیر ښه هلک دے۔ زما ئے ډیر خاطر اوکړو ۔ دَ کرسۍ نه راته هم پاڅیدو او په دے روژه کښې یې راته دَ چاے ، اوبو ست هم اوکړو ۔ چی زۀ مسکې شوم نو هغه شرمنده شو او سترګے یې خکته کړے۔ بیا ورته ما خپله مسله پیش کړه او دَ کیس نوعیت مِ ورته بیان کړو ۔ هغه ماله تسلی راکړه او راته یې اووے چې دا دومره مسله نه ده په ړومبۍ پیشۍ کښې به کیس زما په حق کښې فیصله کیږی ۔ زۀ ډیر خوشحاله شوم او د ډیرے خوشحالۍ نه مِ هغه څو ځله ښکل کړو ۔ بیا مِ په زړه کښې اووے چی فیس خو درنه هسے هم نه اخلی خو خوله یې بوئېن کړه چی ما ورته دَ فیس اووی نو هغه مسکے شو او وے وئیل " خیر دے وی دے۔ چی په خپله خبره مِ زور واچوو نو هغه اووې



www.pukhto.net



"پروفیسر صیب دَ دے ټولو وکیلانو نه تپوس اوکړه ۔ زما فیس یو لاکھ روپۍ دے خو تۀ په هغه خلقو کښې شامل نه یې ځکه چې ته زما استاد هم یې او محسن هم ۔ ستا دَ پاره صرف او صرف پنځوس زره دے ۔ او یوه خبره بله دَ نورو خلقو نه زه خپل فیس مخکښے اخلم خو تاسو سره دا خبره نشته۔ تاسو صرف څلویښت زره روپۍ اوس راکړی او چی کیس شروع شی نولس زره روپۍ به بیا راکړے ۔ دا خبره وه دَ عالم خان مورے ۔

خدیجه بی بی : تا ورته څۀ اووے ؟

پروفیسر صاحب:۔ ما ورته اووے چی پنځوس زره به درکړم پوره په پوره خوفی الحال ما سره نشته چې پنشن واخلم نو هله به یې په جیب کښې اچوم چې تاله ترینه مخکښے درکړم ۔

خدیجه بی بی :۔ (په مایوسی سره ) هغه اونه منله ؟

پروفیسر صیب:۔ هغه اووے چی زه وکیل یم بیوپاری نه یم ۔

خدیجه:۔ دا وکیل صیب هم ستا شاګرد وو ؟

پروفیسرصیب:۔ هاؤ ۔ دے خو زما خاص شاګرد وو ځکه چې په پرائمری کښې تر پنځمه پورے زما شاګرد وو ۔ بیا چی کله زۀ لکچرر شوم او څۀ موده پس ده لسم

جماعت پاس کړو نو په فیډرل کالج پیښور کښې زما
شاګرد شو او کله چې زما بدلی قائد اعظم
یونیورسټی اسلام اباد ته اوشوه نو هلته ۂ په ایم ۔
اے کښې شاګرد وو۔

خدیجه بی بی :۔ د دے دومره ژور تعلقات باوجود هم هغه سترګے
بدلې کړے ۔

پروفیسر صیب:۔ دَ عالم خان مورے ! د دنیا نه ۂ دا زړۀ داسے تور دے ،
چې رابانـدی بد لګی خپل سیورے ... دنیا ډیر بے
رحمه ده ... څه دا خبرے پریږده ته ورشه اخبار راؤړه
چې پکښې دَ ځان غونـدے دَ نورو مظلومانو
داستانونه اولولم ۔

خدیجه بی بی :۔ (په حیرانتیا) اخبار ؟ دَ عالم خان پلاره اخبار ؟

پروفیسر صیب (مسکې شی) هاؤ اخبار ، داسے معلومیږی چې غوږونه
دے لکه زما درانه شو ۔

خدیجه بی بی :۔ نه دا خبره نه ده ۔ ستا خبره ۂ وورېده خو ...خو...
اخبار هم کټ شوے دے ۔

پروفیسر صیب :۔اخبار کټ شوے دے ؟ ۔ ولې کټ شوے د او چا کټ
کړے دې ؟

خدیجه بی بی :۔ دَ عروج خان ښځے خدمتګاره رالیږلے وه او دَ شپږو
میاشتو نیمے پیسے یې غوښتے ۔ هغه وې چې کیږی



www.pukhto.net



خو ډیرے خو ستاسو لاس تنګ دے خیر دے نورے
درپاتے صرف زر روپۍ راکړې ۔

پروفیسر صیب (په کټ کښی کینی)وا ، دَ څۀ زر روپۍ ، که ماسره
پیسے وی نو په زوړ اخبارۂ څۀ کول نوے اخبار به ۂ
راغوښتو۔ تاسو خو ماله زوړ اخبار راکوې ، چې
تاسو نه تیرے شی او دَ ردی احسان هم راباندے مه
کوې ځکه چې اخبار اوګورم نو واپس ئی کړم درته ۔

پروفیسر صیب ( پاڅی ) زۀ ورځم چې عروجی سره په خپله خبره اوکړم ۔

خدیجه بی بی (دَ هغه په اوږه لاس اږدی) پاڅه مه ، سمله ، روژه ده ،
سترګې پټې کړه ۔

پروفیسر صیب (په غصه) سترګې به هله پټوم چې دَ هغۀ پټی
سترګی اوغړوم او هغه ته دَ هغۀ هغه زوړ حیثیت
وریاد کړم ...دا هاغه احسان فراموش انسان دے چې
ده ته الف ۔ بے ما ښودلے دی ۔ د دۀ په ګوتو کښی قلم
ما ورکړے دے ۔ د ده پوزه ما پاکه کړے ده ۔ زما په وجه
دۀ لسم جماعت پاس کړو او اوس په تانه کښې مرزا
دے ۔ زۀ ورپسې تانے ته ورځم چې دَ هغه خپلو پیتې
بندو په مخکښے ترینه یو څو شړقونه اوباسم نو هله
به ۂ زړۀ یخ شی ۔

خدیجه بی بی :۔ دَ عالم خان پلاره ، سمله په قلاره ۔ ځان له کار مه

ګوره هغه اوس عروجې نه بلکه عروج خان دے ۔ ستا غوندے یې نوکران او زما غوندے یې خدمتګارے ګرځی ... او نه دا هغه پخوانے وخت دے چې شاګرد به دَ استاد مخکښے زوړنده سر او ټیټې سترګې ولاړ وو ۔ (دَ هغے په سترګو کښې اوښکے راشی )او تهٔ دَ عروج خان نه ولے ګیله کوې ۔ ستا خپل اولاد ، عالم خان ، سالم خان او سلمان خان کوم ستا په کار راغلل چې پاتے شو عروج خان ...هائے خدایه ...پیسه پیسه مو جمع کړه ، هغوی له مو په ښار کښې کور واخستو ۔ په هغوی مو تعلیم اوکړو ۔ هغوی مو نوکران کړل .. عالم خان په واپډا کښې نوکر شو ، سالم خان په پی ډی اے کښې او سلمان خان په کسټم کښې ۔

عالم خان له مو وادهٔ اوکړو ، په یوه میاشت کښې دننه دننه لاړو دَ سخر په کور دیره شو او ګټه وټه یې دَ هغهٔ شوه۔ سالم خان له مو وادهٔ اوکړو خو دلته یې زړهٔ اونه لګیدو ، حیات آباد کښې یې ځان له بنګله واخسته او هلته لاړو ۔ سلمان خان له مو وادهٔ اوکړو هغه ځان له په ډیفنس کښې بنګله واخسته او هلته اوسیږی ۔ ... کال راشی او کال تیر شی خو نه هغوی راشی نه دَ هغوی ښځے او نه دَ هغوی اولاد ۔ اختر راشی خو


www.pukhto.net



هغوی رانشی ۔ او نه ... او نه دَ هغوی څهٔ خیر خبر. هائے ربه ! دا زمونږ اولاد دے . . . ما خو ډیر په منښتو غوښتی وو او ډیر په مینه مِ لوے کړی وو لکه دَ مرغۍ دَ بچو مِ دَ خپلې سینے لاندے ساتلی وو خو چې وزرے یې اوکړے نو ټول والوتل او زهٔ ئې تشه غیږ پریښودم ۔ اوس نه مور پیژنی نه پلار ...دَ خور وادهٔ له هم رانه غلل چې په سر ورله لاس راکاږی او په ډولۍ کښې یې کینوی ۔ او هغے (سلګی ) ... او هغے خوارے دَ خپلو رونړو لارے ته څنګه خوار خوار کتل ۔ ساعت په ساعت به یې وې " عالم خان لالا مِ ولې رانه غی ...سالم خان ګل جی ولې ناوخته کړو ... سلمان بابوجی ولې لیټ شو ۔

پروفیسر صیب ( خپلې اوښکے اوچوی ) حوصله اوکړه دَ عالم خان مورے حوصله .دَ هغوی نه ګیله مه کوه ۔ هغوی اوس دَ خپلو کورونو خاوندان او دَ بال بچ پلاران دی ۔

خدیجه بی بی :۔ هغه نواسۍ ، نواسی راکره هم نه پریږدی او ښځو خو یې قسم خوړلے دے چې زمونږ په غولی کښې به خپه کښی نه ږدی ۔ (ژاړی) هائے خدایه دا مونږ دے کوم امتحان کښې اچولے یو۔ دا مونږ سره څهٔ کیږی ۔ مونږ خو چرے هم چا پورے خندا نه ده کړے ...او نه مو لویه خبره کړے ده ۔

پروفیسر صیب :۔ حوصله اوکړه دَ عالم خان مورے ۔

ایکټ ۱ سین :۲ وقت : دَ سحر لس بجے

ځاے :۔ دَ عالم خان بنګله ۔

کردار:۔ پروفیسر کمال ، دَ عالم خان ښځه سلمیٰ

پروفیسر کمال دَ عالم خان بنګلے ته په مسکا ګوری ۔ په دیوال لګیدلے بورډ په غور ګوری او وائی " کاشانۂ عالم خان " مسکې شی ، دَ هغه لوے ګیټ ته اودریږی او په ګهنټۍ ګوته اړدی ۔ دَ ګهنټۍ اواز هغه بهر اوری خو دَ کوره څۀ جواب نه راځی ۔ یوه شیبه پس بیا دَ ګهنټۍ په بټن ګوته اړدی ...یوه شیبه پس یو نسوانی اواز راشی "څوک یې" ؟

پروفیسر صیب:۔ زۀ یم بچے ۔پروفیسر کمال ، دَ عالم خان پلار ۔ سلمیٰ لورے ورلرے کړه ۔

سلمیٰ :۔ بابا کور څوک نشته ۔

پروفیسر صیب:۔ (دَ تندی خوله په لاس اوچوی) "دَ وړو تپوس مِ کوو چې ښنګه دی لورے ۔ ډیرے مِ یادیږی" ۔

سلمیٰ :۔ واړۀ ښۀ دی بابا خو کور نشته سکول ته تلی دی ۔

پروفیسر صیب :۔ خدایږ دے ښه لری ۔ څه بیا به راشم ۔ سلام علیکم

سلمیٰ :۔ په مخه دے ښه ۔

(پروفیسر صیب ځان سره وائی "۔ دا زما دَ ځوی عالم خان بنګله ده ..



www.pukhto.net



خو زما په کښې دَ لیدو نصیب نشته ۔ مخکښے راغلم نو دَ کوره یې سخر را اووتو او راته یې اووې چې کور کښې میلمنے دی ۔ په دویم ځل چې راغلم نو دَ دوی دَ پکنک پروګرام وو... په ګیټ کښې یې راته دَ شوندو په سر ، ست ، ستائی اوکړه ...موټر کښې کیناستل او په خندا خوشحالۍ روان شو . دَ نواسه ، نواسو دَ ښکلولو موقع هم راته ملاؤ نشوه ...او اوس یې راته اووی چې کور څوک نشته ۔ د دے مطلب دا دے که کور کښې د هغے پلار یا ورور وې نو را اوتے به وو او ما سره به یې بهر خبرے کړے وې خو زۀ کور ته نشوم ورتلے ...څه خدایږ دے دوی خوشحاله لری په مونږ خو هسی هم تیره ده ۔

★★★★★★★★★★★★★

ایکټ۱ سین :۳

ځائے :- د پروفیسر صیب کور

وخت :- نزدے ماښام

کردار:- پروفیسر کمال ...خدیجه بی بی

پروفیسر صیب دَ کوټے نه یو پوړ را اوباسی - په برنډه کښې یې غوړه وی - ...څپلی اوباسی ، په پوړ پرتل غزوی او ښځے ته وائی -

پروفیسر صیب :- دَ عالم خان مورے ! روژه ماتے راؤړه ناوخته دے -

خدیجه بی بی :-درغلم دَ عالم خان پلاره ...( هغه په پرچ کښې لږه شان مالړه راؤړی دَ هغهٔ مخے ته یې اږدی . بیا دَ هینډ پمپ نه دَ شیشے په جګ کښې تازه اوبه راؤړی په پوړی یې کیږدی ...دے نه پس دَ شیشے دوه ګلاسه دَ جګ دَ اوبو نه ډکوی . یو خپلې مخے ته اږدی او بل دَ پروفیسر صیب مخے ته بیا مسکے شی او هغه ته مخامخ کینی .

پروفیسر صیب ( په حیرانتیا ) تهٔ خو کیناستې - روژه ماتے دی راؤنه ړو-

خدیجه بی بی :- روژه ماتے خو ستا مخکښے پروت دے - که روژه په مالړه ماتوے او که په اوبو -

پروفیسر صیب :- نور څهٔ نشته ؟

خدیجه بی بی :- نور الله هم پاک او دریا یې هم پاک -


www.pukhto.net



پروفیسر (مسکې شی ) "دا دواړه څیزونه ښه دی - دواړه دَ خدائې نعمتونه دی "-

خدیجه بی بی :- دَ عالم خان پلاره ته جمات ته لاړ شه ، روژه ماتے به هم اوکړې او جمعے سره به نمونځ هم اوکړې -

پروفیسر صیب:- زه ستا په مطلب پوهه شوم خو دا انصاف نه دې چې ته په مالړه روژه ماته کړے او زهٔ پردی تالی ته ګوتهٔ ماته کړم- که سپوره وی که توره وی خو په کور به وی - رشتیا نن دې ګوانډیانو څهٔ نه دی رالیږلے ؟

خدیجه بی بی :- څو څو ورځې یې را اولیږل خو چې هرڅل یې زمونږ د کوره تش لوښی یوړل نو هغوی هم رالیږل بند کړل-

پروفیسر صیب (سترګے خکته کړی) هاؤ نو هغوی خوارانو ته هم ګناه نشته تر کومے به ....

خدیجه بی بی (دَ هغه په خبره کښې را اودانګی )رشتیایو زیرے م درباندے .

پروفیسر صیب :- زیرے ؟

خدیجه بی بی :- هاؤ زیرے -خو انعام کښې به څهٔ راکوې -

پروفیسر صیب:- نور څهٔ خو راسره نشته البته خپل ټول ارمانونه به درته لوګے کړم -

خدیجه بی بی :- ښه نو مبارک شه دَ شبانے ځوې شوے دې -

پروفیسر صیب (دَ هغه په مخ ځلا راشی ) دا خوواقعی ډیر دَ خوشحالی

خبر دے ۔ دا ټوله خوشحالی ستا په نوم شوه ۔

خدیجه بی بی :۔ یو ښۀ غوندے نوم ورله خوښ کړه .(دَ اذان اواز راشی )

پروفیسر صیب:۔ اِذن اللّٰه ۔

خدیجه بی بی :۔ ډیر ښه نوم دے ۔

(دواړه په خندا شی او روژه ماته کړی )

★★★★★★★



www.pukhto.net



ایکټ ۱ سین :۴

ځاے :۔ د سالم خان کور

وخت :۔ څلور بجے

کردار:۔ خدیجه بی بی ... بشری (دَ سالم خان ښځه)

خدیجه بی بی دَ سالم خان کورته ورځی ...دَ سالم خان ښځه بشریٰ چی هغے ته اوګوری نو ځان سره وائی ۔

بشریٰ ، بیا راغله ...

خدیجه بی بی :۔ لورے سلام علیکم ۔

بشریٰ :۔ وعلیکم سلام ۔ په خیر راغلے مورے ۔

خدیجه بی بی :۔ لورے زیرے مِ درباندے دَ بشریٰ ځوې شوے دے ۔

بشریٰ ( ځان سره ) "تۀ خو هم دَ هغے نه تاویږه "مبارک شه مورے ۔

خدیجه بی بی :۔ ښاده شې لورے ... واړه څۀ شول ۔

بشریٰ :۔ سیرت او عماد بهر لوبو له تلی دی او عقیل اودۀ دے ۔

خدیجه :۔ کوم ځائے دے لوری چې یو نظر یې اووینم ۔ داسے مِ یادیږی۔

(هغه دَ عقیل زانګو له ورځی او ښکلوی )

بشریٰ :۔ ( ځان سره ) دے مکر ته یې لا ګوره ۔

خدیجه بی بی :۔ څۀ دے اووې لورے ؟

بشریٰ :۔ ویـم چې ویښ نشی ډیر کار راته پروت دے ۔ تۀ خو به خپی اوباسی خو لانجه به ماته پریږدے ۔

خدیجه :۔ ښه لورے زۀ درنه څم خو دا واړه ډیر بهر ته مه پریږده خدایے
مه که تاؤ ورته پریوته څی ... او رشتیا نسرین او
سلمیٰ له دَ شبانے دَ څوی مبارکی په فون ورکړه
...لاړم درنه خوشحاله اوسے ۔

بشریٰ :۔ مبارکی په فون ورکړه ۔ دا کسب ګره درته زه ښکارم ؟

★★★★★★★★★★



www.pukhto.net



ایکټ ۱ — سین: ۵

ځائے :۔ دَ پروفیسر صیب کور

کردار:۔ پروفیسر کمال او خدیجه بی بی

وخت:۔ ماسخوتن ۔

خدیجه بی بی او پروفیسر ناست وی خپلو کښې خبرے کوی ۔

خدیجه بی بی :۔ دَ عالم خان پلاره یوه خبره مِ منې ؟

پروفیسر صیب :۔ یوه خبره ؟ په دے منلو کښې خو زما ځوانی لاړه ختمه شوه اوستا اوس هم زما په مینه اوقربانۍ شک دے ؟

خدیجه بی بی :۔ نه دا خبره نه ده دَ عالم خان پلاره خو هسے ما وې چې داسے معلومیږی چې په مونږ چاتعویذ کړے وی یا دَ نظره شوی یو ۔

پروفیسر صیب:۔ ښه نو ماته څۀ حکم دے ؟

خدیجه بی بی :۔ تۀ داسے اوکړه چې دے نظربوستان بابا له لړ ورشه او سوال ترینه اوکړه . دَ خداې نیازبین دے ګوره که خدا اې قبول کړی ۔

پروفیسر صیب :۔ نه نه ۔ زما په دے خبرو یقین نشته ۔ څۀ چې کوی نو الله یې کوی انسان هیڅ نشی کولے او مړی نه به سوال نه کوې بلکه مړی ته به دعا کوے ۔

خدیجه بی بی :۔ دا عقیده ستا دَ کله نه ده ۔

Pukhto.Net

پروفیسر صیب:۔ دَ هلکوانے نه ۔

خدیجه بی بی :۔ ستا او زما اخری ملاقات د لیونی بابا په دربار کښې شوے وو ۔

پروفیسر صیب :۔ هنّ ، هاؤ ، کیدیشی ۔

خدیجه بی بی :۔ نو بیا هلته څۀ مقصد دَ پاره تلے وی ، وایه ، رشتیا، رشتیا به وائی ۔

پروفیسر صیب :۔ رشتیا خبره دا ده چی زه هلته لیونی بابا له نه ووم تلے بلکه یوے لیونۍ پسی تلے ووم او چې هغے ته مِ دَ خپل زړۀ ارمانونه اووې نو د هغے په زړۀ کښې رحم راغی۔ چی دَ هغے نه مطمئن شوم نو واپس شوم ۔

خدیجه بی بی :۔ دَ هغے نه روستو زۀ هم نه یم تلے ۔

پروفیسر صیب:۔ (خاندی) یره دَ عالم خان مورے ! څۀ دَ لیونتوب وخت وو۔ اوس هم چې کله کله هغه وخت رایاد شی نو ځان پورے خندا راشی ... په زړۀ کښې خدیجه ... په خوله خدیجه . په لاره ، کوڅه کښې دَ هغے خیالی تصویرونه ، دَ ګودر په جینکو کښې دَ هغے لټون دَ کلی محلت په واده ، کویدن کښې دَ هغے تلاش ۔ یره یوه لیونۍ مینه وه چې لاړه تیره شوه ۔

خدیجه بی بی :۔تیره شوه ۔ څۀ مطلب ؟ ګینی اوس زمونږ مینه کښې کمی راغی؟ او که راغلے وی نو ستا له خوابه



www.pukhto.net



وی زما له خوا نه۔

پروفیسر صیب :۔ نه نه ته زما په مطلب پوهـ نشوې ۔ کمے نه دې راغلے خو مونږ هم زاړه شو او مینه هم زړه شوه ، یا داسے به اووایو چې مونږ هم مظلومان شو او زمونږ مینه هم مظلومه شوه ۔

(دواړه خاندې)

************

Pukhto.Net
پښتو

ایکټ۱ سین :٦

ځائے :- دَ سلمان خان بنګله ـ

وخت :- مازیګر

کردار:- پروفیسر کمال ـسلمان خان، دَ سلمان خان ښځه نسرین۔

پروفیسر صیب دَ سلمان خان دَ بنګلے مخے ته اوړی ، را اوړی اودَ بنګلے دیوالونو ته ګوری ـ په دیوال لیکلی شوی وی "سلمان هاؤس" .چی کله دَ هغه یقین راشی چی هم دا بنګله دَ سلمان خان ده نو دَ ګهنټۍ په بټن ګوته اړدی .دَ ګهنټۍ دَ اواز سره دَ سلمان خان ښځه نسرین دَ ګیټ خواله راځی ـ

نسرین :- څوک یې ؟

پروفیسر صیب:- زۀ یم لورے پروفیسر کمال ـ دَ سلمان خان پلار ـ

سلمان (ځان سره وائی) دَ سلمان خان پلار ؟ اوسه پورے به یې ځان ته دَ عالم خان پلار وې او اوس دَ سلمان خان پلار شو ـ ورته وایه کور څوک نشته ـ

نسرین (پروفیسر ته) کور څوک نشته ـ

پروفیسر صیب:- ورلرے کړه زه ستاسو دَ کور لیدو او مبارکۍ له راغلے یم ـ

سلمان خان (ځان سره) اوس مبارکۍ له راغی ـ تاسو خو زۀ دوه ،





خپے او دوه لاسه دَ کوره را اوویستم ـ اوس زما تپوس له راځې . . .او اوس مبارکۍ له راځې ـ ؟

پروفیسر صیب :- لورے ورلرے کړه ؟

سلمان خان (ښځے ته)ورته وایه چې هغه کور نشته ـ

نسرین :- هغه کور نشته بابا ـ

پروفیسر صیب :- ښه څه چې نشته نو صبا له به راشم ـ

سلمان خان (ښځے ته)ورته وایه چی هغه کراچۍ ته تلے دے او دَ راتلو یې څۀ پته نه لګی ـ

نسرین :- بابا هغه .....

پروفیسر صیب:- ستادَ وینا ضرورت نشته بچے ، دَ هغه ټولے خبرے ما وورېدے ـ (هغه سر اوځنډی او رو رو روان شی)

★★★★★★★★★

ایکټ ۱ سین :۷

ځائے :- دَ پروفیسر صیب کور

وخت:- ماسپخین دو بجے

کردار:- پروفیسر کمال ۔ خدیجه بی بی

پروفیسر کمال په خوشحالۍ خوشحالۍ کورته راځی ، هغه سره په لاس کښې یوه چھټۍ وی ۔

پروفیسر صیب:۔ دَ عالم خان مورے مبارک شه ، زمونږ دَ حج داخله منظوره شوه ۔ دا دے دَ مبارکۍ خط راپسې راغۍ ۔

خدیجه بی بی :۔ یا الله ستا ډیر ډیر شکر دے چې تاپه مونږ غریبانانو رحم اوکړو او مونږ دے دَ خپل کور میلمانهٔ کړو ۔ ته دا خط اولوله چی څهٔ دی پکښې لیکلی دی ۔

پروفیسر صیب :۔ دے کښې نورے خبرے نشته صرف هدایات دی یعنی دا چې هر سړی له پکار دی چې ځان سره کم از کم زر ریاله یوسی ۔ مونږ دواړو ته تقریبا دَ یو لاکھ روپو ضرورت دې ۔ دا به څه کوو؟

خدیجه بی بی :۔ غم مه کوه دَ عالم خان پلاره ! درے لاکھه او شل زره روپۍ ماسره دَ شبانے امانت پرتے دی ۔ هغه وائی چې په دے راله چرته دَ سر سیورے پیدا کړی ۔ دَ عالم خان پلاره په دے به مونږه خپل کار اوچلوو چې دَ خیره



www.pukhto.net



ستا پنشن اوشی نو هغے له به ترینه خپلی پیسے ورکړو ۔

پروفیسر صیب:۔ داسې نشی کیدے دَ عالم خان مورے ! یو خو دا چې دا پردې امانت دې او امانت کښې خیانت کول گناه ده۔ بله دا چې گوره که ناگهانه یې اوغواړی نو بیا به څهٔ کوو ، هغے ته به ډیر مخ تورن شو ۔ راځه چې دواړه الله ته ژړا فریاد اوکړو او دَ غیبو نه مو څهٔ سوب اوشی ۔

★★★★★★★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

ایکټ۱ سین :۸

ځائے :- د پروفیسر کمال کور وخت:- کچه غرمه

کردار:- پروفیسر کمال او خدیجه بی بی

پروفیسر صیب په کټ کښې بالخت ته ډډه وهلے وی او دَ یو زوړ اخباره پاڼه ګوری ...یوه شیبه پس هغه په چغه وائی "راشه دَ عالم خان مورے چې یو زیرے دربانده اوکړم ۔

خدیجه بی بی :- (راځی) زیرے ؟ دَ څهٔ زیرے ؟

پروفیسر صیب:- دا اوګوره اخبار کښې راغلی دی "په پیښور او دَ پیښور په خواؤ شاعلاقو کښې دَ موبائیل ټاور دَ پاره دَ پنځه مرلے زمکے ضرورت دے ۔ په لاندینی پته باندے رابطه اوکړی . موبائیل نمبر 0331-2917700 دَ عالم خان مورے زموږ سوال خدایې قبول کړو او غریبی لاړه ختمه شوه ۔

خدیجه بی بی :- غریبی لاړه ختمه شوه ؟ څهٔ مطلب ؟

پروفیسر صیب:- مطلب دا چی اوس ورځم دَ خانی دوکاندار په ټیلیفون ورسره خبره کوم ۔ هاؤ کنه ...اشهتار کښی لیکی :تا خیر مه کوی "پہلے آؤ، پہلے پاؤ" ورځم چې خبره ورسره اوکړم هسے نه چې بل ښوک رانه مخکښے شی ۔



www.pukhto.net



خدیجه بی بی :- موږ سره زمکه کوم ده چې موبائیل ټاور پکښې اولګولے شی ۔

پروفیسر صیب:- دا زموږ کور څهٔ شوے دې ؟ پنځه مرلے زمکه یې غوښتے ده او دا پنځه مرلے ده ۔ زه ورځم چې هغوی اوس ورسره خبره ختمه کړم ۔

★★★★★★★★★★★★★

Pukhto.Net پښتو

ایکټ :۱ سین :۹

ځائے :۔ دَ پروفیسر صیب کور

وخت :۔ غرمه

کردار:۔ پروفیسر کمال او خدیجه بی بی ۔

خدیجه بی بی (دَ پروفیسر صیب دَ راتلو انتظار کوی ۔ چی پروفیسر صیب راشی نو هغه ورځی) ۔ عالم خان پلاره فون دے اوکړو ؟ خبرے دے ورسره اوکړے ؟

پروفیسر صیب:۔ هاؤ ، خبرے مِ ورسره اوشوې ۔ دَ زمکے یعنی دَ کور مکمل حدود اربعه مِ ورته اوښودله ۔ هغوی ډیر خوشحاله شو او وے وئیل چې زمونږ داسے ځاې لګی چې محفوظ وی ۔

خدیجه بی بی :۔ تابه ورته ویلے وو چی دَ کور نه خو بل محفوظ ځائے نشی کیدے ۔

پروفیسرصیب:۔ بالکل بالکل ۔ هم داسے مِ ورته اووے ۔ خو یو کړچ پکښې شته او هغه دا چې دا زمکه به هغوی په کمپیوټر ګوری ، که دَ هغوی دَ ضرورت مطابق وه خو اخلی به یې ۔ ځکه چی هغوی ماته یقین دهانی راکړے ده ۔

★★★★★★★★★



www.pukhto.net



ایکټ:۱ سین :۱۰

ځائے :۔ دَ پروفیسر صیب کور

وخت :۔ ماسخوتن

کردار:۔ پروفیسرکمال او خانی دوکاندار او خدیجه بی بی

خانې :۔ (دَ پروفیسر صیب دَ کور ورډبوی ...دَ ډب ډب اواز راځی)

خدیجه بی بی (ورله راځی) څوک یې ؟

خانې :۔ زهٔ خانې دوکاندار یم خورے ۔ دَ پروفیسر صیب فون راغلے دے ۔ ورته وایه چی زر راشی ۔

پروفیسر صیب (بهر را اوځی ۔ خاندی) په مصلے ناست وو خو چی ستا خبرے او دَ فون نوم مِ وورېدو نو راپاسیدم ۔ څه چی ورځو ۔

★★★★★★★★★★★★

Pukhto.Net پښتو

ایکټ:۱ سین ۱۱

وخت:۔ ماسخوتن

ځائے:۔ دَ پروفیسر صیب کور

کردار:۔ پروفیسر کمال او خدیجه بی بی

خدیجه بی بی:۔ دَ عالم خان پلاره خبرے دے ورسره اوکړے ؟

پروفیسرصیب (خاندی) خبرے ورسره اوشوے ...تاته پته ده دَ چا سره ؟ دَ مشر صیب سره ، هغه سره مِ په خپله خبرے اوکړے خبرے لږے اوږدے شوے او پوره سل روپۍ خرچه پرے راغله ۔

خدیجه بی بی:۔ سل روپۍ خرچه ؟ فون هغه کړے وو او خرچه پرے ستا راغله ۔

پروفیسر صیب:۔ هغه کړے وو خو چی مونږ لیټ شو نو هغه بند کړو نو مونږ ورته اوکړو ۔

خدیجه بی بی:۔ سل روپۍ خرجه خو ډیره زیاته ده ۔

پروفیسر صیب:۔ وارمه خطا کوه ، دا دومره څیزنه دے او ماورله کومے نغدے ورکړے ...زما په کهاته کښې یې اولیکلې ۔

خدیجه بی بی:۔ ښه نو هغه سره دے څۀ خبرے اوشوے ۔

پروفیسر صیب:۔ ښه پوره تفصیلی خبرے مِ ورسره اوشوے ، ماله یې مبارکی راکړه ، او وې یې چې ځان را رسوه ، هسے نه



www.pukhto.net



چی بل څوک درنه مخکښے شی ۔

خدیجه بی بی:۔ تا ورته څۀ اووے ؟

پروفیسرصیب:۔ ما ورته وے دا دے درغلم خو ... خو دَ عالم خان مورے ځائے خائیږے ډیر لرے دې او ماسره خرچه هم نشته ۔

خدیجه بی بی:۔ ځائے ، ځائیږے چرته دے ؟

پروفیسر صیب:۔ سیالکوټ ...دَ سیالکوټ نه څلویښت میله لرے یو بل ځائے دے پسرور۔ دَ پسرور نه تقریبا شل میله لرے یو بل ځائے دے چی هغے ته کلاس واله ویلے کیږی . دَ هغه ځائے نه درے څلور میله لرے یو بل ځائے دے چې هلته دَ چودهری سکندر فارم هاؤس دے ۔ مشر صیب به صبا له دغه فارغ هاؤس ته راځی او زما خبرے به ورسره کیږی ۔

خدیجه بی بی:۔ دَ عالم خان پلاره ، دا خو ډیر لرے ځائے دې ۔ په دے ګرمۍ او روژه کښې خو به درته ډیره ګرانه شی ۔

پروفیسر صیب:۔ زۀ دلته څۀ په ائیرکنډیشنډ کمره کښې پروت یم ۔دَ بس سفر به د دے نه ښه وی ، هوا خو به راباندی لګی ۔ پاتے شوه روژه؟ نو روژه کښې خو چې څومره ډیر تکلیف برداشت کړے شی هومره زیات ثواب ملاویږی ۔ بله دا چې دنیا ډیره په منډه ده ۔ که ما لږ

غفلت اوکړو نو دَ لاکھو روپو ګټه به مِ دَ ګوتو اوځی
او دَ بل جیب لـه به لاړه شی ـ ماله وخت ضائع کول
نه دی پکار ـ نیپولین میدان جنګ ته پنځه منټه
لیټ اورسیدو او نتیجه یې څهٔ شوه ؟ تباهی ، بربادی،
بیلات او شرمندګی ـ ښه به دا وی چې زهٔ اوس هم
په دے ساعت روان شم ـ دَ عالم خان مورے ! زه جامے
بدلوم او تهٔ ضروری کاغذونه راواخله او زما بیګ
کښې کیږده ـ

خدیجه بی بی . ضروری کاغذونه ؟ کوم کاغذونه ؟

پروفیسرصیب:ـ د دے کور دَ انتقال فوټو کاپی ، زما دَ شناختی کارډ
کاپی ، دَ بجلۍ بل او څلور فوټوان ... شابه زرکوه ،
زما خولے ته څهٔ له ګورے ، ناوخته دے ـ

خدیجه بی بی :ـ چې ځې او خامخا ځې نو اوس مه ځه ، چې پیش
منی اوکړې او ړنائی اولګی نو بیا روان شه ـ دا خو
توره شپه ده ـ

پروفیسر صیب:ـ دَ عالم خان مورے ، خپو ته مِ پیکړے مه اچوه ، چې
څومره وختی اورسم هومره بهترده ـ بس اجازت
راکړه او دَ اجازت سره سره خرچه هم ـ

خدیجه بی بی :ـ ماسره خو هیڅ نشته ـ کورستا مخکښے پروت دے ـ

پروفیسر صیب:ـ هاغه دَشبانے امانت روپۍ ؟


www.pukhto.net



خدیجه بی بی :ـ تاخو وې چې هغے کښې خیانت نه دے پکار، ګناه ده پکښے

پروفیسر صیب:ـ ګناه به هله وی چې مونږ پکښې کمے راولو ـ چې
څومره ترینه اوچتے کړو هومره به پکښی واپس
واچوو بلکه که خدایې زمونږ دا کار اوکړو نو دوه ،
درے زره به پکښے زیاتے واچوو ، هغه هم څوک پردی
نه ده هم زمونږ خپل اولاد دے او دَ هغے ګټه هم
زمونږ ګټه ده ـ ستا څنګه خوښه ده ـ

خدیجه بی بی :ـ دَ عالم خان پلاره ، لوے عمر مِ درسره تیر شو ، ما
چرے هم خپله خوښه نه ده کړے بلکه تل مِ ستا
خوښه کړے ده ـ اوس ته وایه چی زهٔ څهٔ اوکړم ؟

پروفیسر صیب:ـ ته داسے اوکړه چې د دغه روپو نه ماله پنځه زره
روپۍ راکړه ، دَ لارے خرچه به هم اوشی او دَ هغوی
نو کرانو له به هم څهٔ خولو کښې واچوم ـ

خدیجه بی بی :ـ دَ عالم خان پلاره ! دَ هغے روپۍ زما صندوق کښی
ښکاره پرتے دی ورشه په خپله ترینه واخله او دَ خپلې
اندازے نه لږے زیاتے واخله هسے نه چی پیسې درسره
کمې شی ـ په پردی وطن کښې به بیا څهٔ کوې ؟

پروفیسر صیب روپۍ جیب کښې اچوی ـ نور ضروری کاغذونه
خپل بیګ کښې اړدی او وائی " دَ عالم خان مورے
لاړم درنه ـ دعا کوه "ـ

خدیجه بی بی :ـ لوے الله دے مل شه ، ستا بلا په غر او په ځنګل شه ـ

ایکټ:۱ سین:۱۲

وخت:۔ شپه

ځائے:۔ دَ پروفیسر صیب کور

کردار:۔ خدیجه بی بی ۔

دَ پروفیسر صیب دَ تلو نه پس خدیجه بی بی خودکلامی کوی ۔

خدیجه بی بی :۔ (دَ پروفیسر صیب خیالی تصویر ته ګوری)"روان شو ...روان دے ...اوس به دَ بسونو اډے ته رسیدلے وی ؟ نه نه اډه خو ډیره لرې ده ۔ لابه نه وی رسیدلے ..که رکشه کښې ناست وی خو رسیدلے به وی او که پیاده روان وی نو بیا دے کوی تکه چال... (خاندی) ...هغه دے ..یې هغه دے اوږے وهی روان دے ۔ هیڅ فرق در کښې رانه غی۔ دَ عالم خان پلاره . یوه ذره بدلون در کښې رانه غی۔ پیسے خو درسره شته کنه ، رکشه کښې ولې نه کینې ؟ ته دے ګاډو او رکشو ته خو لږ اوګوره لکه دَ میږو یو بل پسې لګیدلې دی ۔ غر په دے او غر په هغے ۔ دَ پیادوو خلقو لاره پکښې نشته ۔ اوه یو ګاډی سره یې اوږه اولګیده ..خوږ شوے خو نه یې ...زړه مِ وائی چې دا څټ مِ ورله راتاؤ کړے ۔ دے ګاډو والو ته دا پیاده



www.pukhto.net



خلق هډو دَ خداې مخلوق نه ښکاری ...ځان ترینه ساته ...غاړے ته شه او مخکښے روستو ګوره ...ته هم داسے ښه یې ۔ ستا ملګری په موټرو کښې ګرځی ..نوکران او خدمتګارے ورته ګرځی . په بنګلو کښې اوسیږی او ته؟ یره خو ...(دَ ناخوالی خندا) څه یره نور به څه نه وایم ۔ تانه خو ستا ځامن هم ښه دی ۔ په خپلو بنګلو کښې اوسیږی ...د روپو پیسو ورله څۀ کمې نشته او ته کوه خپله ایمانداری ؟ په خپله هم نهرے تیره وه او په ما هم ...په دے ایمانداری خو دے پنشن هم زانګیږی ...څو څو ځله مِ درته اووې چې بډے ورکړه او ځان ترینه خلاص کړه ۔ خو ...خو نه دَ چامنې ؟ او وائے خوړے ئې نشی اخر به ملاؤ شی ..اخر (خاندی) ...چې اختر تیر شی نو نکریزے په دیوال او تپه ۔ څه کماله نور به څۀ نه وایم ...خداې دے کامیاب راوله ۔ خداې دے دَ حادثو او ظالمانو نه اوساته ... امین ۔

★★★★★★★★★★★★★★★

ایکټ:۲ سین:۱

وخت:- دَ سحر لس بجے ۔

ځائے:- کلاس واله ، فارم هاؤس ۔ یوه ښکلے بنګله۔

کردار:- پروفیسر کمال ، خورشید،

دَ چودهر سکندر نوکر خورشید دَ یوے بنګلے مخے ته موټر سائیکل اودروی او پروفیسر صیب دَ موټر سائیکل نه کوزه وی ۔

خورشید:- صیب تاسو خفه نشی ، لږ انتظار اوکړی ، زهٔ دننه ورځم چې زنانه پړده اوکړی (مسکې شی) یې دا دې لاړم او دا دې راغلم۔

پروفیسر صیب:- (مسکې شی) اوه نو ، ورشه ورشه، زهٔ به د دے بنګلے ننداره اوکړم ۔

خورشید(په تیزو قدمونو کورته راځی لږه شیبه پس پروفیسر صیب ته وائی) "راځئ انکل " (په بیټک کښې تیاره وی)

پروفیسر صیب:- دلته خو ډیره تیارهٔ ده ۔

خورشید:- تیارهٔ ځکه ده چې بجلی نشته۔ خیر اوس به راشی۔

پروفیسرصیب:- د دے کړکو نه دا پړدے لرے کړه چې رڼا شی ۔

خورشید (یوه پړده یو سپق قدرے لرې کوی) خفه نه شی انکل په دے لاره زنانه ځی راځی ځکه یې پوره نشولرے کولے ۔

پروفیسرصیب:- (غلے غوندے) دَ شیشے نه بهر څوک نه ښکاری۔

خورشید :- ښه انکل ، کاغذونه راکړه چې چودهری صیب له یې ورکړم

پروفیسر صیب:- هنّ بچے دا غونډ فائل ورکړه ۔



www.pukhto.net



خورشید:- انکل درے زره روپۍ هم راکړه چې دا کاغذونه نن اولیږو۔

پروفیسر صیب:- درے زره روپۍ ؟

خورشید :- هاؤ کنه انکل ۔ ستا کیس به په کمپیوټر تیاریږی.تاسو ته خو بابوګان ښه معلوم دی که هسے ځان ګروې نو جیب ته به دې ګوری ۔

پروفیسر صیب (مسکې شی ) هاؤ دا خبره دے سل په سله صحی ده۔ هنّ دا زر روپۍ واخله نورے به بیا درکړم ۔

خورشید:- بیا به کله راکړے ؟ ماخو درته اووے چې دے کاغذنو سره به یې هغه له ورکوم ۔

پروفیسر صیب:- وار مه خطا کوه ۔ دومره به درکړم چې ستا په خیال او ګمان کښې به هم نه وی ۔

خورشید (خاندی) تهٔ ډیر خوش قسمته انسان یې انکل چې دَ ټاور منظوری دے اوشوه ۔

پروفیسر صیب:- خوش قسمته به هله یم چې ټاور راته اولګی ۔

خورشید :- واه انکل واه ۔ تاسودا کومه خبرکوی اوس هم ستا یقین نه کیږی ۔ سل په سله یقین اوکړه انکل چې ستاسو کار شوے دې ځکه چې مونږ ته ضرورت دے ۔ بله دا چې تهٔ رومبې سړے یې چې میر له دے ګوتے یوړے ۔ ستاحق رومبې دے او که بالفرض نور څوک راځی نو زورنده سر به واپس ځی ۔ ښه انکل زهٔ درنه ورځم چې چودهری صیب له دا کاغذونه ورکړم۔

ایکټ :۲ سین :۲

وخت :۔ یرلس بجے سحر

ځائے:۔ دَ پروفیسر صیب کور

کردار:۔ خانی دوکاندار

خانې راځی او دَ پروفیسر صیب ور ډبوی۔

خدیجه بی بی :۔ کور څوک نشته ۔

خانی :۔ خورے تهٔ لږه د دے ور خوا له راشه تاسره مِ یوسوال جواب دے

خدیجه بی بی :۔ ته څوک یې ؟

خانې :۔ زهٔ خانې دوکاندار یم خورے ۔

خدیجه بی بی (دَ ور خوا له راځی) ته څهٔ وایې خانیه ۔ که پیسے غواړې نو مونږ سره خو هیڅ نشته ۔

خانې :۔نه خورے ، هغے پسے نه یم راغلے ۔ هغے سره به بیا ګورو ماته پته ده چې پروفیسر صیب کور نشته او تهٔ یواځے یې که کور کښې دَ څهٔ سودا ضرورت وی چې وړوله یې ورکړم او درې اوړی ۔

خدیجه بی بی :۔ نه وروره هر څهٔ ډیر دی ۔ هم ستا دَ دوکان نه پروفیسر صیب راؤړی دی ۔

خانې :۔ هغه خو ماته پته ده خو بیا هم روژه ده که څه ضرورت پیښ شی نو ...



www.pukhto.net



خدیجه بی بی :۔ نه وروره هر څه ډیر دی او که ضرورت شو نو بیابه څوک در اولیږم ۔ بس دا خبره وه ؟

خانې :۔ نه خورے ، خپل عرض له هم راغلے یم ۔ او هغه داسے چی ماته پته ده چې پروفیسر صیب دَ موبائیل ټاور دَ منظورۍ دَ پاره سیالکوټ ته تلے دې ۔ او کاریې امید دے شوے دے او ډیر زر به واپس راشی ۔ اوریدلے مِ دی چې په ټاور کښې دوه کسان سیکورټی ګارډ هم لګی ۔ نو زما ځوے اسنفدیار بے روزګاره دے زهٔ ویم چې دے هم ځان سره غاړه کړی ۔ یو به پروفیسر صیب وی او بل به زما ځوې اسفندیار وی ۔

خدیجه بی بی :۔ ولې نه ۔ دا خو ډیره ښه خبره ۔ دعاکوه چی کار اوشی نو خامخا به یې اخلی ۔

خانې :۔ دعا که دعاګانے ۔ خورے توله ډیوټی به زما ځوی کوی ، پروفیسر دے بے غمه خپل خوب کوی ۔

خدیجه بی بی :۔ چی ټاور اولګی نو ستا ځوې به پکښے مخکښے لګیدلے وی ۔

خانې :۔ خداې دې خوشحاله ساته ، خداې دې حیااوکړه ۔ خورے که څه منډه تړه وی نو ویلے شی ۔

خدیجه بی بی :۔ نه وروره نور څهٔ نشته خو دغه ځامن مِ خبر کړه چې خوشحاله شی ۔

خانۍ :۔ دے نه بے غمه شه ، دَ هغوی موبائیل نمبرے ماسره شته ۔
اوس به ورته دَ دوکان نه فون اوکړم او ټول به خبر کړم۔
لاړم درنه خورے ، سلام علیکم ۔

خدیجه بی بی :۔ وعلیکم سلام ۔

★★★★★★★★★★★


www.pukhto.net



ایکټ :۲ سین :۳

وخت :۔ غرمه

ځائے :۔ دَ چودهری سکندر کور

کردار:۔ پروفیسرکمال ، خورشید ، چودهری سکندر، شاهد، میاں اعظم فاروقی ، دلشاد بانو

پروفیسر صیب دَ بجلی په رڼا کښی دَ بیټک دَ سیټنګ ، آرائش وزیبائش او دَ هغے د ډیکوریشن جائزه اخلی ۔

خورشید (راځی) انکل ستاسو کاغذونه مِ چودهری صیب له ورکړل۔

پروفیسر صیب:۔ ډیره مهربانی خورشید خانه بچے ۔

خورشید:۔ نه صیب ۔ مهربانی دَ څۀ ۔ دا خوزما ډیوټی ده او بیاستا کار خو به په چپه خوله او په پټو سترګو کوم ۔

پروفیسر صیب که رشتیا رابانډے وائی چې تاته ګورم نوخپل مړ پلار راته یادیږی ۔ په رنګ جُثه ، اونه غنه ، قدقامت او خبرو اترو کښې بیخی دَ هغه غوندے یې ۔

پروفیسر صیب:۔ خورشیدخانه بچے ستا پلار مړ دے ؟(خورشید یوه سلګۍ اووهی او دَ اوښکو لړۍ یې په مخ راماتے شی)"یه هلکه خورشید خانه ! ته خو ژاړې" ۔ نه بچے نه ، ژاړه مه بچے ۔ دا خو روانه لار ده مونږ ټول د دے لارے

مسافر یو ۔ ټول په نمبر نمبر خپل منزل ته روان یو ، فرق صرف دومره دے چې څوک وړاندے څوک روستو۔ راشه بچے ماسره کینه (خورشید پاڅی او هغه سره خوا کښې کینی پروفیسر صیب دَ هغهٔ په اوږه لاس اږدی )" بچے که خپل پلار دے مړ دے نو زهٔ خو لاژوندے یم ماته داسے ښکارې لکه دَ خپل کشر څوی سلمان خان ۔ وارخطا نه کړے زه به ستا هر ارمان پوره کوم او چې زما کار اوشی نو زهٔ به کوشش کوم چې تا پکښې ځان سره سیکورټي ګارډ واخلم ۔ او خانده بچے ۔(خورشیدخاندی) شاباش "۔

هغوی لا خاندی چې چودهری سکندر راځی۔ هغه دَ پنځه ، شپږو خلویښت کالو یوسور سپین سړې وی ۔ دروند وجود ، غټې غټې سترګې ، پیکه شین رنګے جامے ۔ دَراتلو سره پروفیسرصیب هغه ته پاڅی

چودهری صیب ( پروفیسر صیب له لاس ورکوی )"خان صیب دَ پیښور نه راغلے "۔

پروفیسر صیب:۔ جی ، دَ پیښور نه راغلم ۔

چودهری صیب:۔ ستا نوم غالبا پروفیسر کمال دے ۔

پروفیسر صیب:۔ یقینا ، او ستاسو ؟

چودهری صیب:۔ زما نوم چودهری سکندر دې ۔ که زهٔ خپل تعارف





لږ اوږد کړم نو بده خو به نه وی ؟

پروفیسر صیب:۔ نه ، نه ، دا خو ډیره ښه خبره ده چې دَ یو بل نه ښه پوره خبر شو ۔

چودهری صیب:۔ مهربانی پروفیسر صیب:۔ ښه نوزما نوم چودهری سکندر دې او زما دَ پلار نوم چودهری محمد شریف دے ۔ زهٔ د دے علاقے چودهری یم او زما دَ بنګلے نه چاپیره زمکه او دا ډیری فارم زما دے ۔ زهٔ د اعظم انټرنیشنل کنسټرکشن کمپنۍ دَ مالک میاں اعظم فاروقی ډائرکټر یم ۔ زمونږ په خپل ملک او بهر ملکونو کښې تعمیراتی کاروبار دے ۔په دیکښے موبائیل ټاور جوړول هم شامل دی۔

پروفیسر صیب:۔ هم په دے سلسله کښې زهٔ هم راغلے یم ۔

چودهری صیب:۔ تاسو سره څومرلے پلاټ دے ؟

پروفیسر صیب:۔ ماسره پلاټ نه بلکه کور دے ...زما پنځه مرلے کور دے ۔ زهٔ دا ویم چې دے کور کښې موبائیل ټاور اولګی ۔

چودهری صیب:۔ ډیره شکریه ۔ زهٔ ستا دَ قربانۍ قدر کوم خو چې کور کښې ټاور جوړ کړے نو اوسیږی به چرته ؟

پروفیسر صیب:۔ مونږ ، ښځه خاوند به پکښې یو ګوټ ته پراته یو صیب یا به ګینی په کرایه اوسو ۔

چودهری صیب :۔ ډیره ښه خبره ده ۔ دا کور تاسو پسې انتقال دے؟

پروفیسرصیب:۔ هاؤ صیب بالکل انتقال دے ماپسې ۔ د انتقال کاپی په فائل کښې پرته ده ۔

چودهری صیب:۔ ما اوکته بالکل صحی ده ۔ شناختی کارډ ، دَ بجلۍ بل او نور دستاویزات هم صحی دی ۔

پروفیسر صیب (مسکې شی) تاسو جوړ زما فائل پوره اوکتو۔ دا هر څۀ مې ستاسو دَ ملازم خورشید خان په ښودنه راؤړے دی ۔

چودهری صیب:۔ ډیر دے ښه کړی دی . پروفیسر صیب مونږ دَ چا مخ ، مروت نه کوو ۔ هر څیز په میرټ او "پهلے آؤ ، پهلے پاؤ " په بنیاد کوو ، هم دغه وجه ده چې مستحق ته خپل حق ملاویږی ، مونږ هم مطمئن شو ، هغه هم مطمئن شی او دَ کمپنۍ په شهرت کښې اضافه هم اوشی ۔ چونکه ته رومبې راغلے یې نو دے دَ پاره ستا حق رومبې دے ۔

پروفیسر صیب:۔ ډیره مهربانی ، ډیره مننه ، ډیره شکریه ۔

چودهری صیب:۔ نه پروفیسر صیب ، دیکښې دَ مهربانۍ یا شکریے ضرورت نشته ۔ دا دَ ډیل اولین دین خبرے دی ، مونږ ته دَ تاور ضرورت دے او تاسو ته دَ پیسو او ملازمت . . .ښه اوس به راشو دَ کار خبرو له ۔ پروفیسر صیب


www.pukhto.net



لس لاکهه روپۍ ایډوانس به تاسو ته دَ ایګریمنټ ملاویږی ۔ پنځوس زره روپۍ به ستاسو تنخواه وی ۔ تۀ به په دے دستخط کوے خو ستا جیب ته به اتهه لاکهه روپۍ ایډوانس او څلویښت زره روپۍ میاشت ملاویږی ۔ دا نورے به زما وی . . . .آیا ته دے ته تیار یې ۔

پروفیسر صیب:۔ چودهری صیب زۀ دومره لالچی نه یم چې څنګه دے اوکړل ماته منظور دی ۔ زما په تا پوره پوره اعتماد دے ۔

چودهری صیب:۔ چې منظوره ده نو راکړه دَ رورولی لاس ( هغه لاس ورکوی) خو دا خبره به زما او ستا ترمینځه وی چې میاں صیب درنه خبر نشی ګینې په شرمونو به اوشرمیږم ۔ تول اعتبار به مې ختم شی او نوکری به هم لاړه شی ۔ ماسره پوره وعده اوکړه چې دا خبره به پټه ساتې ۔

پروفیسر صیب :۔ زما دَ طرف نه بالکل مطمئن اوسه ، یو غوږ او بل غوږ به رانه نه خبریږی ۔

چودهری صیب:۔پروفیسر صیب ، خبره دا ده چې ته به په زړۀ کښې وائې چې دا چودهری صیب واقعی رشوت خور او غلط سړے دې خو زۀ نه رشوت خور یم او نه دَ چا دَ مال اوړے یم خو دا زمونږ مالک ، میاں صیب ښه

سرړې نه دے ۔ دے مذهبی لحاظ سره مرزائی دے ۔ زمونږ ورسره ډیر ښه تعلقات دی ۔ د دۀ ښځه مونږ کره ځی راځی خو زما ترینه په یوه خبره زړۀ بد شوے دے او هغه دا چی ده سره مونږ ځۀ کول او دۀ مونږ سره ځۀ اوکړل، هغسے ځوک هم چاسره نشی کولے۔ دَ نن نه ځۀ موده مخکښے چی کله دَ قادیانانو خلاف تحریک شروع شوے وو او په هر لوری د دوی دَ قتل عام چغے وې نو زما پلار دے راوستو او په دے بنګله کښې یې دَ بال بچ سره پټ اوساتلو۔ پوره یوه میاشت دا ټول خاندان مونږ پټ ساتلې وو۔ دے میاں صیب خپله د اربونو روپو پراپرتی زما دَ پلار په نوم منتقله کړه او په خپله انګلینډ ته لاړو ۔ کله چی پارلیمنټ ، قادیانان اقلیت اوګرځول نو دے واپس راغے ۔ زما پلار ، د دۀ ټوله پراپرتی دۀ ته واپس کړه او دَ یو ملازم په حیث یې ورسره کار کوو ۔ پروفیسر صیب ! زما پلار دۀ سره څومره لوے احسان اوکړو ، که دغه پراپرتی هغه واپس کړے نه وې نو میاں صیب هغه سره هیڅ نشو کولے داسے ده که نه ؟

پروفیسر صیب :۔ بالکل هم داسے ده ۔

چودهری صیب :۔ پروفیسر صیب ! زما پلار دَ دۀ او د دۀ دَ پراپرتی


www.pukhto.net



پوره پوره خیال ساتلو ۔ دَ پیسے پیسے تحفظ یې ورله کړے وو او دۀ ورسره څۀ اوکړل ؟ چی کله زما پلار مړ شو نو دَ هغۀ جنازے له هم رانه غے ۔

پروفیسر صیب :۔ شاید چی دَ ملک نه بهر وو ځکه رانه غے ۔

چودهری صیب :۔ نه پروفیسر صیب ! دلته پاکستان کښې وو ۔ کراچی کښے وو ۔جنازے له رانه غے ، په دویمه دریمه رانه غے البته دَ هغه دَ کفن دفن او خیرات دَ پاره یې ښه ډیرے پیسے را اولیږلے ۔ دے یو بازاری سړے دې ، دَ یارانے دوستانے نه دے ۔ دَ پیسو په لین دین او ګټه تاوان پو هیږی خو په مینه ، محبت ، اخلاص او ایثار نه پو هیږی ۔ اوس ما په زړۀ کښې ښه پخه فیصله کړے ده چې دۀ نه به زه دا بدل اخلم ۔ په ظاهره به ورسره خوله خوږه ساتم خو هغه کار به ورسره کوم چې دۀ ته پرے تاوان ملاویږی ۔

پروفیسر صیب :۔ خپل مالک سره بے وفائی دَ غداری زمره کښې راځی تاله داسے نه دی پکار ۔

چودهری صیب:۔ ولې نه دی پکار ، دے که ماله تنخواه راکوی نو زۀ ورله کار کوم ، خپله ډیوټی کوم . دَ خدایې په نامه یې نه راکوی ۔ بلـه دا چی دے مرتد دے او دَ مُرتد سزا قتل دے ۔ ته ګوره کنه یو کافر بے ګناه نشی وژلې خو

مُرتـد وژلـې شـې ۔ د دۀ دَ وژلو نه مخکښے زۀ غواړم چی ده لـه دومـره مالی تاوان ورکړم چې خیرته کینی ...وایه ولې ؟ دا ځکه چی د دے خلقو دَ حسد او عناد نـه چې خبـر شـې نـو تـوبے بـه اوباسې ۔ دا مرزایان ، مسـلمان سوال ګر له خیر نه ورکوی چی ثوک ترینه خیـر ، خیـرات غـواړی نـو نور خو څه نور دی ، زما دا مـالک ورتـه وائـی "زمـانه څۀ له غواړے ، څه دَ خپل خداې نـه دے غـواړه او خپلو قادیانانو له په کروړونو روپی ورکـوی ۔ دَ تولے ربوے خرچه دے په یواځے تن چلـوی او بهـر مـلـکـونـو ته ډلے ډلے په تبلیغی دورو لیږی ۔ ته اووایه پروفیسر صیب چې د دۀ قتل روا دے که نه ؟

پروفیسر صیب :۔ زۀ د دے په حق کښې نه یم ۔ کم از کم یو انسان خو دے کنه ۔

چودهری صیب ( په غصه ) ته قادیانی ته هم انسان وائی ؟ انسان خو دَ الله بـنـده وی خو قادیانے دَ مرزا غلام احمد بنده دے ۔

( هغه روانیږی کور ته ځی خورشید راځی اوکینی)

خـورشیـد:۔ انـکـل زمـونـږ صیب سره مو ګپ اولګوو ، ډیر زبردست سړے دے ( د بهـر نه د شپږ اووه دیرش ، کالو یو خوش پوش سـړې راځـی ۔ دَ راتـلـو سره وائـی "زمـا نـوم شـاهـد دے او



www.pukhto.net



چـودهـری سـکـنـدر سـره مـلاویږم ۔ هغه پروفیسر صیب او خورشید له لاس ورکوی)۔

خورشید :۔ راځی جی کینی رابه شی ۔

پروفیسر صیب:۔ تاسوجی دَ کوم ځائے نه راغلی ؟

شاهد (مسکې شی ) اوه سـوری مـاخپـله پیژندګلو اونه کړه ۔ زۀ جی دَ قـصـور نه راغلم ۔ چودهری سکندر سره لیدل غواړم ۔ زۀ پـه اصـل کښـې دوبـی کښـې سـروس کـوم ۔ دَ دوو میـاشـتـو پـه چُهتـی راغـلـے یم۔ یوه میاشت تیره شـوه ، یـوه پاتـے ده ۔ مـاوې چی دیکښې زرخپل کار راغـونډ کړم ۔ او واپس لاړشم۔

پروفیسر صیب:۔ تاسو دهوبی کښې څۀ سروس کوی ۔

شاهد:۔ زه هلته په یوه کمپنی کښې سیکورټی ګارډ یم ۔

(چـودهـری صیب راځی ۔ شاهد له لاس ورکوی او پروفیسر صیب ته ګوری ؟ )

چـودهـری صیب:۔ پروفیسر صیب ! دا میلمه ستاسو ملګرے دې ؟ دَ پیښور نه راغلې دې ؟

شـاهـد:۔ نه جی زه دَ قصور نه راغلے یم ۔ زما نوم شاهد دے او ستاسو والد صیب سره مِ کار دے ۔

چودهری صیب:۔ ته زما پلار پیژنی ؟

شـاهـد:۔ واه جی واه ۔ زما او دَ هغۀ خو دَ پلار اوځوی تعلقات دی ۔ دَ

چودهری محمد شریف په ما ډیر احسانات دی ۔
تاسو جی لږ کور ته ورشئ او زما دَ راتلو خبر
ورکړئ ۔ چی زما نوم ووری نو دومره مِ پرے یقین
شته چې خپے یبله خپی او سر تور سر به راځی ۔

چودهری صیب :۔ ستا چودهری محمد شریف سره څهٔ تعلقات دی۔

شاهد :۔ لکه څنګه چی ما اووے زما او دَ هغه تعلقات دَ پلار او دَ
ځوی دی ۔ کراچۍ کښې زهٔ دَ هغوی په کمپنۍ
کښې ډرائیور ووم او دَ هغوی په ذریعه مِ میاں صیب
سره ملاقات شوے وو۔ ما کراچۍ کښې میاں صیب
سره لیدل غوښتل خو ماته اوویلے شو چې دَ
چودهری سکندر نه وخت واخله نو هغه به دے
ورسره ملاؤ کړی ... تاسو جی محمد شریف صیب
ته زما دَ راتلو خبر ورکړئ ۔

چودهری صیب:۔ چودهری محمد شریف سره ستا ملاقات نشی
کیدے ځکه چی هغه دلته نشته ۔

شاهد:۔ فارن ته تلے ؟

چودهری صیب:۔ دَ فارن نه هم ورتیر شوے دے ۔ هغه هلته تلے دې
چرته نه چې څوک واپس نشی راتلے ۔

شاهد :۔ خدایے مه که وفات شوے دے څهٔ ؟

چودهری صیب :۔ جی هغه خپل مقام ته رسیدلے دے ۔


www.pukhto.net



شاهد :۔ اوه مائی ګاډ ۔ ( هغه سرخکته کړی او په دواړه لاسه یې نیسی ۔ یوه
شیبه پس سر اوچت کړی او په لوندو سترګو چودهری
صیب ته وائی ) " دَ هغه په حق کښې به یوه دعا اوکړو
... پروفیسر صیب په اوچت اواز یوه لویه دعا کوی ۔

چودهری صیب (شاهد ته) "ستاملاقات هغه سره څومره موده
مخکښے شوے وو" ؟

شاهد:۔ یونیم کال مخکښے هغوی ماته دَ ملاقات اعزاز راکړے وو۔
دغه ملاقات زمونږه اخری ملاقات وو ... زهٔ دومره
بدقسمته یم چی دَ هغوی په جنازه کښې مِ شرکت
هم اونکړے شو۔ (ژاړی او سلګی وهی)

چودهری صیب:۔ریلیکس پلیز ریلیکس ۔ دا روانه لاړ ده ۔ په دے
سفر مونږ ټول روان یو خو څوک مخکښے ، څوک
روستو۔

شاهد:۔ اف خدایه ۔ څهٔ فرشته صفت هستی د دے دنیا نه لاړه ۔ دا
جدائی به زهٔ څهٔ رنګ برداشت کړم (ژاړی)۔

چودهری صیب:۔ شاهد صیب حوصله اوکړه ۔ ژاړه مه ۔

شاهد:۔ پریږده چودهری صیب چې دا زړهٔ مِ تش شی ۔ دا اوښکے زما
له خوا هغه ته نذرانه ده ...ښه چودهری صیب زه به
درنه لاړشم۔

چودهری صیب:۔ دَ تلو نه مخکښے راته دا اووایه چې هغه کومه

خوبی وه چی چودهری صیب کښې وه او دَ هغه

څوی کښې نشته ؟

شاهد:۔ ستاسو والد صیب خو دَ خوبیو مجسمه وه ۔ هغه یو مهربان

او رحم دل انسان وو ۔ هغه چی ما سره کوم احسانات

کړی دی هغه زما دَ بیان نه بهر دې . . . هغه دَ زمکے نه

اوچت کړم او ثریا ته یې اورسولم ۔ دا نن چی زه څۀ یم

دا دَ هغه او صرف دَ هغه دَ مهربانئ په وجه یم ۔ اف

خدایه ، زه خو غرق شوم ، برباد شوم زما په ژوند

کښې هیڅ پاتے نشو ۔

چودهری صیب:۔ شاهد صیب دَ چا په تلو باندے دنیا نه ورانیږی او

نه دَ دنیا کار بندیږی خو هغه کوم کارو وو چې هغه

کولے شو او زۀ یې نشم کولے ۔

شاهد:۔ چودهری صیب ! هغه سره زما ملاقات په کراچئ کښې

شوے وو دَ میا ں اعظم فاروقی صیب دَ هارس ریس

شوق او په هغے شرطونه لګول دَ اخباراتو خاص

موضوع وه ۔ میاں صیب په هارس ریس روک لیونی

وو ۔ چی کله دَ شرطونو نوبت کروړونو ته اورسیدو

نو حکومت په دے لوبه پابندی اولګوله ۔

چودهری صیب:۔ هاؤ ماته پته ده ۔ په دغه مقابلو کښې میاں صیب

په کروړونو روپئ هم بائیللے وې ۔ دے نه علاوه دَ



www.pukhto.net



څلویښت ، څلویښت لاکهه روپو یې دوه اسونه هم

مړۀ شوی وو۔

شاهد:۔ جی بالکل ۔ خو دَ میاں صیب په دے نقصان هیڅ پرواه نه وه .

دے نه پس د دے لوبے په مقابله کښې هم د دے لوبے

په شان دَ یورپ دَ کلبونو نه یوه لوبه راغله ۔ چې

هغے ته به (Four horse race on one table)

" فور هارس ریس آن ون ټیبل "ویلې کیده ۔ دا لوبه

په کلبونو کښې کیده او ښه شرطونه به پرے لګیدل۔

زۀ د دے اکسپرټ ووم خو ماته دَ مقابلے دَ پاره سړې نه

ملاویدو ۔ دے دَ پاره محمد شریف صیب سره ملاؤ

شوم او دَ میاں صیب سره دَ مقابلے دَ پاره مې ورته

خواست اوکړو ۔ محمد شریف د دے مقابلے او په دے دَ

شرطونو سخت مخالفت اوکړو او ماته یې اووې چی

"ته غریب سړے یې او هغه ارب پتی دے ۔ دَ هغه په

تاوان نه ستا په تاوان خفه کیږم ۔ ما هغه ته یقین

دهانی ورکړه چې جیت زما مقدر دے او بیلات دَ

هغه ۔ هغه بیا هم نه منله خو ما ورته اووے چې زۀ

ستا یو مسلمان ورور یم او هغه مرزائی او مرتد دے ۔

هغه واجب القتل دے ، که تۀ هغه قتلول نه غواړے

نو کم از کم دومره خو کولے شی چې هغه معاشی

لحاظ سره کمزورے کړے او دا به هله کیږی چې ما
سره صرف لس اتهه منټه لوبه اوکړی " هغه په ډیره
مشکله راضی شو او زمونږه دواړو ملاقات یې اوکړو
میان صیب ماسره مقابلے ته تیار شو ۔ ما ترینه په
لس منټه کښې پنځه ثلوینبت لاکهه روپۍ اوګټلې
او ډک تیچی کیس مِ کورته راوړو ۔

چودهری صیب :۔ ښه تۀ زمانه څۀ غواړے ؟

شاهد:۔ تانه هم دا توقع لرم چې ما هغه سره ملاؤ کړه چی یوه مقابله
ورسره اوکړم ۔

چودهری صیب:۔ نه شاهد صیب ! زۀ داسے نشم کولے ۔ دا جواری ده
او زۀ ستاسو په ګناه کښې ځان شریکول نه غواړم۔

شاهد:۔ چودهری صیب ! دا جواری نه ده ۔ دا کارِ خیر دے ۔

چودهری صیب (خاندی) پروفیسر صیب! دَ شاهد خبرے ته لږ خیال
اوکړه جواری ته کارِ خیر وائی ؟ ستا څۀ خیال دے ۔

پروفیسرصیب:۔ هرچاته دَ خپلې رائے دَ اظهار حق حاصل دے که
شاهد صیب تورے شپے ته سپینه ورځ وائی نو ویلے
شی خو زۀ ورته نشم ویلے ۔ زما په خیال دا جواری ده
او دَ جواری ګټه حرامه ده ۔

چودهری صیب :۔ وودے ریدل شاهد صیب ! زۀ دَ پروفیسر صیب
رائے سره اتفاق کوم ۔


www.pukhto.net



شاهد:۔ چودهری صیب ! تاسو یا پروفیسر صیب چې څۀ اووے داسے
محمد شریف صیب هم ویلے وو خو ما هغه په دے
قائل کړو چې دا جواری نه ده بلکه خپل مسلمان رور
سره امداد کول دے او کوم سړے چی زمونږ د دین
دشمن دے په هغه ولے زړۀ سیزے ۔

چودهری یب:۔ زۀ په هغه زړۀ نه سیزم بلکه په تا سیزم دَ هار جیت
څۀ پته لږی ۔ کیدیشی هغه جیت شی ته هارشے۔

شاهد:۔ چودهری صیب : ریموټ زما په لاس کښې دے څنګه به هارشم.

چودهری صیب:۔ شاهد صیب ! ته ماداسے کار کښې ولے شاملوے چی
دَ هغے نه نفرت کوم ۔ داسے نشی کیدے ته تلے شے۔

شاهد:۔ ټیک ده صیب ، ډیره مهربانی ، سلام علیکم( بهروځی )

چودهری صیب:۔ د دے میلمه متعلق دے څۀ خیال دے ۔

پروفیسر صیب:۔ دیکښے به زۀ څۀ اووایم ۔ زۀ په دے لانجو نه پو هیږم

چودهری صیب:۔ دومره خو پو هیږی چې دا کار ښه دے که بد ؟

پروفیسر صیب:۔ بد ۔ که دے واقعی اکسپرټ دے او دَ جیت ریموټ د
ده په لاس کښې دے نو بیا هم ښه خبره نه ده ځکه
چې د ده ګټه ستا دَ مالک تاوان دے ۔

چودهری صیب :۔ دا خوزۀ غواړم چې هغه ته تاوان ملاؤ شی او تاوان
داسے چې بیخی کنګال شی ۔

شاهد واپس راځی او چودهری صیب ته وائی "چودهری صیب زه تا

سره په تنهائی کښې یوه خبره کول غواړم ۔

چودهری صیب :۔ خبره د پړدے ده که عامه ۔

شاهد:۔ نه صیب ! عامه ده خو که پړده کښې اوشی نو ښه به وی۔

چودهری صیب (خورشید ته) "تهٔ هلکه بهر اوځه"

پروفیسر صیب (پاڅی) زهٔ به هم بهر اوځم چې تاسو خپله خبره اوکړئ ۔

چودهری صیب :۔ نه ، نه ۔ پروفیسر صیب تاسو کینئ۔ چرته ځئ۔ تا
نه مونږ هیڅ خبره نشو پټولے ۔ کینه د دهٔ خبره اووره
چې دے څهٔ وائی ۔ ښه شاهد صیب وایه ، تهٔ څهٔ ویل
غواړے ۔

شاهد:۔ چودهری صیب که خفه کیږے نه نو زهٔ تاسره یو ډیل کول
غواړم ۔

چودهری صیب :۔ څهٔ ډیل ؟

شاهد:۔ چودهری صیب ! لکه څنګه چې ما مخکښے اووې جیت په
هر حالت کښې زما دے ۔ په دے جیت کښې زه تاسو
شاملول غواړم۔

چودهری صیب:۔ ډیره ښه ده ۔ ماله به څهٔ راکوې او ته به څهٔ اخلے؟

شاهد:۔ تاله به په سلو کښې پنځویشت درکوم او پنځه اویا به زهٔ اخلم۔

چودهری صیب:۔ چې پنځویشت راکوے نو پنځه اویاولے نه راکوې۔

شاهد: چودهری صیب لوبه زهٔ کوم ، لویه برخه زما حق دے ۔ ستا
صرف لیډل ، کتل دی ۔


www.pukhto.net



چودهری صیب :۔ تهٔ داسے اوکړه چې دغه بلے کمرے ته ورشه ، زه
پروفیسر صیب سره صلاح کوم نو بیا به درته اوویم ۔

شاهد:۔ ډیره ښه ده صیب ۔ ( هغه پاڅی او بلے کمرے ته ورځی)۔

چودهری صیب:۔ پروفیسر صیب ! که شاهد سره زمونږه ډیل اوشی
نو څهٔ بده خبره خو نه ده ؟ ستا څه خیال دے ؟

پروفیسر صیب:۔ چودهری صیب ! په دے ګناه کښی ماولے شاملوے۔
ته پوهـ شه او شاهد ۔

چودهری صیب:۔ ټیک ده ۔ ته صرف دومره خو کولے شې چې زما دَ
خولے خبره هغه ته اوکړے ۔

پروفیسرصیب:۔ دا هم راته ناجائز ښکاری خو چې ته وائے نو اوبه یې
کړم ۔ ښه تهٔ څهٔ وائے ۔

چودهری صیب:۔ رومبی خبره به ورته دا اوکړے چې ډیل به هالف
اینډ هالف وی یعنی ففتی ففتی ۔ دویمه دا چې زما
برخه به صرف په جیت کښې وی هار کښی نه ۔
دریمه خبره دا ده چې ماسره به حلفیه وعده کوی چې
دا راز به راز وی او دے نه به میاں صیب نه خبریږی۔
بس دا خبره به ورته اوکړے که راضی شو خو ټیک ده
ګینې ځی دے په خپله لاره ۔ زهٔ درنه کورته ځم او ته
ورسره خبره اوکړه ۔

پروفیسر :۔ ټیک ده ځه ورځه ۔

(چودهري صيب پاځي کورته ځي ۔ دَ هغه دَ تلو نه پس شاهدراځي)

پروفيسر صيب:۔ شاهد صيب ما چودهري صيب سره ستا اودَ هغه په مسله خبره اوکړه ۔ په ففتي ففتي مِ ورسره خبره اوکړه ۔

شاهد:۔ ډيره ښه ده پروفيسر صيب ستاسو فيصله ماته منظور ده ۔

(چودهري صيب راځي )

پروفيسر صيب:۔ چودهري صيب ، شاهد صيب درے واړه شرطونه اومنل ۔

چودهري صيب :۔ ډيره ښه ده ۔ راشه شاهد صيب په دے ميز لاس کيږده۔

(شاهد په ميز لاس اږدي ) پروفيسر صيب ته دَ شاهد په لاس ، لاس کيږده ، او زه به ستا په لاس ، لاس کيږدم، دواړه کلمه اووايئ ( درے واړه کلمه وايي ) "دا راز به راز وي چې مياں صيب ترينه خبر نشي او زمونږ به يوه رورولي وي "۔

چودهري صيب کورته ځي ۔ يوه شيبه پس يو ملازم راځي ۔ هغه سره لاس کښې ټيچې کيس وي ۔ دَ راتلو سره وائي "مياں صيب راغے" ټيچې کيس په ميز اږدي او بهر اوځي ۔ لږه شيبه پس تقريبا دَ شپږ پنځوسو کالو يو پوخ عمره او سپک دسته مندرے سرے په ارت بيرت خاکي رنګې سوټ کښې ملبوس بيټهک ته راشي ۔ هغه سره په څنګ کښې يوه حسينه جينۍ هم وي۔ چودهري سکندر ، پروفيسر صيب ، شاهد او خورشيد



www.pukhto.net



دَ هغوی استقبال ته پاځي او هغوی ته سلام کوي۔

مياں صيب (مسکې شي ) دلشادبانو ، دا پروفيسر کمال دے ، د موبائل ټاور دَ منظورۍ دَ پاره دَ پيښورنه راغلے دې۔

دلشادبانو ( مسکۍ شي ) څنګه يې پروفيسر صيب، مزاج شريف۔

پروفيسرصيب:۔ شکر دے الحمدلله ، تاسو څنګه يې (مياصيب دَ هغے پيژندګلو نورو سره هم کول غواړي خو هغه زلفو له څنډ ورکړي او په نازوادا بنګلے ته ورشي )

مياں صيب (شاهد ته ) شاهده څنګه يې ۔ دومره موده چرته وې ، چې ميدان دې پورو نو اوتختيدے او داسے لاړے چې په دوربين کښې هم نه ښکاريدے ۔

شاهد:۔ دَ رزق مسله ده مياں صيب ۔ نوستلے دانے راغونډه وو۔

مياں صيب :۔ څۀ کاروبار کوے ۔

شاهد :۔ زۀ په دووبۍ کښې سيکورټي ګارډ يم ۔

مياں صيب (چودهري سکندر ته) سکندر، شاهدصيب زما زوړ واقف کار او دوست دے ۔ ډير ازاد خياله او بُرد باره انسان دے۔ ماله به کله کله کلب ته راتلو ، ډرنک به مو هم کوو او شغل هم ۔ که د دۀ څۀ کاروي نو په پټو سترګو يې کوه او که ته يې نشې کولے نو ماته وايه ۔

چودهري صيب:۔ ډيره ښه ده صيب ، چې څنګه تاسو وائی ۔

مياں صيب:۔ (پروفيسر ته ګوري) پروفيسر صيب ستاسو خبره ماسره

Pukhto.Net

په فون باندے سکندرسره کړے وه ـ ستاسو زمکه ، پلاټ
اګر چه مونږ آن ګراؤنډ نه دے لیدلے خو په کمپیوټر
باندے مو اوکتو۔ ډیر ښۀ سائټ دے او زمونږ دَ
ضرورت عین مطابق دے ـ زۀ تاله مبارکی درکوم
چې ستاسو کار اوشو ـ

پروفیسر صیب (مسکې شی ) جی شکریه ، مهربانی ـ

میا ں صیب ـ دیکښے دَ شکریے ضرورت نشته ـ مونږ ته دَ پلاټ
ضرورت دے او تاسو ته دَ پیسو ، دے ته ډیل ویلے
کیږی او په ډیل کښې مهربانی او شکریه نه وی ـ
بلکه اوچے ، صفا او نیغے پیغے خبرے وی(چودهری
صیب ته ) سکندر دوی خپل دستاویزات راؤړے دی ـ

چودهری صیب:۔ هاؤ جی د دوی دستاویزات ما چیک کړې دی ،

میاں صیب:۔ ښه پروفیسر صیب! تاته به دَ رول مطابق لس لاکهه
روپۍ دَ پلاټ رنټ ملاویږی ـ په دیکښے به دَ رول
مطابق کال په کال سلو پسې دویعنی دو فی صد
اضافه کیږی . . .تاخپله C.V راؤړے ده۔

چودهری صیب :۔ میاں صیب دوی کاغذونه ډیر راؤړے دی خو اصلی
کاغذونه یعنی تعلیمی اسناد پکښې نشته ـ

میاں صیب :۔ خیر که نشته راؤبه ړی . . .ته پروفیسر صیب خپل
ټول اسناد مونږ ته حواله کړه او ته بے غمه شه۔


www.pukhto.net



پروفیسر صیب:۔ ډیره ښه ده صیب ـ

میاں صیب(چودهری صیب ته ) شاهد څنګه راغلے دے ؟

چودهری صیب :۔ شاهد صیب تاسو سره دَ ملاقات خواهش لرلو۔
نور معلومات ماته نشته ؟

میاں صیب:۔ ته څۀ وایې شاهده (مسکے شی ) شغل کوے ؟

شاهد:۔ چی څنګه ستاسو خوښه وی صیب۔ تاسو سره ګولډ پیسز
(Gold pieces ) شته ؟

میاں صیب :۔ ګولډ پیسز ـ نشته البته ټیچی کیس دَ روپونه ډک دے

شاهد:۔ که ستاسو خوښه وی نو فی الحال به دا لوبه په بادامو اوکړو۔

میاں صیب :۔ ډیره مِ خوښه ده ـ

(چودهری صیب دَ کور نه بادام راؤړی په میز اړدی او وائی )" دا واخلی۔
ستادَ لوبے او مقابلے سامان ، نورتاسو پوهـ شی او
ستاسو کار۔

(شاهد په میز پراتۀ بادامو نه مُوتی ډکوی او دَ یو ، دوه ، درے او څلور
په شکل کښې اړدی ـ چې لوبه شروع شی نو شاهد
ترینه دَ پنځه لس زره درے مقابلے اوګټی او وائی )
"میاں صیب روپۍ را اوباسه "۔

میاں صیب :۔ یریږه مه ، روپۍ دا دی پرتې دی لوبه کوه ـ

شاهد:۔ نه میاں صیب مخکښے دغه راکړه بیا به وړاندے ځو۔

میاں صیب ( دَ روپو بنډل چودهری ته اولی ) سکندره دے نه ده له خپلې

روپۍ ورکړه "۔ (چودهری صیب دَ بنډل نه پنځوس زره روپۍ بیلوی، لاس کښې یې نیسی او پنځوس زره میا ں صیب لـه ورکـړی ۔ میاں صیب روپۍ په سوټ کیس کښې اړدی ۔ چودهری صیب پنځه څلویښت زره روپۍ شاهد له ورکوی او پنځه زره میاں صیب له واپس ورکوی ۔ میاں صیب پنځه زره روپۍ لاس کښې نیسی ، یوه شیبه پس یې چودهری صیب لـه ورکوی او ورتـه وائـی "دا واخله پـه دے نوکرانو یې تقسیم کړه "۔ دے نـه پس بیا مقابله شروع شی میاں صیب په جلال کښې راشی او وائی "دیرش لاکهه دَ مرزا په نوم"

شاهد:۔ دیرش لاکهه دَ الله په نوم ... داؤ شاهد اوګټی او میاں صیب ته وائی "دیرش لاکهه روپۍ را اوباځه"۔

میاں صیب : ۔ یریږه مه ، روپۍ ډیرے دی ۔

شاهد:۔ چې ډیرے دی نو را اوباځه او په میز یې کیږده ۔

میاں صیب :۔ زۀ بـه روپۍ را اوباځم خو ستا روپۍ څۀ شوے ، دیرش لاکهه پوره کړه ۔

شاهد :۔ دا تۀ لا څۀ وائی ؟

میا ں صیب :۔ زۀ دا وایم چې تـا دَ دیرش لاکهه روپو داؤ لګولو نو دَ کـلـب دَ اصولو مطابق تاسره دیرش لاکهه پکار دی ۔


www.pukhto.net



مـاسره خـو شتـه خـو کـه تا دا داؤ بائیللے وو نو د کوم ځائے نه به دے راکولے ۔

شاهد:۔ دا واخله یو لاکهـ پنځه څلویښت زره روپۍ ۔

میاں صیب ( هغـه روپۍ اخلی او پـه تیچی کیس کښې اړدی) بقایه پوره کړه او ماته یې اوښایه چې دیرش لاکهه درکړم او کـه لـس لاکهـه اخلـے نـو درکوم ، شل لاکهه به ربوه کښې ورکړم ۔

شاهد:۔ واه بهئی واه پردی اوښان خیرات کوې ؟

میاں صیب :۔ بیا پیسے پوره کړه چې تولے درکړم ۔

شاهد:۔ دا خو دَ کلب اصول نه دی ، تۀ زیاتې کوې ۔

میاں صیب :۔ زیاتې نه کوم دا دَ کلب اصول دی ، ځان پوهـ کړه ۔

شاهد (چودهری صیب ته) اوس به څۀ کوو ؟

چودهری صیب ( پاځی) تـه دے بلے کمرے ته راشه چی څۀ خبره جوړه کـړو ۔ پـروفیسـر صیـب تـاسو هم راځی ۔ ( درے واړه کـمرے ته ورځی) "داسے بـه اوکـړو شاهد صیب ! چی پنځلس لاکهه روپۍ به زۀ درکړم او پنځلس لاکهه به تاسو دواړه په شریکه پوره کړی ۔

پروفیسر صیب :۔ زۀ پکښے نه یم چودهری صیب ، ماسره هیڅ نشته۔

چـودهری صیب:۔ پروفیسر صیب ! څۀ اوکړه ۔ مونږ ډیر په مشکله کښې ګیر یو ۔ ګوری دیرش لاکهه روپۍ رانه اوچ په

اوچه ځی ۔

پروفیسر صیب:۔ زۀ څۀ اوکړم ماسره خو هیڅ نشته البته دوه لاکهه روپۍ راسره دَ چا امانت پرتې دی ۔

چودهری صیب:۔ فی الحال دغه راؤړه نورے دیارلس لاکهه به شاهد پوره کړی ۔

شاهد :۔ بالکل ټیک ده ۔

چودهری صیب :۔ پروفیسر صیب تاسره اوس څومره دی ۔

پروفیسرصیب:۔ ماسره ټولے اتهه زره روپۍ دی ۔

چودهری صیب:۔ دا اوس راکړه نورے دوه لاکهه به صبا راؤړے ۔

پروفیسر صیب:۔ چې دا تاله درکړم نو خرچه به دَ کومے کوم ۔

چودهری صیب دَ هغه دَ لاسه اتهه زره روپۍ اخلی ۔ زر روپۍ واپس ورکوی او وائی "دا زر روپۍ واخله ستا خرچه شوه ، راځۍ چی اوس میاں صیب لـه ورشو او لږ وخت ترینه واخلو " (هغوی ټول میاں صیب له ورځی)

چودهری صیب :۔ میاں صیب ! صبا لـه بـه تاسو تـه دیرش لاکهه روپۍ پوره شی ۔

میاں صیب ( پـه غصه ) سکندره دا کمرشل ډیل نه دے ۔ دَ نغدو او دَ کیش خبره ده ۔ دیکښے څوک وخت نه ورکوی ۔

چودهری صیب :۔ میاں صیب پلیز ! زما په سترګو ورته صبا پورے اوګورۍ ۔


www.pukhto.net



میاں صیب :۔ ټیک ده خو پـه یو شرط ، کـه صبا له په دیرش لاکهه کښې دَ سلو لوټ هم کم وو نو ګورۍ ماته به منظور نه وی ۔

شاهد :۔ ټیک ده میل صیب ! صبا له به انشاء الله پوره شی ۔

میاں صیب ( خپل ټیچی کیس اوچتوی او په تلو تلو کښی وائی )"پروفیسر صیب صبا له خپله C.V ځان سره راؤړه چې ستا کار ختم کړو ۔ ( هغه اوځی ) ۔

پروفیسر صیب :۔ ډیره ښه ده صیب ۔

شاهد:۔ o.k ، زۀ بـه هم درنـه لاړ شـم چودهری صیب چی دَ روپو څۀ غم اوکړم ( هغه اوځی )

چودهری صیب:۔ څه ورځه په مخه دے ښه ۔

پروفیسر صیب:۔ چودهری صیب ته په دے دیرش لاکهه روپو کښې زما برخه شته ؟

چودهری صیب :۔ بالکل شته خو کوشش کوه چی ځان سره درے لاکهه روپۍ راؤړے چی دَ میاں صیب کور پوره کړو او خپلی روپۍ ترینه واخلو ۔

پروفیسر صیب :۔ درے لاکهه نشته البته دوه لاکهه به راؤړم ۔

چودهری صیب :۔ پروفیسر صیب دَ میاں صیب په نظر کښې ستا مقام ډیر اوچت دے ۔ او ماتـه یې ویلی دی چی په پیښـور دَ خپـلی پراپرتی او کاروبار سپرویژن تاسو ته

حواله کوی ۔

پروفیسر صیب:۔ میاں صیب ته زما له خوا اووایه چې ما او زما یو سړے په ټاور کښې سیکورټی ګارډ واخلی ۔

چودهری صیب (خاندی) ته هم ښه ساده سړې یې پروفیسر صیب ۔ زهٔ دے اسمان ته خیژوم او تا په زمکه نوکے ښخے کړی دی ۔ څه په دے به بیا خبرے اوکړو صبا سحر وختی راشته ، څه په مخه دے ښهٔ ۔

★★★★★★★★★★★★



www.pukhto.net



ایکټ:۳   سین :۱   وخت :شپه ، دولس بجے

ځائے ۔   دَ پروفیسر صیب کور

کردار:۔   پروفیسر صیب ، خدیجه بی بی

پروفیسر صیب کورته رسی ... دروازه ډبوی ۔

خدیجه بی بی :۔ څوک یې ...یَه درغلم ...داسے معلومیږی چې دَ عالم خان پلار راغے ۔ خیر خدایه خیر ...تهٔ یې په خیر راولے خدایه (ورله ورځی) ۔ څوک یې ۔

پروفیسر صیب:۔ زهٔ یم دَ عالم خان مورے ۔ ورلرے کړه ۔

خدیجه بی بی (ورلرے کوی) دَ عالم خان پلاره په خیر راغلے ...راځه ، راځه.

پروفیسر صیب ( کورته ننوځی ) ما خو وے ته به اوده یې ۔ دا اوګوره دولس بجے دی ۔

خدیجه بی بی ۔ خوب چرته راځی دَ عالم خان پلاره ۔ کله نه چې دَ کوره اوتے یې نو دَ هغه وخت نه مِ په خیال کښې ګرځے ۔ دے ورته مِ سترګې نیولی دی چې دا دے راغے او یې دادے راغے ...ډوډۍ دے خوړلے ده ؟

پروفیسر صیب:۔ هاؤ ډوډۍ مِ خوړلے ده ۔

خدیجه بی بی :۔ که زړهٔ ته دے کیږی چی درله راؤړم ۔

پروفیسر صیب:۔ نه موړ یم ، زړهٔ ته مِ نه کیږی ۔

خدیجه بی بی :۔ دَ عالم خان پلاره ، مشر صیب سره دے خبرے اوشوے۔

پروفیسر صیب :۔ هاؤ ، خبرے مِ ورسره اوشوے ، مبارک شه دَ عالم خان مورے کار اوشو ۔

خدیجه بی بی .کار اوشو ؟ یه خدایه ستا ډیر ډیر شکردے چې تا په مونږ غریبانانو رحم اوکړو ۔

پروفیسر صیب:۔ دَ عالم خان مورے یوه خوش خبری بله هم ووره او هغه دا چې دَ لاکهونو مقابله مِ گټلې ده ۔

خدیجه بی بی :۔ دَ عالم خان پلاره ته رشتیا وایے ؟

پروفیسر صیب:۔ ماتاته چرے هم دروغ نه دی ویلے ۔ په روپو به دے مړه کړم ۔ دا کټ به درته دَ لوټونو ډک کړم بیا تړوله ورځ او ټوله شپه پکښې زغړه رازغړه چې ستومانی دے اوځی او وینه دے په غور ځنګ شی ۔

خدیجه بی بی :۔ که تهٔ رشتیا وایے چې هغه هلکان خبرکړم چې خوشحاله شی ۔

پروفیسر صیب:۔ نه هغوی لامهٔ خبروه ۔ لږ صبر اوکړه چې دا هر څهٔ مکمل شی او تاله جولۍ ډکه کړم نو بیا ئے خبر کړم ۔

خدیجه بی بی :۔ دَ عالم خان پلاره ! زما نور شوک دی خو دغه درے لیلی او دَ هغوی واړه دی او هغه یوه جینۍ شبانه ده۔ خیر هغه خو نه خبروم ځکه چی هغه بیماره ده ۔

پروفیسر صیب:۔ څه چی ښنګه دے خوښخه وی خو مشکله ده که


www.pukhto.net



راشی ځکه چې یو خو دَ هغوی خپلې نوکرۍ دی ، بلــه دا چې هغوی دَ بنګلو خوند اخستے دے ،دے وړوکی کور ته په راتلو به ورته ځان بد ښکاره شی ۔

خدیجه بی بی :۔ په دے بهانه به هغه نواسه نواسی به لږ اووینو او دَ نظر تنده به پرے ماته کړو ۔

پروفیسر صیب:۔ څه ښنګه دے خوښخه وی ، ستا مرضی ۔

★★★★★★★★★★★★★★★

ایکټ:۳ سین:۲ وخت: یږلس بجے

ځائے:- دَ چودهری صیب کور

کردار:- پروفیسر صیب، چودهری صیب، میاں صیب، شاهد

(پروفیسر صیب دَ چودهری صیب بیټهک کښې ناست وی ۔ چودهری راځی)

چودهری صیب (هغه له لاس ورکوی) پروفیسرصیب په خیر راغلے ۔ لاره کښې څۀ تکلیف خو نه وو ؟

پروفیسر صیب:- نه چودهری صیب هیڅ تکلیف نه وو۔ په خیر را اورسیدم (هغه دَ جیب نه روپۍ را اوباسی او هغۀ له یې ورکوی) "هغه پردے امانت مِ درله راؤړو"

چودهری صیب:- دا څومره دی ؟

پروفیسر صیب:- دَ وعدے مطابق مِ دوه لاکهه روپۍ راؤړے ۔

(شاهد راځی، هغوی سره لاس ملاوه وی او کینی)

چودهری صیب :- شاهده تا روپۍ راؤړے ؟

شاهد:- هاؤ چودهری صیب (هغه دَ جیب نه دَ روپو لفافه را اوباسی او هغه له یې ورکوی) "دا واخله"

چودهری صیب روپۍ لاس کښې اونیسی او کورته ځی ۔ یوه شیبه پس بیا راځی او هغه ته وائی "شاهده تا ماله څومره روپۍ راکړی دی؟



www.pukhto.net



شاهد:- اتهه لاکهه ۔

چودهری صیب:- وَه دَ خدائے بنده زما خو دے وار خطا کړو ما وے که دیارلس لاکهه دے راکړی دی ۔

شاهد:- سوری چودهری صیب ماسره هم دغه وی او تاله مِ درکړے ۔ یو سړی راسره دَ پنځه لاکهه روپو وعده کړے وه خو چی وخت دَ مدعا راغی نو هغه انکار اوکړو ۔

چودهری صیب:- یعنی ستا او دَ پروفیسر صیب ماسره لس لاکهه روپۍ شوے ۔ دیکښے خو پنځه لاکهه روپۍ کمے دی دا به څۀ کوو۔

شاهد:- چودهری صیب، میاں صیب پیسے نه شماری، پیسے به ته شمارے، ته داسے اوکړه چې دے روپو نه پنځلس ګیډۍ جوړے کړه او هغه ته وایه دا پنځلس لاکهه روپۍ دی ۔

چودهری صیب:- ټیک ده دا کار به زۀ اوکړم(دے سره هغه کورته روان شی) دَ هغه دَ تلو نه پس یو ملازم راځی او دَ میاں صیب دَ راتلو خبر ورکوی او دَ هغه ټیچی کیس په میز اږدی ۔ دَ هغه راتلو سره پروفیسر صیب او شاهد هغه ته پاځی ۔ هغه په افسرانه موډ کښې راشی او په صوفه کښې کینی ۔

میاں صیب :- پروفیسر تاسو C.V راؤړه ۔

پروفیسر صیب:۔ هاؤ صیب هر څۀ مِ راؤړل ۔

میاں صیب:۔ ډیر ښۀ "چودهری صیب راځی هغه سره په عاجزی روغ جوړ کوی او یوخوا ته په عاجزۍ سره اودریږی"۔

میاں صیب:۔ دَ پروفیسر اسناد دے چیک کړل ۔

چودهری صیب:۔ نه صیب لامِ نه دی چیک کړے( هغه دَ پروفیسراسناد راخلی او یو یو چیک کوی)

میاں صیب پروفیسر صیب ستا دَ زمکے دَ انتقال کاغذونه مو دوبۍ ته اولیږل ، مبارک شه کار دے اوشو (چودهری صیب او شاهد لاسونه پړقوی)

پروفیسر صیب :۔ مهربانی صیب ، ډیره شکریه ۔

میاں صیب :۔ تاتـه بـه دَ لـس لاکهـه روپو چیک او دَ دریو میاشتو ایډوانس رنټ دَ اختر نه پس دَ چیک په شکل کښې پـه خپـل کـور کښـې مـلاؤ شـی او ستـا دَ پاره یوه خوشخبری بله او هغه دا چې په پیښور کښې زمونږ دَ پراپرتۍ دَ سپرویژن دَ پاره مونږ دَ سپروائزر په حیث ستا انتخاب اوکړو ۔

چودهری صیب :۔ میاں صیب ، پروفیسر صیب په خپل میرټ اوشو او که دیکښے دَ چا سفارش شامل دے(چودهری صیب مسکې شی)

میاں صیب (سنجیده شی) سکندره پروفیسر صیب په خپله هم ډیر



www.pukhto.net



ښــــــــــــه سړے دے خو د دۀ سفارش هم شوے دے ۔ په اصل کښی زما بیگم صیبه هم پښتنه ده او دَ هغے تعلق هم پیښور سره دے ۔ کیدیشی هغے چرته لیدلی وی ۔ دا هم کیدیشی چې دوی دواړه رشته دار وی خو ماته خبره نه ښکاره کوی ۔ د دے هم امکان شته چی دَ پروفیسر صیب شاګرده پاتے شوې وی ۔ بهرحال هغه دَ پروفیسر صیب نه ډیره متأثره ده ۔

چودهری صیب:۔ میاں صیب دوی سره دَ تنخواه او مراعات خبره هم اوکړه چی تسلی یې اوشی ۔

میاں صیب:۔ شایددا خبره ما کړی وی خیریو ځل به یې بیا اوکړم۔ دَ پروفیسر صیب تنخواه او مراعات بیگم صیبے په خپله ټاکلے دی ۔ او زما نه پرے باقاعده دستخط اخستے دے ۔ پروفیسر صیب تـه بـه اویا زره روپۍ تنخواه ملاویږی ۔ پنځه زره روپۍ به ورته دَ یوټلیټی بـل دَ پـاره اولـس زره روپۍ بـه ورتـه هاؤس رنټ ملاویږی ۔ کال پـه کـال بـه ورته پنځوس زره روپۍ میډیکل الاؤنس ملاویږی ۔ کال په کال به مراعاتو کښی 2 فی صد اضافه کیږی ۔ دے نه علاوه دوی له بـه دَ خپـل دفتـر دَ پـاره سیکورټی ګارډ او ګاډے او

ډرائیور ورکړے کیږی ۔ دا ټوله خرچه به کمپنی
برداشت کوی ۔

(چودهری صیب او شاهد لاسونه پړقوی)

چودهری صیب:۔ پروفیسر صیب دَ میاں صیب شکریه ادا کړه ۔

پروفیسر صیب پاڅی او دَ میاں صیب لاسونه ښکلوی ۔

میاں صیب ، پروفیسر صیب یوبل خواست هم کړے دے ۔ که تاسو
پرے لږ غور اوکړی نو ډیر به ښه وی ۔

میاں صیب:۔ حکم کوه پروفیسر صیب ۔ ته پروفیسر یې ۔ زمونږ دَ
ټولو استاذ زمونږ دَ قوم دَ بچو معمار یعنی معمارِ قوم ۔

چودهری صیب:۔ میاں صیب ، پروفیسر صیب دوهٔ نورو مراعاتو نه
علاوه دَ دوو سیکورټی ګارډ دَ نوکری هم خواستګار دے ۔

میاں صیب :۔ ولی نه ، هغه خو دَ پروفیسر صیب حق دے ۔ پروفیسر
صیب دَ هغوی C.V راکړه ۔

پروفیسرصیب :۔ هغه مِ چودهری صیب له ورکړے ده صیب ۔

میاں صیب :۔ ډیر ښه دے کړی دی ۔ پروفیسر صیب ! دَ اختر نه پس
به هر څه کلیر شی ۔

پروفیسر صیب ماته ستا غوندے دَ نیک سیرته ، مخلص ، ساده او
ایماندار انسان ضرورت دے ۔

چودهری صیب :۔ میاں صیب : پروفیسر صیب یو ریکوسټ بل هم
کړے دے او هغه دا چی دوی ماشاء الله سخ کال سره دَ



www.pukhto.net



خپلې بی بی حج شریف له هم روان دے ۔ دوی وائی
که دَ حج په وجه دوی سعودی عرب کښې لږ لیټ
شی نو دَ رول خلاف ورزی خو به نه وی ؟

میاں صیب (خاندی) پروفیسر صیب ته هم ښه ساده سړے یې ۔ تهٔ دَ
رول دَ خلاف ورزی خبره کوې ؟ تهٔ خو ډیر خوش
قسمته انسان یې چې دَ تقرری نه روستو حج شریف
له روان یې ۔ تاته او ستا بی بی صیبے ته به دَ حج
دواړه طرفین ټکټ او دَ حج ټوله خرچه ملاویږی خو
په یو شرط ۔

پروفیسر صیب ( مسکې شی ) څهٔ شرط صیب ؟

میاں صیب :۔ شرط دا دے چې حج له لاړ شی او بیت الله شریف ته
اودریږی نو زمونږ ټولو دَ کامیابی دَ کاروبار او دَ
کمپنی دَ کامیابی دَ پاره به دعا کوی دا شرط تاته
منظور دے ۔

پروفیسر صیب ( مسکې شی ) واه میاں صیب ، دا هم څهٔ شرط دے ۔
چی تاسو ماسره دومره احسان اوکړی نو زهٔ به تاسو
په دعا کښې څنګه هیرکړم ۔

میاں صیب:۔ دے نه بے غمه اوسه ، تاته به دَ حج الاؤنس دَ تلو نه
مخکښے ملاویږی ۔

پروفیسر صیب:۔ شکریه ، مننه ، مهربانی ۔

میاں صیب :۔ ښه سکندره پیسے پوره شوے ؟

چودهری صیب:۔ هاؤ صیب دا دے راؤړم یې (هغه کورته ځی او دَ روپو ډک کیس راؤړی):۔ دا دے صیب ۔

میاں صیب :۔ دا دیرش لاکهه پوره دی ؟

چودهری صیب :۔ مانه دی شمارلے صیب ۔

میاںٖ صیب:۔ ښه داسے اوکړه چی بهر په ګاډی کښې زما سیکرټری ناست دے هغه را اوغواړه چی دا اوشماری ۔

چودهری صیب:۔ دا به زه اوشمارم صیب ۔

میاں صیب :۔ نه دا روپۍ به هغه اوشماری او زما روپۍ به تۀ اوشمارے ۔

شاهد :۔ میاں صیب! که دا روپۍ چودهری صیب اوشماری نو . . .

میاں صیب No، no دا به هغه شماری او سکندر به زما رقم شماری . . .داسے معلومیږی چې ته ماسره څۀ فراډ کوې ۔ ولی پیسے پوره نشوے ؟

شاهد:۔ (په رومال خپله خوله اوچوی) نه صیب . . .دیکښے پنځه لاکهه روپۍ کمې دی ۔

میاں صیب :۔ غلا درکښې را اووته کنه ۔ ماوے چې تا کښے تیاره ده۔

شاهد:۔ تیارۀ خو بس دا ده صیب چې دیرش لاکهه پوره نشوے ۔ پنځه لاکهه پکښې کمے دی ۔

میاں صیب :۔ او ماڅۀ ویلے وو پروفیسر صیب ؟



www.pukhto.net



پروفیسر صیب:۔ تاسو ویلے وو که دیرش لاکهه کښې دَ سلو یو لوټ هم کم وو نو خبره اونشوه ۔

شاهد :۔ میاں صیب ۔ تاسو مونږ له پنځه لاکهه کمے راکړی ۔

میاں صیب :۔ چرے هم نه۔ زۀ به تاله پوره دیرش لاکهه درکوم خو خپلی روپۍ پوره کړه ۔ زما ژبه دَ انګریز ده دَ مسلمان نه ده ۔

چودهری صیب:۔ میاں صیب تاسو مونږ له لږ وخت راکړی ۔

میاں صیب :۔ وخت ؟ څومره وخت ؟

چودهری صیب:۔ مونږ لږه مشوره کوو صیب شاهد صیب تاسو او پروفیسر صیب دواړه راشی دے کمرے ته چی خبره جوړه کړو . (هغوی کمرے ته ورځی) . . .داسے به اوکړو چی دا پنځه لاکهه روپۍ به تقسیم کړو ۔ ته به څومره پوره کړے پروفیسر صیب ۔

پروفیسر صیب :۔ ماسره هیڅ نشته ۔

چودهری صیب :۔ او ته شاهد صیب ؟

شاهد :۔ زۀ به دوه لاکهه روپۍ پوره کړم ۔

چودهری صیب :۔ ټیک ده ، دولاکهه ته راؤړه ، دوه لاکهه به زۀ کړم او یو لاکهه به پروفیسر صیب راؤړی ۔

پروفیسر صیب:۔ چودهری صیب ته زما په خوله ولے یقین نه کوې۔ دا دوه لاکهه چې مِ درکړے ، دا هم دَ چا امانت وو۔

چودھری صیب:۔ نه پروفیسر صیب ، لږ ځان اوګره وه ۔ تهٔ ګوره کنه
که یو لاکھ روپۍ ته پوره نکړې نو ډیر لوے نقصان
به راته ملاؤ شی ..ښه صبا نه بله ورځ یعنی دَ جمعے
ورځ نیته شوه ۔ راځی چی کینو ( هغوی تول بیتهک
ته راځی )
میاں صیب :۔ ښه څهٔ مو ترے جوړه کړه ؟
چودھری صیب:۔ میاں صیب ! پروفیسر صیب وائی چی مونږ له
دوه ورځے مهلت راکړه ، ستاسو ځنګه خوښخه ده ۔
میاں صیب:۔ که پروفیسر صیب وائی خو تیک ده دَ جمعے په ورځ به
زهٔ بیا راشم ستاسو پنځویشت لاکھه روپۍ ماته را
اورسیدې او لس لاکھه به نورے هم راؤړی ۔
شاهد:۔ لس لاکھه نه ، پنځه لاکھه ۔
میاں صیب :۔ تاته پته ده چې تاسو ماله څومره نقصان راکړو ۔ ستا دَ
پاره ما یو اهم میټنګ کینسل کړو او دلته راغلم ۔ دا
پنځه لاکھه روپۍ تاسو دَ پاره Penalty ده ۔
چودھری صیب:۔ اوبه شی میاں صیب دَ جمعے په ورځ به مونږ تاسو
ته لس لاکھه روپۍ اوشمارو ۔
میاں صیب:۔ دَ جمعے پورے به ستاسو روپۍ ماسره امانت پرتې وی۔
(هغه دواړه کیسونه اوچتوی او روانیږی)۔ دَ هغه دَ
تلونه پس شاهد هم پاځی او وائی "دا څهٔ په لانجه


www.pukhto.net



کښې ګیر شو خدایه"
چودھری صیب :۔ شاه صیب ، دَ روپو بندوبست خامخا اوکړه ګوری،
ډیر لوے نقصان به راته ملاؤ شی ۔
شاهد:۔ زمانه بے غمه شی، زهٔ به ځان پوره کړم خو تاسو هم څهٔ
اوکړی ۔ زهٔ درنه لاړم ۔ سلام علیکم (بهراوځی)
چودھری صیب: پروفیسر صیب ، تاسره دوه ورځے دی په دیکښے کم
از کم یو لاکھه روپۍ پوره کړه ۔
پروفیسر صیب:۔ زهٔ به کوشش کوم چی څهٔ ناڅهٔ اوکړم خو زماد دے
کار به څه اوشی ۔
چودھری صیب:۔ ستا کار اوشو کنه ۔ تاته خو میاں صیب تهوله خبره
اوکړه ۔
پروفیسر صیب:۔ زهٔ خپل کور والو ته څهٔ اووایم ۔
چودھری صیب:۔ تهٔ هغوی له مبارکی ورکړه او ورته وایه چی دَ اختر
په څلورمه ورځ به تاته چیک ملاؤ شی ۔
پروفیسر صیب:۔ (مسکے شی)تینک یو چودھری صیب۔ اوس مِ پوره
یقین اوشو ښه زهٔ به هم درنه لاړ شم ۔
چودھری صیب (خورشید ته) راشه هلکه! پروفیسر صیب پسرور
پورے په موټر سائیکل اورسوه ۔

★★★★★★★★★★

ایکټ:۳ سین:۳ وخت:ماښام

ځائے:۔ دَ سیالکوټ نه دَ پیښور په بس کښې ۔

کردار:۔ پروفیسر کمال ۔

پروفیسرصیب ګاډي کښې ناست وی او ځان سره خبرے کوی ...خود کلامی "اوس به دَ ژوند په خوږو پو هـ شم ۔ ...دا کامیابی شایدَ هغه ذکر، تسبیحاتو او دعاګانو نتیجه ده چې مابه په تهجدو کښې غوښته ... چې ټاور اولګی نو لکه دَ روپو خزانه چې زما کورته راغله ۔ روپۍ په روپۍ او نوکری په نوکرۍ ...او زۀ په نوکرۍ څۀ کوم ...زما خپل پنشن هم ډیر دے خو که دغه ظالمان دَ خدای نه اویریږی، په زړۀ یې دَ رحم اوبه توې شی او ماله خپل حق راکړی ... چې دا ټاور اولګی او ماته پکښے خپل جاب راکړې شی نو زۀ به دا جاب خپل یو هلک ته پریږدم ...ما دَ پاره خپل پنشن هم ډیرے دے ۔ بس دے نورے نوکرۍ نشو کولے ۔ یو حج شریف مِ ارمان دے ... دا به هم انشاء الله اوشی او چې دَ حج نه واپس شم نو امید کوم چې پنشن به هم کلیر شوے وی ۔ بیا به دَجمات یو ګوټ اونیسم او الله الله به کوم ۔ اوس خو دَ خیره هلکان



www.pukhto.net



ټول نوکران دی ۔ دَ هغوی دَ غم نه خلاص یم ۔ نور هغوی پو هـ شه او دَ هغوی کار ۔ کله کله به دغه نواسه، نواسو له ورځم هغوی سره به شیبه مشغولیږم او بیا به خپل کورته راځم۔ نور دَ دنیا کارونه نشم کولے ... دنیا ډیره خود غرضه ده ۔ تۀ به ژاړے، فریادونه به کوې او خلق به درپورے خاندی ۔ چې چاته خپله مجبوری بیانوے نو هغه به ستا دَ خولے نه خبره واخلی او په خپله مجبوری به شروع شی ۔ ...دا هم کیدیشی چې که وخت وفا اوکړه نو یو کتاب، دوه به اولیکم او دَ خپل ژوند روداد به پکښے بیان کړم ... خو څۀ پرے ؟ کتاب به ګوری څوک ؟ ۔ ماپنځه، شپږ کتابونه اولیکل نو څۀ پرے ۔ په لاکهونو روپۍ مِ پرے لګے کړے، خواری، محنت مِ اوکړو خو هیڅ ترینه جوړه نشوه ۔ خپلو دوستانو او ملګرو له مِ ویړیا اولیږل ...هغوی ته کتابونه اورسیدل خو ماته دَ هغوی له خوا هیڅ خبر رانه غی۔ ...نه یې دَ وصولۍ خبر راکړو نه یې خپل تاثرات را اولیږل ... او چې ما ورته شو شو ځله فون اوکړو او دَ هغوی نه مِ دَ کتابونو په حقله دَ هغوی تاثرات اوغوښتل نو یو صیب له وائی چې "ما لا کتلے نه دے

خو چې تاسو لیکلے دے نو ښه به وی " بل وائی "یره
صیب ماسره وخت نشته " ـ یو بل صیب په دے
ټولو ورواړوله ، هغه وائی "یره پروفیسر صیب ! خفه
کیږه مه خو ستا دَ زړهٔ زور ډیر دے ـ په دے عمر کښې
دَ دنیا نه دَ اخرت غم کوه " . . . دا دور دَ پیسے او مرتبے
دے ـ دَ موټر او دَبدبے دے ـ چې ماته خپل دفتر ،
ګاډے ، ډرائیور او خپل سیکورټی ګارډ ملاؤ شی ـ
او مخکښے روستو راپسې راروان وی نو بیا دے زړو
یارانو سره به یو ملاقات کوم او خپل Status به ورته
ښایم ـ ته ګوره چې بیا زما کتابونه ګوری او که نه ـ
(دے سره هغه په خندا شی . . . او تر ډیر ساعته پورے خاندی
. . . دَ څېنو سورلو خوپرے دَ لیونی ګمان راشی ) ـ

★★★★★★★★★★★



www.pukhto.net



**ایکټ ۳:** **سین :۴** **وخت :مازیګر**

**ځاے :ـ** **دَ پروفیسر صیب کور**

**کردار:ـ** **پروفیسر صیب ، دَ هغه ځامن سالم خان ، سلمان خان ، عالم خان ، خدیجه بی بی ، دَ سلمان ښځه نسرین ، دَ سالم خان ښځه بُشریٰ ، دَ عالم خان ښځه سلمیٰ او نور واړه ماشومان ـ**

(پروفیسر صیب کره دَ هغه ځامن ، دَ هغوی بیبانے او دَ هغوی واړه بال
بچ راغلی وی ـ په کور کښې دَ خندا خوشحالۍ او دَ
وړو دَ شور زوږ اوازونه وی ـ دا شور ، د کور نه بهر هم
اوریدے شی ـ پروفیسر صیب چې کورته را اورسیږی
نو خپه نیولے هم شی او حیران هم ـ چې دَ ور په
چودو کښې خپل بال بچ او نواسه ، نواسو ته اوګوری
نو په مخ یې مسکا خوره شی ـ هغه دروازه ډبوی ـ
سالم خان او سلمان خان دواړه دروازے ته منډه کړی ـ
دواړه په شریکه ورلرے کوی ـ

سالم خان :ـ "بابا سلام علیکم " ( پلار له غاړه ورکوی )

سلمان خان :ـ باباسلام علیکم ( سالم خان لـه دیکه ورکوی او په خپله ورترغاړه وځی )

پروفیسر صیب :ـ وعلیکم سلام . . .وعلیکم سلام . (هغه واره په واره دواړه ښکلوی)دا دَ انځر ګلونه په روږه کښے ؟ یاالله ته

ځومره مهربانه یې چې ځلور ځلورنیم کاله پس مِ دَ
خپلو ځامنو مخونه اولیدل ۔

سالم خان ( خپلې ښځے بشریٰ ته)"راشه بشریٰ بابا ته سلام اوکړه ۔

سلمان خان (خپلې ښځے نسرین ته)راشه نسرین باباته په خپو پریوځه ۔

(بشریٰ او نسرین پروفیسر صیب ته سلام کوی او په خپو ورته پریوځی)

پروفیسر صیب :۔ نه ۔ نه بچو دیکښے ګناه ده( هغه واره په واره دَ هغوی
په سرونو لاس اړدی )

سالم خان :۔راځه بابا دے کټ کښې سمله چې په خپودرله زور کړم۔

سلمان خان :۔ خپے اوغزوه بابا ۔

پروفیسر صیب خپے اوغزوے ۔ یو ورله په یوه خپه زورکوو او بل ورله
په بلۀ اینګیاندے ورله په لاسونو زور کوی او دَ
هغوی بال بچ ورله په سر او اوړو ۔ (خدیجه بی بی
ورته په مسکا مسکا ببوځے وهی )

سالم خان :۔ بابا ، امی وې چې تاسو څۀ کار پسې سیالکوټ ته تلې وۍ؟

سلمان خان :۔ بابا کار اوشو ؟

پروفیسر صیب:۔ هاؤ بچو کار اوشو ۔ ستاسو دَ ټولو دے مبارک شی۔

بشریٰ :۔ بابا تاسو په دے عمر ، په دے ګرمۍ او په روژه کښې دَ کوره
ولے بهر اوځی ۔ خدائے مه که که څۀ چل درباندے
اوشی ۔

نسرین (په خپله لوپټه دَ هغۀ دَ مخ خوله اوچوی) " بابا سلمان ته به دے





ویلے وو ، ستا په ځائے به دے تلے وې ته اوګوره ټول
خولے خولے یې"

بشریٰ :۔ بابا سالم خان خوبالکل اوزګار وو۔ دۀ ته به دے ویلے وو دا
ځامن خلق څۀ دَ پاره غواړی ؟ چې اوس دے په کار
رانشی نو کله به راځی " ( په ډیره کښې ورله ګمنز وهی )

پروفیسر صیب:۔ باس بچو ، بس کړی ، ښه دمه شوم ۔

سالم خان (بُشریٰ ته) ته ورشه بُشریٰ بابا له دَ اختر جوړه ، پیزار او پټکی
راواخله که یې خوښ نه وی چې بدل یې کړم ورله ۔

سلمان خان (نسرین) ته ورشه نسرین دَ امی جامے او پیزار راؤړه ۔ ما خو
ورله ډیر په مینه اخستے دی خو چې د دے به
خوښځی وی که نه ما (بشریٰ او نسرین جامے ، پیزار
راؤړی او هغوی ته یې ښائی )

پروفیسر صیب (مسکې شی) دومره تکلیف مو ولے کوو جامے پیزار
خو زمونږ ډیر دے ۔ هسے مو پیسو له وزرے اوکړے ۔
دومره تاوان ؟

بشریٰ :۔ دے ته تۀ تاوان وائے بابا ۔ دا خو دے دَ ځوی او زما خاص
پیرزونه ده . بابا دا به دَ اختر په ورځ خامخا اغوندی ۔

خدیجه بی بی چې خپلې جوړے او پیزار ته اوګوری نو دَ خوشحالۍ
نه یې خوله وازه شی " واؤ ۔ ځومره خائسته جوړۀ
ده ۔ او دا پیزار" (دواړه سینې پورې نیسی ) "دومره تاوان

دے ولے کوو لورے“

نسرین :۔ دا څۀ تاوان دے مورے ۔ تۀ خو دے څوی ته دومره ګرانه یې
چې په کور کښې هر وخت ستا خبرے کوی ۔

سالم خان :۔ بابا امی راته ویلے چی تاسو سره موبائیل نشته ؟ مادرله
یو ښکلے کیمرے والا موبائیل اخستے دے ۔ تۀ ورشه
بُشریٰ بابا له هغه موبائیل راؤړه ۔

سلمان خان :۔ تۀ ورشه نسرین بابا هغه زما موبائیل راواخله ۔ دا مِ
اوس نیو برانډ ستاسو دَ پاره اخستے دې ۔

پروفیسر صیب (مسکے شی) زۀ په دوو موبائیلو څه کوم ۔ یو کافی دے ۔

سالم خان :۔ (شونډے چیچی) دۀ ته لاګوره ۔ بابا دا زما موبائیل جیب
کښې واچوه او دا بل کور کیږده ۔

سالم خان او سلمان خان دواړه یوبل ته په غصه ګوری ۔ دیکښے عالم
خان سره دَ ښځے راځی ۔

سالم خان (ځان سره وائی) دے لا چا خبر کړو ۔ دۀ باندے هم بوئیں
اولګیدو ۔

سلمان خان :۔ (ځان سره) راغی مشنډو اوس به مونږ خبرے ته نه
پریږدی ۔

عالم خان :۔ بابا جانی سلام علیکم ۔

سالم خان (ځان سره) ”اوه باباجانی “

سلمان خان (ځان سره) بابا نه باباجانی شو ۔


www.pukhto.net



پروفیسر صیب:۔ وعلیکم سلام ۔ څنګه یې بچې ۔

عالم خان :۔ امی جان سلام علیکم ۔

خدیجه بی بی :۔ وعلیکم سلام ۔ لوے شے بچے ۔

سلمیٰ :۔ باباجانی سلام علیکم ، امی جان سلام علیکم ۔

پروفیسر صیب وعلیکم سلام (په سر ورله لاس اړدی) څنګه لورے،

خدیجه بی بی :۔ وعلیکم سلام (هغه ښکلوی) لویه شې لورے ۔

پروفیسر صیب ۔ کینئ بچو ولے ولاړې ؟

عالم خان :۔ ستاسو دَ اجازت انتظار مو کوو بابا ۔

پروفیسر صیب :۔ په خپل کور کښې څوک اجازت نه غواړی بچو ،
کینئ ۔

عالم خان :۔ امی جان ولی بجلی نشته ؟

خدیجه بی بی :۔ نن دریمه ، څلورمه ورځ ده چې منوری رانه بجلی
کټ کړے ده ۔

عالم خان :۔ ولے خپل میټر نشته ؟

خدیجه بی بی :۔ نه کنه بچے ، دا دویم کال دے چی دَ واپډا بابوګانو رانه
میټر اوړے دے ځکه چی بلونه مو نه وو داخل کړے ۔

عالم خان (په غصه) تاسو هم داسے ښه یې ۔ ستاسو څوی په واپډا
کښې او هم دے سب ډویژن کښې SDEO دے او
تاسو نه ئے میټر اوړے دے ۔ تاسو زۀ ولے نه خبرولم ۔

خدیجه بی بی :۔ تا پسې خو څویه په خپله بورقه په سر دفتر ته

درغلے ووم خو ستا دفتر ته چا پرے نښودم نو واپس شوم ـ

عالم خان :ـ دا څوک بدتمیزه وو چې زما امی جان یې زما ملاقات ته راپرے نښوده ـ

خدیجه بی بی :ـ دَ دفتر چپړاسی وے چې خواښے او سخر ورسره ناست دې ـ

عالم خان :ـ ښه ښه ، هغوی خو پریږده څو په څویمه دفتر ته راخلاص وی ـ

سلمیٰ څهٔ دے اووے ؟

عالم خان :ـ زما مطلب دے چې خیریت معلوم ولو له راغې ـ دا خو تاسو یې چې دَ چا تپوس نه کوی ، هغه دَ جیب نه موبائیل را اوباسی او سپرنټنډنټ ته رنګ کوی او وائی "هلیو سپرنټنډنټ صیب تاسو چې دَ پروفیسر کمال دَ نوم کوم میټراوړے دے هغه اوس فورًا دَ اذان نه مخکښے مخکښے اولګوی" ـ

سپرنټنډنټ :ـ سر هغے باندے بلونه شارټ شوی دی او جرمانه شوے هم دے ـ

عالم خان :ـ بلونه او جرمانه دواړه ما معاف کړل ـ ته فورًا کارروائی شروع کړه ـ تاته پته نشته چې دا مشهور شخصیت او دَ ملک لوے سکالر زما والدِ محترم پروفیسر کمال



www.pukhto.net



خان دے ( دے سره هغه موبائیل بند کړی او وائی "ته ګوره چې اوس یې لګوی او که نه ، ښه باباجانی تاسو او امی جان څنګه یئ )

خدیجه :ـ بچے خوشحاله په دے شو چې تاسو ټول دَ خیره ، روغ ، جوړ او خوشحاله یئ او په غړیدلو سترګو مو یو بل اولیدو ،

عالم خان :ـ تهٔ داسے دَ مایوسئ خبرے ولې کوې امی جان ! مونږ خو کور کښې ټوله ورځ ستاسو خبرے کوو خو تاسو دَ چا تپوس قدرے هم نه کوئ ، هډو دا هم نه وای چې زمونږ څوک شته ـ

پروفیسر صیب :ـ عالم خانه بچے ! واړهٔ دے ولې رانه وستل ـ ډیرمِ یادیږی ـ

عالم خان :ـ واړهٔ راتلل خو روژه ده باباجانی ـ سلمیٰ وې چې شور ، زوږ به کوی هسے نه چې باباجانی او امی جان بد اوګنی ـ

پروفیسر صیب :ـ خدایې دے دَ نواسه نواسو نیکهٔ کړه نو هله به درته پته اولګی چې د دوی په شور ، زوږ کښې څومره خوند وی ـ

عالم خان :ـ باباجانی ! اوریدلے مِ دی چې تاسو څهٔ کار پسې پنجاب ته تلے وئ ـ

پروفیسر صیب ( مسکې شی ) هاؤ بچې دعا کوه چې دا کار اوشی نو دَ

خزانو مالکان به شی۔

عالم خان :۔ ولی باباجانی ! څهٔ کرچ په کښې شته څهٔ ؟ که اخوا دیخوا پکښې وی نو زه به په خپله ورشم۔

پروفیسر صیب:۔ نه بچے کار شوے دې ، هغوی ماله مبارکی راکړے ده او زه تاسو ټولو له مبارکی درکوم۔

ټول :۔ بابا ستادے مبارک شی۔

پروفیسر صیب:۔ بچو! دَ شاعری په دنیا کښې یوه مرغی ده چې هغے هما ورته ویلے کیږی۔ د دغه مرغی متعلق دا مشهوره ده چې دَ هغے خوراک او استوګنه بره په هوا کښې وی۔ زمکے ته نه راځی خو چې راشی او دَ هغے د سر سیورے په کوزیدو یا الوتو کښې دَ چا په سر پریوځی نوَ دهغه سره دَ بادشاهی دَ تاج مستحق شی۔ زما بچو! زما په سر دَ الله په مهربانی د دغه مرغی سیورے شوے دې۔ که تاج ملاؤ نشی نو دومره دولت به راشی چې زه به بادشاه شم ، ستا مور به ملکه ، تاسو به شهزادګان او ستاسو ښځے به شهزادګی شی (ټول خپلو ځانونو او یو بل ته ګوری)

عالم خان :۔ باباجانی ! تاسو خوب وینی او که په ویښه دَ خپل ارمان اظهار کوی۔

سلمیٰ :۔ ته چپ شه دَ نګینے پلاره ! باباجانی څومره خائسته او



www.pukhto.net



خوږے خبرے کوی۔

پروفیسر صیب:۔ دا خوب نه دے بچے او نه دَ ارمان اظهار دے بلکه دَ ارمانونو تکمیل دے۔ تهٔ ګوره کنه حساب کوه لس لاکهه روپی دَ زمکے ایګریمنټ اویازره روپی زما تنخواه ، پنځه زره روپی یوټیلیټی بل دَ پاره ، پنځوس زره روپی سالانه میډیکل الاؤنس ، لس زره روپی هاؤس رینټ ماهانه ، دوه سیکوریټی ګارډ دَ ټاور دَ پاره او دوه زما دَ دفتر دَ پاره۔ دے نه علاوه ګاډے ، ډرائیور او نور متعلقه چارجز به هم ملاویږی۔ دے سره سره به مونږ ښځے خاوند له دَ حج شریف دَ تلو راتلو خرچه او نور مراعات هم ملاویږی۔ دا ټوله خرچه په کمپنی ده۔ اوس تاسو او وایی چې دا بادشاهی ده او که نه ده ...ستا مور به ملکه شی او که نه ...تاسو به شهزادګان شی او که نه ...ستاسو ببیانے به شهزادګی شی او که نه ؟

ټول بے شک۔ بے شک ...خدایے دے اوکړی۔

عالم خان :۔ هسے باباجانی ...اینے هسے خبره کول ..یعنی ځان پوهول غواړم چې ستاسو خو دَ خیره لویه تجربه ده چې دے نوکری سره بله نوکری کیدیشی ؟

پروفیسر صیب وه کم عقله ! دا نوکری نه ده بلکه اعزازیه ده۔ چې

ستا په کور کښې یعنی په دے پنځه مرلے کور کښے ټاور اولګی نو دَ هغے دَ سیکورټی به څۀ خیال اوساتے ؟ هغه خو ستا کور دے ، پکښې اوسیږې ، دَ کور تحفظ خو به په هر حالت کښې کوې ۔ دیکښے نه کار شته ، نه پکښے ډیوټی شته او نه پکښے چاته سلام شته ۔

عالم خان :۔ باباجانی ! هسے خبره کوم ، چې تاسو دے نوکرئ له په زړۀ کښې څوک خوښ کړی دی ؟

پروفیسر صیب:۔ ماچی څوک خوښ کړی دی دَ هغوی نومونه مِ ورکړی دی ۔ دَ اختر په څلورمه ورځ به هغوی پسی آرډرونه راځی ۔

بشریٰ :۔ دا څوک دی باباجانی ۔

سلمی ( ځان سره وائی ) شونډے دے خاؤرے شه ، زما دَ خولے ټکی تا هم زده کړو "باباجانی "۔

نسرین:۔ باباجانی تاسو دَ چا نومونه ورکړی دی ۔

سلمیٰ ( ځان سره وائی ) دا زړه مِ وائی چې دے ببرسرے نه مِ دا ویښتۀ په دواړه لاسه اونیوے او شوړے شوړے مِ ترینه اوویستلے ۔

پروفیسر صیب:۔ دَ یونوم سالم خان دے او دَ بل نوم سلمان خان دے ۔

(بشریٰ او نسرین دواړه په خندا سلمیٰ ته ګوری ) "باباجانی زنده باد"

(سلمیٰ شونډے بوسے کړی او تندے تریو کړی )



www.pukhto.net



عالم خان ( په شونډو ژبه اووهی ) باباجانی زمانوم به دے ورکړے وو۔ د دوی ګوزاره کیږی خو زما بال بچ ګڼ دے ۔

پروفیسر صیب :۔ هاؤ ...خو په تامِ دا کار نشی پیرزو ۔ تابه زۀ ځان سره ساتم ۔

عالم خان :۔ زۀ پوهـ نشوم باباجانی ؟

پروفیسر صیب:۔ بچے ، ماته دَ کمپنی مالک په پیښور کښی دَ ټولو ټاورو کار حواله کړے دے ماله یې دَ یو اسسټنټ ساتلو منظوری هم راکړے ده زۀ به تا اسسټنټ اخلم ۔

عالم خان :۔ دَ اسسټنټ تنخواه به څومره وی ؟

(عالم خان مسکے شی او سلمیٰ ته اوګوری )

پروفیسرصیب:۔ دَ اسسټنټ او سپروائز په تنخواه کښې دومره فرق نشته۔ ماله به اویازره روپۍ راکوی او تاله به پنځوس زره ۔ دغه رنګے ستا او زما په الاونسز کښې ډیر معمولی فرق دے ۔ زما مطلب دې چې تا اوبوم او په هر څۀ دے پوهـ کړم نو بیا به درته خپل سیټ پریږدم او ته به فل انچارج شے ۔(سلمیٰ مسکے شی او نسرین او بُشریٰ ته ګوری )

عالم خان :۔ باباجانی زما چې خپله نوکری شته نو بله نوکری ورسره کولے شم ۔

پروفیسر صیب:۔ نه زه ماشوم یم او نه دومره ناپوهه یم چې زۀ ګینی

ستا دَ نوکری نه هڅو خبر نه یم دا هر څه ماته معلوم
وو او معلوم دی خو د دے هر څهٔ باوجود ما ستا نوم
دے دَ پاره خوښ کړے دے ۔ ماښام، مازیگر دَ یوے
گهنټې نیمے دَ پاره ورځه او بیا ترینه راځه ۔ گینې دَ
ورتلو ضرورت هم نشته په ټیلیفون یا موبائیل
ورسره رابطه ساته او مشوره ورکوی " عالم خان او
سلمیٰ "باباجانی زنده باد" ۔

دَ ماښام وخت نزدے وی ۔ خدیجه بی بی پوړ راخلی چی دَ روژه ماتی دَ
پاره یې اوغوړوی ۔ بُشریٰ ، نسرین او سلمیٰ ورمنډه
کړی دَ هغے دَ لاس نه پوړ اخلی او په برنډه کښې یې
خوره وی ۔ بیا هر یو خپله خپله میوه دانه او پیروزنه
راؤړی او په پوړې دَ پروفیسر صیب او خدیجے بی بی
مخے ته اږدی ۔ په دے څیزونو کښې د دنیا هر یو
نعمت موجود وی ۔ پروفیسر صیب چی په پوړ باندے
پراتهٔ دَ خدای نعمتونو ته اوگوری نو هغه منظر ورته
رایاد شی چی خدیجے بی بی ورته دَ روژماتی دَ پاره په
پوړ دَ مالړے پرچ او دَ اوبو جگ ایښودے وو، هغوی دَ
بانگ انتظار کوی چی دیکښے دَ عالم خان په
موبائیل رنگ راشی "

عالم خان (موبائیل اوچتوی) هیلو ، هاؤ ۔ هاؤ ۔ ډیره مهربانی ..اجازت


www.pukhto.net



دے ورځی " دَ ماښام اذان اوشی ۔ دَ اذان سره سره
دَیکی دَ غراری اواز هم راشی ، پروفیسر صیب او
خدیجه بی بی پکی ته اوگوری او مسکی شی ...
هر یو خپل پلیټ پروفیسر صیب او خدیجے بی بی
ته مخکښے اږدی ...هغوی خوراک هم کوی او
خبرے هم ۔

سالم خان :۔ باباجانی پنشن دے څو مره اوشو ۔

پروفیسر صیب :۔ لا شوے نه دے خو اوبه شی ۔

عالم خان :۔ باباجانی ! کموټیشن څو مره ملاؤ شو ۔

پروفیسر صیب:۔ لاملاؤ شوے نه دې خو اوبه شی ۔

سلمان خان :۔ اوجی پی فنډ وغیره ؟

سالم خان :۔ تاسو ته خو به دَ شپږو میاشتو تنخواه هم ملاویږی ۔

عالم خان :۔ باباجانی نقدے به درته تولے څو مره ملاؤ شی ۔

پروفیسر صیب :۔ دغه پنځوس لاکهه خواؤشا ۔

عالم خان :۔ او ماهانه پنشن ؟

پروفیسر صیب:۔ څهٔ دَ پاځه څلویښت زره ۔

سلمیٰ :۔ باباجانی دا کهیر واخلی ، دا ستاسو دَ پاره ما په ډیره مینه
تیار کړے دے ۔

بُشریٰ :۔ باباجانی ! دَ دے حلوا نه لږه سکه اوکړی ډیره مزیداره ده ۔ دا
ما په خپل لاس ستاسو دَ پاره تیاره کړے ده ۔

نسرین :۔ باباجانی دا فرنی لږه اوسکی۔ دا دَ بادام او چلغوزے دَ پوډرونه
ما تیاره کړے ده ۔

پروفیسرصیب:۔ باس ، باس ، زهٔ پکښې نور نه یم شوے ، ما خو
دومره اوخوړه چې دَ پاخیدو نه یم ...زهٔ به درنه
جمات ته لاړ شم ۔

عالم خان :۔ ځی ورشی۔ باباجانی ! ستاسو په پنشن به بیا خبرے اوکړو۔

پروفیسر صیب:۔ پنشن کښې ستاسو څهٔ نشته دا دے دَ مور او شبانے
دے زهٔ درنه لاړم ۔

ټول :ځی ورشی۔ باباجانی ۔ دَ الله په امان ( هغه روان شی )

عالم خان (دَ پروفیسر دَ تلو نه روستو ) امی جان یوه خبره مِ منې ؟

خدیجه بی بی :۔ ما ستا کومه خبره نه ده منلے ؟ وایه ؟

عالم خان :۔ تهٔ به ماسره کور ته ځے او ماسره به اوسے ۔

خدیجه بی بی :۔ یَه ځویه ! دا پلار دے چاته پریږدم ۔ دَ هغه نور څوک دی؟

سالم خان :۔ باباجانی به زهٔ خپل کور ته بوځم او ماسره به اوسیږی۔

سلمان خان:۔ واه ۔ عجیبه ده ۔ چې دوی تاسو بوځی۔ نو ماسره به
څوک پاتے شی ۔ دا دواړه به ماسره ځی ۔ د دوی دَ
خدمت موقعه ماته هم راکړی۔ کنه ۔

عالم خان :۔ مړو نیغکو! دَ مشرانو په خبرو کښې مهٔ رادانګی ، غلے
کینی ۔ هډو دَ مشر ، کشر تمیز درکښې نشته ۔
باباجانی او امی جان به دواړه ماسره ځی او ماسره به وی ۔


www.pukhto.net



سلمیٰ :۔ مونږ به دَ دوی خدمت کوو او دوی به دعاګانے کوی ۔

نسرین :۔ امی جان له خو دے څوک ګوتے یوسی چې بوټے یې ترینه
اوباسم ۔

بشریٰ :۔ نسرین بدتمیزی مه کوه ۔ سړی پو هه شه او دَ هغوی کار۔

عالم خان :۔ تاسو ټول که هر څه وائی۔ خو مور ، پلار دواړه زما دی ۔
مونږ ښځه خاوند به د دوی خدمت کوو او دوی به
خپل نمونځ اودس کوی ۔

خدیجه بی بی :۔ نه ځویه ! مونږ هم دلته ښه یو ۔ زهٔ دا کور نشم
پریښودے ۔

عالم خان :۔ ټیک ده ، ډیره ښه ده ۔ زهٔ به هم دلته کډه راؤړم ۔

سالم خان:۔ چې ته کډه راؤړے نو مونږ څهٔ شوے یو ، مونږ به هم راؤړو۔

سلمان خان :۔ تاسو که هر څهٔ وایی۔ خو مور ، پلار دواړه زما دی ۔ زهٔ
ورځم چې خپله کډه هم اوس دلته راؤړم ۔

خدیجه بی بی :۔ نه بچو تاسو دے خدایٔ په خپل خپل کور
خوشحاله لری ۔ په دے پنځه مرلے کور کښې تاسو
ګوزاره نشی۔ کولے او چې ټاور پکښې جوړ شی نو بیا
خو به دغه دوه ، دوه نیمے مرلے پاتے شی ۔

عالم خان :۔ امی جان چې زړه تنګ نه وی نو کور نه تنګیږی "سلمیٰ
یو کمره میری او وائی "چف دا کمره زما "

بُشریٰ :۔ "چف دا بله کمره زما "


Pukhto.Net

نسرین :۔ "چف دَ بیټهک کمره زما"

خدیجه بی بی (خاندی) یَـه جینکو کور خو رانه تاسو اومیرلو ۔ مونږ ته مو څۀ پریښودل ۔

★★★★★★★★★★★★



www.pukhto.net



ایکټ:۳ سین:۵ وخت:۔ غرمه

ځائے :۔ دَ چودهری صیب کور

کردار:۔ پروفیسرصیب، چودهری صیب، شاهد،میاں صیب

پروفیسر صیب دَ چودهری صیب په بیټهک کښی ناست وی او خورشیده سره خبرے کوی ۔

خورشید:۔ صیب له ماستاسو دَ راتلو اطلاع ورکړے ده ۔ اوس به راشی۔ هغو دا دے راغی ۔

چودهری صیب (راځی) السلام علیکم ! پروفیسر صیب دی ګریټ۔

پروفیسر صیب:۔ وعلیکم سلام ، چودهری صیب دی ګرینډ۔

چودهری صیب (خاندی) بدل دے واخستو۔

پروفیسر صیب:۔ نه چودهری صیب ! بدل مِ نه اخستے خو ستا شان داسے دے چی دا تهکي ورسره مناسب دے ۔

چودهری صیب:۔ ښه پروفیسر صیب :پیسے دے راؤړے ۔

پروفیسر صیب:۔ بالکل مِ راؤړے ، هغّ دا واخله پوره یولاکهـ روپی۔ دی۔

چودهری صیب۔ول ډن پروفیسر صیب۔ تا اوګټهله ۔ خداې اوس شاهد هم راولی چی دا قیصه ختمه کړو او دَ میاں صیب نه دیرش لاکهه روپی۔ واخلو (شاهد راځی)

شاهد:۔ السلام علیکم !

چودهری صیب او پروفیسر صیب : وعلیکم السلام ۔

چودهری صیب :ـ شابه کنه یار ، تاته ایسار یو۔ پیسے دے راؤړے دی۔
شاهد:ـ بالکل مِ راؤړے دی ـ دا واخله ( هغه روپی ورکوی )
چودهری صیب:ـ دا څومره دی ـ
شاهد:ـ دا درے لاکهه روپی دی ـ
چودهری صیب:ـ درے لاکهه ولے ؟ تا خو وعده دَ څلورو لاکهو کړے وه
شاهد:ـ وعده مِ کړے وه خو پوره مِ نه کړے شوے ـ څۀ په مشکله مِ
ایله دا درے لاکهه پیدا کړے ـ
چودهری صیب:ـ درے لاکهه تا راکړے ، یولاکهه پروفیسر راکړے ـ
پنځه لاکهه زما شوے ـ دا ټولے جوړے شوے نهه (۹)
لاکهه روپی ـ یولاکهه پکښی اوس هم کمې دی
(نوکر رائحی) ټیچی کیس په میز اږدی او دَ میاں صیب
دَ راتلو خبر ورکوی ـ لږه شیبه پس هغه راشی ـ ټول
ورته پاڅی او سلام کوی ـ
میاں صیب ( په صوفه کښی کینی ) ـ پروفیسر صیب څنګه یې ؟ لاره
کښی څه تکلیف خو نه وو ؟
پروفیسر صیب:ـ نه میاں صیب ، بالکل خیر خیریت وو۔
میاں صیب (خاندی) ماسره خودا یره وه چې څوک درنه جیب اونه وهی۔
پروفیسرصیب (خاندی) په ټوله لاره مِ په جیب لاس ایښے وو او تاسو له
مِ بالکل صحی ، سلامتې راؤرسولے ـ
میاں صیب :ـ ښه سکندره دوی پیسے درکړے ؟


www.pukhto.net



چودهری صیب:ـ هاؤ میاں صیب دا دی واخلی ( هغه پیسے ورکوی)
میاں صیب ( روپی لاس کښی نیسی ) دا څومره دی ؟
چودهری صیب:ـ دا میاں صیب نهه لاکهه روپی دی ، یو لاکهه
پکښې کمے دی ـ ته مهربانی اوکړه دا قبولے کړه او
مونږ له یو لاکهه کمے راکړه ـ
میا ں صیب ( روپی ټیچی کیس کښې اږدی )"دا مِ قبولے کړے ـ د دے
مطلب دا دے چې تاسو پیسے پوره نه کړے"
"چودهری صیب ، پروفیسر صیب او شاهد سرونه
ټیټ کړی دی او خکته ګوری" تاسو ما پورے خندا
کوی ـ تاسو ماله په لاکهونو روپی تاوان راکړو ـ نن دَ
فارن یو وفد سره زما یو اهم میټنګ وو او دَ لاکهونو
روپو ډیل کیدو واله وو ـ ستا دَ پاره ما هغه کینسل
کړو او دلته راغلم ـ د دے مطلب دا دے چې تاسو
ماسره فراډ کوی ـ دهوکه کوی ـ
شاهد:ـ میا ں صیب په دیکښے یولاکهه روپی کمے دی ـ تۀ مونږ له
یولاکهه کمے راکړه ـ
میاں صیب:ـ دا خبره نشته ـ کمے به ولې درکوم ـ دیرش لاکهه پوره
کړی چې دیرش لاکهه درکړم او ستاسو دیرش لاکهه
هم تاسو ته واپس کړم او چی ترڅو تاسو دا کمے پوره
کړے نه وی نو ستا یو کم دیرش لاکهه روپی به ماسره

امانت پرتے وی ګینی ستاسو پیسے لاړے اوسوزیدے

- (میاں پاځی او روانیږی)

شاهد:۔ میاں صیب ګټه دے په شرق اولګی مونږ له خپل مول راکړه۔

میا ں صیب:۔ ستاسو مول او سود دواړه اوسوزیدل لاړم درنه سلام علیکم (هغه تیـچی کیس لاس کښی نیسی او بهراوځی ...شاهد، چودهری صیب او پروفیسر صیب ټول یو بل ته حیران حیران ګوری)

شاهد:۔ دا ماسره کومه لوبه اوشوه ۔ میاں صیب مول هم یوړو او سود هم ۔ زۀ وریـسی ورځم چې خپلی پیسے ترینه واخلم ۔ (هغه پاځی او په منډه بهراوځی)

چودهری صیب:۔ دا به څه کیږی پروفیسر صیب زما خو په لاکهونو روپے اوچ پـه اوچـه اوبـو یوړے ۔ زۀ خو تباه شوم ، کنګال شوم۔

پروفیسر صیب:۔ ستا خونائیک دے ، تۀ یې ترینه اخستے شی خو زما درے لاکهه څۀ شوے ؟

چودهری صیب:۔ ستا پیسے چرته هم نه ځی ، ماله دے راکړی دی او زۀ به یې درکوم ( هغه پاځی) "زۀ ورځم چی تاله خپلی روپے راؤړم" هغه کورته ننوځی او پروفیسر صیب پـه بیټک کښـې دَ هغۀ انتظار کوی ۔ ډیر ساعت تیر شی خـو هغـه رانشی ۔ چې دَ ماښام بانګونه شروع



www.pukhto.net



شی نـو پـروفیسر صیب غسل خانے ته ورشی او په اوبـو روژه مـاتـه کـړی ...بیا راشی او په خپله کرسی کښـی کیـنـی ...چې تیـاره خوره شی نو دوه کټیان نـمـاکسـان بیټـک تـه راشی هغـوی پـه اجنبی نظر پروفیسر ته اوګوری ۔ پروفیسر صیب دَ هغوی نه په یره تپوس کوی "چودهری صیب کور دے"؟

ږومبی :۔ کوم چودهری صیب ؟

پروفیسر صیب:۔ چودهری سکندر د دے کور مالک ؟

دویم :۔ د دے کور مالک خو زۀ یم۔ چودهری وقار ۔

پروفیسر صیب:۔ هغه زمانه درے لاکهه روپے راوړے دی ۔

ږومبی :۔ مشره په حیا کښې اوځه او دَ خپلو روپو غم دے اوکړه ۔

پروفیسر صیب:۔ هله به ځم چی ماله خپلی روپے راکړی ګینی هم دلته به پروت یم ۔

دویم :۔ ته جوړ داسے نه منې ۔

(هغوی دواړه هغه نیسی او دَ بیټک نه بهر دیکه ورکوی ۔ پروفیسر صیب دیکه سره دَ بیټک په پوړو راپریوځی خو خپې مضبوطے کړی او بیا پاځی ، او وائی "هله به د دے کوره ځم چې یا خپلی روپے راکړی یا مِ لاش پورته کړی ، (دَ کور نـه یـو هلک یو کوتک په لاس راځی او پروفیسر صیب دَ شانـه پـه سر اووهی ۔ پروفیسر

صیب چې په سر اولګی نو دَ درد نه تاؤ شی او چې
هلک ته اوګوری نو هغه خورشید وی ۔ پروفیسر
صیب په زمکه راپریوځی او بے هوشه شی ۔

★★★★★★★★★★★★★★


www.pukhto.net



ایکټ:۴ سین :۱ ځائے:۔دَپسرورلویه هدیره۔
وخت :۔ توره شپه
کردار:۔ پروفیسر کمال ۔ دواجنبی سړی ۔راجو(ګورکن)

(دَ پسرور لویه هدیره ... په هدیره کښې ګنې اونے ، واخهٔ ...دَ ځناورو او حشراتو خوفناک اوازونه ...دَ هدیرے کوزسرته دَ راجو ګورکن یوه زړهٔ کوټه ، هغے سره جخته دَ قبر دَ کهدائی د سامان دَ پاره یوه کوټنی ...دَ شپې په تیاره کښې هدیرے ته یو ګاډے ننوځی ۔ دَ راجو کوټې سره اودریږی ...دوه کسان ترینه کوزیږی او یو مړے ترینه په دواړه تنه راکاږی او دَ ګورکن کوټی سره جخت په زمکه اږدی ...هغه ویښوی او یو کس ورته وائی "راجو کاکادا لاش سمبال کړه "۔

راجو:۔ دا څوک دےسائیں ؟

ړومبې :۔ دا څوک مسافر دے ۔

راجو:۔ سائیں ماسره تیار قبرنشته ۔ دا به ډیره ګرانه شی ۔ هغه هلکان دَ اختر په چُهتی کلی ته تلی دی او زهٔ یواځے یم ۔

دویم :۔ دَ تیار قبر ضرورت نشته ۔ چرته زوړ کښې یې واچوه او خاؤرے پرے ورواوله ...پوهـ شوے که نه ۔ هن دا مزدوری دے واخله او اوس دَ شپې شپې ترینه ځان

خلاص کړه یو خبره بله چې دَ خولے نه دے ګوری
چاته اونه خیژی ګینې بیا به ستا خوله هم لکه د ده
بنده شی ۔ پوهـ شوے که نه ۔

راجو :۔ پوهـ شوم سائیں ۔ دا لږ مسافر مو ښخ کړل ، څوک رانه خبر شو؟ . . .او که خبر شی نو ستاسو به څه اوکړی ۔

ړومبی :۔ څه شابه کړتے مه کوه ، خپل کار کوه ۔

راجو:۔ ته بے غمه اوسه سائیں ۔ تا مزدوری راکړه او ما جیب کښی واچوله،ستاسو کار ختم شو او زما کار شروع شو ۔ ځۍ ځۍ ښه بے غمه بے دړده اوده شۍ (هغوی دواړه ګاډی کښې کینی او روان شی) راجو یوه بیلچه راخلی او یو زوړ ، ناست قبر ته اودریږی ۔ یوه شیبه ورته ولاړوی لکه چی ځان ته د دغه قبر دَ بندولو او په هغے کښی د مړی دَ ښخولو کالونه ، میاشتے او ورځے شماری . بیاسراوړکوی او ځان سره وائی "هاؤ اوس به خاؤرے شوے وی" (بیا زوړ قبر ته اړم شی او په بیلچه ترینه خاؤره بهرته غورځوی ۔ ځان سره وائی)۔

راجو:۔ بنده اریان ، خدایې مهربان . . .چی خدایې چاله ورکوی نو لکه زما یې دَ خوبه راپاڅوی او چې ترینه اخلی نو په ویښه یې اوده کړی لکه دا مسافر . . .دا مسافر هم لکه دَ نورو په ویښه اوده وو ۔ دَ چودهری صیب په


www.pukhto.net



بربندلتې ورغی او دَ څټ نه اونښتو ۔ هاے عقربه!
قسمت مرګ دَ پاره دَ کوم ځاے نه راوستې . . .کوم
ځاے پیدا شوے او کوم ځائے مړ شوے ۔ دَ کومے
خاؤرے نه اوتهو کیدے او په کومه خاؤره کښی به
اوتهومبلې شې ۔ هغه دَ چا خبره چې

دوه څیزه راکاږی هر سړی لره په زور
یو آب ودانه ده بله خاؤره ده دَ ګور

د دے غریب په ځائږون په خوشحالی شوی وی ۔ څومره ډزے او مبارکۍ به اخستې شوے وی ، مور، پلار به څو څو ځله ښکل کړی وی او اوس به دۀ پسې څومره خلق ژاړی ، دَ ژړا بین به کوی ، خپل ګریوان به شلوی او خپل مخ سر به وهی ، د دۀ په زړۀ به څومره ارمانونه وو ، څومره خواهشات او امیدونه وو ۔ هغه ټول لاړل۔ لاړل پاتی شو ۔ او دے ترینه دوه خپے دوه لاسه ، په چپه خوله او پټو سترګو لاړو ۔ اوس به لږ ساعت پس لکه دَ نورو مسافرو په زوړ قبر کښې بے کفنه ښخ شی ۔ په ژوند هم خوار او په مرګ هم خوار ۔ دَ ژوند او مرګ لوبه هم عجیبه ده ۔ چی پیدا شی او په ښۀ بد پوهـ شی نو دَ نوستلے روزی دَ راغونډولو په تکل

کښې لګیا شی ۔ دَ یوے خیټې دَ پاره څۀ څۀ نه کوی؟ لکه دَ سیلانو کونترو په خاؤرو کښې پټې دانے راغونډوی او په دغه راغونډولو کښې کرپ شی دَ مری نه اونښلی۔ ځینی خلق دَ یوے خیټې د ډکولو دَ پاره په سرِنو خیټې تشې کړی۔ دَ نفسانی خواهش پوره کولو دَ پاره دَ قدرت دَ حسین شهکار په سر اړه نه لری او نه په خپل سر ... چې ماشوم وی نو دَ مور، پلار دَ زړۀ قرار وی ۔ چې پیغله یا زلمې شی نو دَ حسن نوبهارشی ، چې ښځه او خاوند شی نو دَ یو بل دَ غاړے هار شی خو چې په دواړو کښې یو مړ شی نو بل ترینه بے زار شی ... راجو په سرِنو مړی دې ښخ کړل . په دیکښے دَ تی ماشومان هم وو او دَ تی ورکولو واله میاندے هم ...په دیکښے پیغلے هم وے او ځلمی هم ۔ په دیکښے ملاتیټی بوډاګان هم و او کونتې شوے بوډی ګانے هم وې ... دا ټول ... دا ټول تا دَ زمکے په خیټه کښې ورواچول او دَ خاؤرو ډیری دے پرے جوړ کړل ...دَ ثواب دَ پاره نه ۔ دَ نیکۍ دَ پاره نه ...بلکه دَ پیسو دَ پاره چې دَ خیټی تنور ډک کړے ...دَ مړی خپلوان ، عزیزان ژاړی ... په دواړه لاسه مخ سر وهی او مونږ ورته خوشحالیږو ...دَ هغوی


www.pukhto.net



په ماتم خوشحالیږو؟ نه ، دَ هغوی په جانی نقصان خوشحالیږو ؟ نه ، دَ هغوی پیسو ته خوشحالیږو ۔دا ځکه چی دا زمونږ پیشه ده . دا ځکه چی دا زمونږ دَ رزق وسیله ده دا ځکه چی دیکښے پیسه ده ۔ دنیا کښې ټوله لوبه دَ پیسے ده ...زما نیکۀ ګورکن وو نو پلار مِ ګورکن شو۔ پلار مِ ګورکن وو نو زۀ ګورکن شوم زۀ ګورکن یم نو زامن مِ ګورکن شو ...نیکۀ مِ ډیر خلق ښخ کړل خو ځان له یې قبر نه وو تیار کړے ، ځکه چی هغه ته خپل مرګ ډیر لرے ښکاریدو ۔ چې مړ شو نو پلار مِ ورله قبر تیار کړو او دَ نورو روڼو نه یې خپله مزدوری واخسته ۔ پلار مِ ځان له څو څو قبرونه تیار کړل او سربند یې کړل خو دَ پیسو په لالچ کښې یې هغه یو په یو ټول نورو له ورکړل ځکه چې هغه ته هم خپل مرګ لرے ښکاریدو۔ چې مړ شو نو ما ورله قبر تیار کړو او دَ نورو روڼو نه مِ خپله مزدوری واخسته ۔ خو زما به څۀ کیږی ؟ ما هم خپل ځانی قبرونه دَ پیسو په لالچ کښې نورو له ورکړل ... بس کړه راجو دا یو مسافر ښخ کړه نو بیا ځان له هم یو خائسته ، ښکلے قبر تیار کړه ۔ سر ورله بند کړه ، د دے کار نه توبه اوباسه او دَ خپل مرګ انتظار کوه ...

او ځامنو ته دے هم اووایه چې چرته بل کار کسب
کوی ....ښه زړګیه ! قبر تیار شو ...بس دا لړ شان
هوارے یې پاتے دے ـ ...یې دا هم اوشو ...ورځم
چې هغه مړے دَ خپې نه اونیسم او قبر ته یې راکاږم
(هغه ورځی مړے دَ خپې نه نیسی ) عجیبه ده ، د دهٔ بدن
خوګرم دے ـ داسے ښکاری لکه چې دا بیخی تازه
مړے وی ...یه هلکه راجو دا چرته ژوندې نه وی ؟
چرته ژوندے سړے راباندے ښخ نه کړی ...خو زما
پرے څهٔ ، که مړ وی که ژوندے وی ، ځکه چی لوبه دَ
پیسے ده او ما له یې پیسے دَ ښخولو راکړې دی دَ مړ
ژوندی ازار ګناه دَ هغوی په غاړه ...راکاږه راجو
...راکاږه . څه ، څه ، څه ـ یې بس دے ـ زهٔ دے قبر
کښې ورکوزیږم چې دَ خپې نه یې اونیسم او ورته
یې راکاږم او خاؤرے پرے واچوم ـ هغه قبر ته
کوزیږی ، مړے دَ خپې نه نیسی او په یو درزیې قبر
ته غورځوی ، مړے چی لاندے پریوځی نو په هوش
کښې راشی او نیغ اودریږی ...راجو چې ورته
اوګوری نو یوه خوفناکه چغه یې دَ خولے نه اوځی ـ
چغے سره هغه په قبر کښی راپریوځی او مړے ترینه
بهر اوځی ـ


www.pukhto.net



**ایکټ :۴** **سین :۲**

**ځائے :ـ** **دَ پسرور هدیره ـ**

**کردار:ـ** **پروفیسر کمال**

راجو دَ قبرپه کنده کښې پروت وی ...بدبوئی ترینه خیژی ...په
هدیره کښې دَ کارغانو تپوسانو او نورناموس
مخلوق دَ هغه په غوښو اخته وی ـ بے هوشه
پروفیسر صیب په هوش کښې راغلې وی خو په
سردَ ګوزار په وجه دَ هغه ذهنی نظام ګډوډ شوے وی ـ
تږولـه ورځ لګیا وی ځان سره خبرے کوی خو
هیڅوک پرے نه پو هیږی ـ په یخنی ، ګرمۍ ، اولږه ،
تنده او غم ښادی یې هیڅ کار نه وی ـ کانی یې په
دواړو لاسونو کښې نیولی وی دَ راجو دَ لاش نه
کارغان ، مارغان او تپوسان پاره کوی ـ
پروفیسر صیب:ـ ها ...هون ...ها ...هون (دَ کانو ګوزارونه پرې کوی )
...دَ هدیرے یوخواته یوه سپۍ لنګه شوے وی
...هغے سره واړه واړه کوتری وی ...پروفیسر صیب
هغه کوترو سره لوبے کوی . او ورته ”کوت ، کوت “
او ”تو ...تو “ کوی ...
کله کله سپۍ اونیسی او په هغے لاس وهی ـ

سپي، او کوترې ورسره دومره اموخته شي چې بيا دَ هغه نه نه خوځي ـ په لږو ورځو کښې دَ هغه دروند وجود اوبه شي او نرکے ډکے ترينه جوړ شي ـ

★★★★★★★★★★


www.pukhto.net



ایکټ:۴ سین:۳ وخت :مازیگر

ځائے :ـ د پروفیسر صیب کور

کردار:ـ عالم خان ، سالم خان ، سلمان خان ، خدیجه بی بی ، سلمیٰ ، بُشری ، نسرین او نور وارۀ ـ

عالم خان ، سالم خان ، سلمان خان، سره دَ ښځو او بال بچ دَ پروفیسرصیب په پنځه مرلے کور کښې ډیره وی ـ ټول دومره تنگ شوی وی چې ساه یې پوزے له راغلی وی خو بیا یې هم خپې کلکے کړے وی او دَ پلار دَ راتلو ، دَ موبائیل ټاور دَ لگیدو او دَ نوکرۍ دَ آرډرونو انتظار کوی ـ دَ هغه دَ تلو پوره شل ورځے شوے وی ...په دے دوران کښې هغۀ او دَ هغۀ ښځے پسې دَ حج ټریننگ دَ پاره خطونه راغلی وی"

خدیجه بی بی (ژاړی) ، یَه خدایه ته یې راولې ...یَه خدایه تانه یې غواړم ـ

عالم خان :ـ امی ! ته ولې ژاړې رابه شی ، څۀ ماشوم خو نه دے ، دَ کور لاره ورته معلومه ده ـ

خدیجه بی بی :ـ ژاړم ځکه چې دَ هغۀ دَ تلو نه پس هره شپه گډوډ خوبونه وینم ـ

سالم خان :ـ ماخو ورپسی ټول ځایونه اولټول خو پیدا مِ نه کړو ـ څو

څو کاله مې ورکړل خو موبائیل یې خاموشه دے ۔ دَ غیبو
علم خدای ته دے خو داسے معلومیږی چې مړ دے ۔

خدیجه بی بی :۔ خوله دے کړه شه چې تۀ پرے داسے خبرے کوې۔

سالم خان :۔ دا ضروری نه ده چې هغه مړوی خو هسے زماپرے شک راځی

سلمان خان :۔ مړه ته هم په خبره شخوند نه وهی خو دَ خولے نه یوه
ناشوړته گوزار کړے ۔

سالم خان :۔ ښه څه ، زۀ خپله خبره واپس اخلم ۔ هغه ژوندے دې ۔ ښه
مزو کښې دے خو کورته نه راځی ۔

عالم خان :۔ مړ خو ځکه دے چې په دے شل ورځو کښې یې هڅو مس
کال قدرے رانکړو ۔

سالم خان :۔ ته دَ مس کال خبرے کوې زما ورته په کالو زړۀ شین شو ،
هرځل په کمپیوټر اواز راځی "Not responding"
دے نه معلومیږی چې خدای مه که هغه مړ دے ۔

خدیجه بی بی :۔ داسے مه وایه ځویه گنې زۀ به هم ورسپې شم۔

عالم خان ( غلے غوندے )تۀ څۀ کیږے ۔

خدیجه بی بی :۔ څۀ دے اووې ؟

عالم خان : ماوې ، تا دے خدای هیڅ نه کوی ...امی خفه کیږه مه خو
هسے خبره کوم ۔ اینے تۀ گوره کنه ، مروخوبه مونږ
ټول خو خدای مه که که هغه په رشتیا مړوی نو چې
ستاسو دَ حج داخله کینسل کړو او خپلې پیسے



www.pukhto.net



واپس واخلو ۔ هسے نه چې دا روپۍ رانه اوچ په اوچه
لاړے شی ځکه چې هغه نه وی نو ته هم نشی تلے ۔
زۀ به درسره تلے وې خو ماسره پاسپورټ هم نشته او
اوس په دے دومره لنډ وخت کښې به اجازت هم
رانکړی ۔ ښۀ خبره دا ده چې دا پیسے رااوباسو۔

سالم خان :۔ چې پیسے را اوباځې نو څۀ به پرے کوے ؟

عالم خان :۔ څۀ به پرے کوم ؟ ځان سره به یې کیږدم ، کال له به داخله
اوکړو او ځان سره به یې بوځم ۔

سالم خان :۔ ځان ته تر خزمه وهه لالا ، دا به درے ځایه تقسیم کړو۔

سلمان خان :۔ دا خبره مې خوښخه ده ۔

عالم خان :۔ یو خو مړو دَ ځان نه مشران مه جوړه وی ۔ زۀ او امی جان
خپلو کښې خبرے کوو ستاسو پکښې کار نشته ۔

سالم خان :۔ ولی نشته ۔ تۀ خو ښه اوښیار یې ۔ په هر څۀ کښې ځان
ته ډنډی مه وهه ۔ دے پیسې به درے واړه منډے وهو
او دا به درے ځایه کوو ۔

خدیجه بی بی :۔ دے پیسی منډے مه وهی ، پلار پسې مو اوگرځی او
هغه پیدا کړی ۔

★★★★★★★★★★★★

ایکټ:۴    سین:۴    وخت:مازیگر

ځائے:۔ دَ پسرور چوک

کردار:۔ رحیم بخش (رحیمو)داد محمد ( دادو) نورمحمد (نورو)

رحیمو او دادو خپلو کښې خبرے کوی ۔

رحیمو:۔ یه هلکه دادو ته گوره کارله رانه غلے ، زهٔ په طمعه او ته پے غمه ۔ ټوله ورځ مِ ستا لارے ته کتل خو چې ته رانه غلے نو زه هم پاتے شوم ۔ او ورځ مِ ماته شوه ۔

دادو :۔ یَره رحیمو! په دے کارونو خو مِ ملاماته شوه ۔ دریم چهت ته په شا باندے خښتے خیژول څهٔ اسان کار نه دے ۔ په کارونو کښې مِ ملا اوسولیده خو شل مِ نه کړه هم هغسے نورلس ده او نورلس به وی ۔

رحیمو:۔ دَ بل دَ جیب نه پیسے ویستل څهٔ اسان کار نه دے ۔

دادو :۔ ولے اسان نه دے ، دا خلق چی یې ترینه اوباسی ۔

رحیمو:۔ هغه کارِ مِ په تانشی پیرزو او په تا څهٔ چې په دشمن مِ هم نشی پیرزو ۔ دَ هغے نه دا خپله مزدوری ښه ده ۔ او گټه اولکه دَ نر غوندے یې اوخوره ۔

دادو:۔ خبره دے بره نه ده رحیمو خو صرف خوړل ، څکل خو نه دی کنه ۔ زما په زړهٔ خوډیره ارمانونه دی ۔

رحیمو:۔ ستا چې څهٔ ارمانونه دی هغه زما هم دی ، مثلا ته مال او



www.pukhto.net



دولت غواړے ؟ دا زهٔ هم غواړم ، ته موټر غواړے ؟ دا زهٔ هم غواړم۔ ته ښه کورنی۔ کښی وادهٔ کول غواړے ؟ دا زهٔ هم کول غواړم ۔ خو د دے دا مطلب نه دے چې څهٔ مونږ غواړو هغه به پوره کیږی ۔

دادو :۔ زهٔ تاسره په دے خبره کښې اتفاق نه کوم ۔ زهٔ ویم چې زهٔ څهٔ غواړم هغه اوشی ۔ زهٔ ویم چې زما ټول ارمانونه پوره شی او دا په مزدوری کښی نه کیږی . . .یار رحیمو! دَ خدایِ دے دنیا ته لږ اوگوره څوک عیشونه کوی ، مزے کوی او پیسو سره لوبے کوی او په چا باندے پیسه لوبے کوی ۔

رحیمو:۔ څوک چې پیسو سره لوبے کوی هغه زمونږ نائیکان دی او په چا پیسه لوبے کوی هغه مونږ مزدوران یو ۔ د دنیا لوبه ټوله دَ پیسے ده ۔

(نورودَ هغوی خواله راځی)

نورو:۔ هلکو څهٔ گپ مو سُر کړے دې ۔ اجازت دې شاملیدے شم پکښی۔

دادو :۔ راځه ، راځه نورو ۔ تهٔ راشه یارتانه یوه مشوره اخلم ۔

نورو:۔ ښه وایه زړگیه ! څهٔ ویل غواړے ؟

دادو :۔ یار نورو دَ پیسو گټلو څهٔ اسانه طریقه راته اوښایه ۔

نورو:۔ اسانه طریقه دا ده چې بازار ته لاړشه او سوال کوه ۔ چې ماښام کورته راځے جیبونه به دے ډک وی ۔ د دنیا دَ نعمت

ټکره به ستا په کچکول کښې پرته وی ۔

دادو :۔ نه یار دا نشم کولے د خلقو دَ خندا به شم ۔ بله طریقه راته اوښایه

نورو:۔ بله طریقه دا ده چې یوه بیزو پیدا کړه هغه لوبه وه او پیسے ګټه

دادو :۔ نه یار دا م هم نه ده خوښخه ۔

رحیمو:۔ بله دا ده چې قینچی پیدا کړه او دَ خلقو جیبونه پریکوه۔

نورو:۔ نه رحیمو ۔ دا هم اسانه نه ده ۔ دا هم مهارت او چالاکی غواړی

او چې سړے اونیولے شی نو وهل هم خوری او جیل

ته هم ځی ۔

رحیمو:۔ بله طریقه به ورته دا اوښایم چې دا لاره واخله دَ پسرور لوے

هدیرے ته لاړ شه ، شنے ، سرے او تورے جنډے پیدا

کړه ۔ په یو قبر یې اولګوه او ډډه ورته اووه ۔ تۀ ګوره

چې دَ پیسو باران دربانده کیږی او که نه ۔ او که دا نه

کوی نو یوه لاره درته بله ښایم او هغه ټوله کامیابی

ده ۔ ټوله ګټه او خوشحالی ده خو هغے کښې به مونږ

ټول تاسره شریک یو ۔ وعده اوکړه ۔

دادو :۔ وعده ده خو کار به څۀ وی ۔

رحیمو:۔ هغه اوګوره ، هغه مجذوب بابا ، دَ دولت خزانه او دَ لوټو

کارخانه ده ۔ نور کار په مونږ پریږده ، ته ورشه هغه سره

کینه ، دَ هغه ویښته او ږیره ګمنزوه ...ورشه ، ورشه۔

★★★★★★★★★



www.pukhto.net



ایکټ :۴ سین :۵ وخت:ماسپخین

ځائے:۔ دَ پروفیسر صیب کور

کردار:۔ عالم خان ، سالم خان ، سلمان ، دَ هغوی ښځے ، بچی

او دَ هغوی مور خدیجه بی بی ۔

سلمان خان :۔ امی ! دَ بابا دَ تلو نن شویمه ورځ ده ؟

خدیجه بی بی :۔ پوره یوه میاشت او پنځه ورځے اوشوے چې هغه دَ

کوره اوتے دې ۔

سلمان خان :۔ بابا م وے چی دَ اختر په شلورمه ورځ به مونږ پسې دَ

نوکرۍ آډرونه راځی خو تر اوسه نه هغه راغی او نه

مونږ پسې دَ نوکرۍ آرډرونه راغلل ۔ دے نه

معلومیږی چې مونږ سره دهوکه شوے ده ۔

خدیجه بی بی :۔ ستا څۀ مطلب دے ؟ دهوکه چاوکړه؟ ستاپلار؟

سلمان خان :۔ نه امی ، چاچې دَ ټاور لالچ ورکړے وو ۔

سالم خان :۔ داسے معلومیږی چې هغه سړی دَ بابانه پیسے اووهلے او

په خپلو پیسو یې مړ کړو ۔

خدیجه بی بی :۔ تاخو دے خدائ په ژبه ګونګ کړی چې داسے خبرے کوے ۔

سالم خان :۔ امی زۀ دا هغه په مرګ خوشحاله نه یم خو هسے خبره کوم

خدیجه بی بی :۔ ارمان چې ښځه یم دَ کوره وتل راته عیب ښکاری

ګینې که هر ځائے وے او په هر حالت کښې وے ما به

پیدا کړے وو۔ (ژاړی)۔

عالم خان :۔بس کړه مړے څۀ رینګه رینګه دے جوړ کړی دی ۔ کور نه دے ماتم خانه ده ۔ دَ هغه یوه یوه ځان ته یاده وي او ژاړے ۔ زما خو په دے کور کښې ساه ډوبه شوه ۔ زه دلته نور نشم ایساریدے ۔ خپل مِ یو کنال کور پریښے دے او په دے سرپیچک کښې ډیره شوی یو۔ ځی وړو مخکښے شی۔ چې ځو خپل کور ته ۔(هغه خپل بال سره دَ کوره روانیږی )

خدیجه بی بی :۔ یَه ځویه عالم خانه ! چرته ځے ، چې ځے نو ما هم ځان سره بو ځه ۔

عالم خان :۔ تۀ هم دلته ښه یې ۔ ستا دلاسه خو مونږ در په دریو۔

سالم خان (بُشری ته) "چی لالا مِ لاړو او خپے یې اوویستلې نو مونږ دلته څۀ کوؤ په تنګه سوړه کښی ۔ خپل دَ خانی کور مو پریښی دے او دے چارچوبیی کښې پراتۀ یو۔ ځه چی ځو بُشرئ (سالم خان روانیږی )

خدیجه بی بی :۔ چرته ځې ځویه ما چاته پریږدے ؟

سالم خان (په تلو تلو کښی ) تادے ته پریږدم چی دَ بابا انتظار کوه او چی دَ نوکری آرډرونه راؤړی نو مونږ پسې خبر اوکړه ۔

سلمان خان (نسرین ته) لالا مِ لاړو ، سالم خان لاړو ۔ دا مونږ دَ چا په تیلو کښې سوزو ۔ ځه چې مونږ هم خپې سپکې کړو ،



www.pukhto.net



سلمان خان او نسرین دَ بال بچ سره دَ کوره روانیږی ۔

خدیجه بی بی :۔ سلمان خانه ځویه ته هم ۔

سلمان خان :۔ هاؤ امی زه هم ۔

★★★★★★★★★★

Pukhto.Net پښتو

ایکټ:۴ سین:٦ وخت:سحر لس بجے

ځائے:۔ دَ پیر کرامت الله ډیره۔

کردار:۔ پیر کرامت الله، شاه مراد، خدیجه بی بی

خدیجه بی بی دَ پروفیسر صیب په تلاش کښې دَکوره اوځی او دَ پیر کرامت الله ډیرے ته ورځی۔ دَ هغه مرید، شاه مراد دَ هغے خواله راځی۔

شاه مراد:۔بی بی ته څۀ غواړے؟

خدیجه بی بی:۔ پیر صیب! قربان شم ستا دَ نامے نه او لوګے شم ستا کراماتو نه۔ زما خاوند څۀ دَ پاسه دوه میاشتے اوشوے چې روک دے او هیڅ په حساب یې نه پو هیږم چې چرته دے، مړدے او که ژوندے؟

مرید (پیرصیب) تاسو د دے بی بی درخواست وورېدو جناب۔

پیر صیب:۔ ووم ریدو۔ د دے دَ خاوند په لاره کښې خړه ده۔ د دے خړے په وجه دَ هغه متعلق صحی ادراک نشی کیدے۔

شاه مراد:۔ جناب عالی! دا خړه په څۀ ختمه شی۔

پیرصیب:۔ مریده!

شاه مراد:۔ جی صیب،

پیر صیب:۔ دَ جامے خیرے په څۀ اوځی؟

شاه مراد:۔ په اوبو او صابن۔

پیر صیب:۔ د قسمت خړه په څۀ اوځی؟


www.pukhto.net



شاه مراد:۔ په څاختونو او تعویز۔

پیر صیب:۔ دے له څاختونه او تعویز ورکړه او هدایات هم ورکړه۔

شاه مراد (خدیجے بی بی ته) ښه دا تعویز به په شنه کپړه کښې بند کړې او په ښې لاس به یې اوتړے او دا دَ یوے هفتے څاختونه دی دا به هره ورځ درے وخته خورے۔ انشاء الله کار به دے اوشی او که اونشو نو بیا راشه۔

خدیجه بی بی:۔ ښه جی ستاسو څومره فیس کیږی؟

شاه مراد:۔ توبه خدایه توبه۔ خوله به دے کړه شی بی بی۔ داسے بیا مه وایه۔ فیس خو دَ پټواری، تحصیل دار، وکیل او ډاکټر وی۔ زمونږ خو شکرانه وی بی بی۔

خدیجه بی بی:۔ ستاسو شکرانه څومره ده۔

شاه مراد:۔ توبه خدایه توبه، دغه زوړ تیم دَ طوطی وزر غوزار کړه۔

خدیجه بی بی:۔ دَ طوطی وزر خو ماسره نشته، دا به څۀ کیږی۔

شاه مراد:۔ بیٔ بی! زرګون ته دَ طوطی وزر ویلے کیږی، دغه تیم ته یې غوزار کړه، توبه خدایه توبه۔

★★★★★★★★★★★

ایکټ:۴   سین:۷   وخت: غرمه

ځاے:- دَ پسرور هدیره

کردار:- دادو، رحیمو، نورو

دَ راجو ګورکن کوټه صفا شوے ده ۔ دَ هغے په کچه زمکه واخۀ او دَ واخو دَ پاسه قیمتی قالین غوړیدلے دے ...دَ هغے چهت اودیوالونه په خائسته او دلکش کپړے مزین شوی دی ...دَ عطرو سپرے پکښې شوی دی او دَ اګر بتو خوشبوداره لوګی پکښې ول په ول تاویږی او وړمے خوریږی ...مجزوب بابا دَ پړدے په شا په قالین پروت دے او ځان سره لګیا دے خبرے کوی ...هغه سره خوا کښې دادو ناست دے ۔ دَ هغه مخے ته دَ لرګی یوه پیټئ او شاته یې دَ اوسپنی یو دیده زیب لاکر پروت دے ...دَ کوټے ښی اړخ ته دَ سرو دَ انتظار ګاه دَ پاره یو لوے سپر جوړ شوے دے ۔ دَ هغے په بره چهت لوښه او په زمکه خوشبوداره اوچ واخۀ غوړیدلے وی ۔ غټ غټ دَ واخو بالختونه څلورطرف ته لګیدلی دی ۔ دَ کوټے ګس اړخ ته دَ ښځو دَ پاره یو لوے سپر جوړ شوے دی۔ دَ دواړو سپرونو لوازمات برابر دی ۔ دَ هغے نه لږ ورمخکښے دَ لنګر انتظام کیږی او ورسره خوا کښې ځائے په ځاے وړے وړے خیمے لګیدلی وی ۔ نورو او رحیمو دواړه یو ځائے راځی ۔

نورو:- واه واه ...ډیر ښه ډیر ښه، ډیر اعلیٰ ۔

دادو (خاندی) منې او که نه ۔ داسے په طریقه او سوچ مِ دا ځائینه جوړ کړل



www.pukhto.net



چی سړی به په خپله لاره ځی راځی او زنانه به په خپله ۔ دَ زنانه ؤ دَ پاره به خپل وخت وی او دَ سړو دَ پاره خپل ۔ دَ ایمرجنسی او خطرناک مریضانو دَ پاره مِ وړے وړے خیمے اولګولے او که څۀ پاتے راپاتے وی نو هغه به وخت په وخت کوو ۔ ښۀ اوس تاسو خپله کارګزاری بیان کړی ۔

رحیمو:- اشتهارونه مو چاپ کړل ۔ څۀ مو اخبار فروشو له ورکړل۔ هغوی به یې صبا له په اخبارونو کښې بند او تقسیم کړی ۔ څۀ مو ځائے په ځاے په بازارونو، چوکونو، دَ بسونو اډو کښې او په لارو کوڅو کښې اولګول څۀ مو دلته راوړل چې په مناسبو ځایونو یې اولګوو۔

دادو:- ډیر ښه، ډیر اعلیٰ ۔ ته دا اشتهار راکړه څۀ مو پکښې لیکلی

نورو:- ته ورته غوږ کیږده، زۀ یې درته اوروم ۔ ښه وروره ....، وایه څۀ غواړے ؟ (۱) دولت غواړے ؟ (۲) دولت کښې اضافه غواړے ؟ (۳) خپلی محبوبے سره واده غواړے ؟ (۴) ځوے غواړے ؟ (۵) لور غواړے ؟ (۶) دَ خاوند توجه او مینه غواړے ؟ (۷) که خاوند نه خلاصے غواړے؟ (۸) دَ خپلې ښځے مینه غواړے ؟ (۹) د ښځے نه خلاصے غواړے ؟ (۱۰) چاسره دوستی غواړے که دَ دشمن بربادی غواړے ؟ (۱۱) جائیداد، موټر، بنګله

غـواړے ؟ (۱۲) تـلـے حسـن او ځـوانی غـواړے ـ(۱۳) روزګـار او نـو کری غـواړے ؟ (۱۴) الیکشن یا امتحان کښـی کـامیـابی غـواړے ؟ نـاامیـده مشـیـ ، هـره کامیابی ستاسو په دُرشل ستاسو انتظار کوی ـ لرے مه ځیـ ، دَ پسرور هدیرے ته راشیـ ، دَ مجزوب بابا نه دعـا واخلی ، ځابنتونه او تعویزونه واخلیـ . . . وخت مـه ضائع کویـ هم نن او په دے ساعت راشیـ او دَ بابا هـرمشـکل کشا نه دعا واخلیـ ـ دَ بابا دَ دربار دروازے ستـاسـو دَ خـدمـت دَ پـاره شپـه ، ورځ پرانستی دی ـ

رحیمو :ـ دادو اشتـهار، څنګه دے ؟

دادو :ـ ښه دے خو یو کمے پکښی شته ـ

نورو :ـ څهٔ کمے ؟

دادو :ـ دیکښے یوه کرښه زیاته کړه او دا پکښی اولیکیـ چی "دَ ببیانو دَ پاره دَ پړدے او قیام وطعام انتظام شوے دے ـ

رحیـمـو :ـ وَه دَ ځـوان ځـویـه ! څـهٔ زبـردستـه خبره دے اوکړه ـ نورو دا کرښه پکښی فورًا اولیـکه ـ

نورو :ـ دیکښے به یې اولیکم خو هغه نورو اشتـهارونو سره به څهٔ کوو ـ هغه لګیدلی دی ـ

دادو :ـ هغے سره به بیا ګورو . . .او هنّ دَ ځابنتونو او تعویزونو مو څهٔ اوکړل ـ



www.pukhto.net



رحیـمـو:ـ غـم مـه کـوه ، دومـره بـنډل مِ درله راؤړے دے چې پوره کال چلیدے شی ـ هنّ دا واخله ـ

دادو :ـ شـابـاش ـ ډیـر اعلیٰ ، زبردست ـ اوس یو بل کارکول غواړی او هغـه دا چې دَ زنـانـهؤ دَ متـوجـه کولو دَ پاره دَ یوے چالاکے زنـانـه ضـرورت دے چې کور په کور دَ بابا دَ کراماتو پیغام اورسوی ـ

نورو:ـ هغه بندوبست ما کړے دې ، تهٔ ے غمه اوسه ـ

رحیـمـو:ـ تـهٔ ډېره اووهـه او مـونږ ځـو چې دا پـوستړے ځائے په ځائے اولګوؤ ـ ( هغوی روانیږی )

دادو :ـ یَه هلکه رحیمو یوه دوه بنډله اګریتیـ نورے هم راؤړه ـ

★★★★★★★★★★★★

ایکټ:۴ — سین:۸ — وخت:ماسپخین

ځائے:۔ دَ پسرور هدیره۔

کردار:۔ دادو، نورو، رحیمو او دَ خواؤ شاکلو خلق

دادو ته مخامخ یوه لویه ډله ناسته ده او هغه ورته دَ مجزوب بابا دَ کرامت او کمالات داستانونه بیانوی۔

دادو:۔ خدایږ دے په نیکۀ رامددکړی، دَ مجزوب بابا خپل نوم چاته هم معلوم نه دے خو دَ خپل کرامات، کمالات، حرکات وسکنات او جزب واستغراق په وجه دَ مجزوب بابا په نوم مشهور شو۔ دَ بابا کرامات ډیر دی خو دَ ټولو نه لوے کرامت یې دا دے چې زۀ یې معتقد شوم ځکه چې دے نه مخکښے ما په دے ځیزونو یقین نه لرلو... په ښار کښې مِ دیاړی کوله، کار ډیر سخت وو خو دَ سخت نه علاوه مونږ پکښې اوور ټائم هم اولګولو۔ ماښام تیارۀ چې ډیرے ته راغلم نو سترے هم ووم او اوږے هم ډډه مِ واچوله خو زر پاځیدم ماوې چې ډوډۍ اوخورم نو بیا به اوده شم ...کاسه مِ ځان سره واخسته او دَیو هوټل نه مِ ترکاری او ډوډۍ راؤړه او خپلې ډیرے ته راغلم۔ ما



www.pukhto.net



ډوډۍ خوړه چې یو بابا راغی او یو خواته په زمکه کیناستو۔ ماته پته اولګیده چې اوږے دے۔ ماورته دَ ډوډۍ ست اوکړو خو بابا هیڅ جواب رانکړو۔ ماځان موړ کړو او پاتے شونے مِ راؤړه او دَ هغۀ مخے ته مِ کیښوده۔ هغه چې ډوډۍ ته اوکتل نو دهیڅ ردِ عمل اظهار یې اونکړو البته ډوډۍ ته اړم شو۔ چې ډوډۍ یې اوخوړه نو کاسه یې په زمکه پریښوده او بغیر دعاسلامه روان شو۔ چې څومره به مخکښے تلو نو قدمونه به یې تیزیدل۔ زما زړه ټکه اوخوړه او ورپسې دَ هغۀ په قدم روان شوم۔

دا خواؤ شا لاړے ماته ټولے معلومے دی خو څۀ دَ تیرے په وجه او څۀ دَ یرے، ترخے په وجه زما ذهن ګډوډ شو او په هیڅ نه پوهیدم چې کوم خوا او په کومه لار روان یم۔ هغه مخکښے وو او زه ورپسے ووم آن چې په یوه لویه هدیره ورګډ شو۔ هدیره کښې ډیرے اونے اوجهاړے، بوټی وو او دومره تیارۀ وه چې لاس ته لاس نه ښکاریدو۔ د دے تیرے په وجه رانه هدیره کښې ګډوډ شو۔ ماورپسې ډیر کوشش اوکړو او ورپسې ګرځیدم خو یو عجیبه غوندے منظر وو۔ چې تلم، تلم نو هغه ځائے له به واپس راتلم چرته چې هغه

زمانـه روک شوے وو۔ په هدیره کښې نااشنا مخلوق او نـااشـنـا اوازونـه وو۔ هر بوټې بـه شنېدو او داسے ښـکاریده لکه چې دَ قبرونو نه مړو سرونه راویستی وی او زمـا نـنداره کوی ۔ زړهٔ مِ هغه وخت دَ سینې نه بُوټ اووتو چې یوے بګوے زما خوا کښې اواز اوکړو ۔ پیشـوګان او څۀ نـور خـوفناک مخلقوق مِ په خپو کښـې اوختـل را اوختـل ۔ مـا ته داسے ښکاریده لکه چی زۀ بـلے دنیـا تـه راغـلے یم ۔ بے حسه ، بے حرکته ولاړووم او دے اجـنبی مـاحـول ، اجـنبی مخلوق او دَ هغوی اجنبی اوازونو ته مِ کتل او اوریدل . . .زمانه په لړه فاصله باندے یو ښکالو اوشوه ۔ چې ما ورپسې دَ ورتـلـو هـڅه اوکړه او ور روانیدم نو دَ روستی لمن نه چا اونیـوم او رائے خکلم ۔ زۀ لکه دَ راخکلی اس تپ اودریـدم ۔ دَ یـرے نه چغه هم نشم وهلے ۔ په دیکښی نـاګهانه تهوله هدیره یو سپین پړق شو ۔ داسے رڼا شوه چی پـه زمـکـه ګـرځنده سرۀ نری میـږی پـه ډاګـه ښـکاریـدل ۔ مـا دَ رڼا پـه ډاډ روستی لمن لـه چیک ورکـړو او چې روستـو مِ اوکتـل نـو یو پیش زما لمن پـریښوده او منډه یې کړه ۔ ما چی اخوا دیخوا اوکتل نـو تهـول قبـرونـه او دَ قبرونو کانی دَ لعلونو او ملغلرو



www.pukhto.net



ډیری ښکاریدل ۔

نورو :۔ سبحان الله ۔

دادو :۔ زمـا په زړهٔ کښی هم لالچ راغی او په دے غرض تیټ شوم چی یـو څـولـعـلونه ترینه راواخلم خو دَ روستو نه راپسی اواز اوشـو "لـعـلونه پریږده دَ بابا لمنه اونیسه چې په خپله لعل شے"۔

رحمیو ۔ الله اکبر۔

دادو :۔ مـا چې اواز پسې روستـو اوکتـل نـو یو سپین ږیرے سړے په سپین پوشاک کښې زما په طرف راروان وو ۔ مخ یې لـکـه دَ څـوارلسـمـی سپـوږمـی شغلے کولے ۔ اونو ، بـوټـو او کـاڼـو ، لـوټـوورته لاره پریښوده ۔ باباچی زما خـواله راورسیدو نو زمونږ دواړو سترګے اولګیدے ۔ هغـه مسـکـے شـو او دَ لاس پـه اشـاره یې اووې چې "ماپسې راځه " ۔ بابا مخکښے وو او زۀ ورپسې ووم ۔ دواړه یو عالیشان جمات ته اوختو ۔ جمات دَ خلقو نه ډک وو ، تهـول خلق دَ هغه احترام کښی پاڅیدل ۔ بابا پـه هـغـوی تیر شو او نیغ مهراب ته ورغی او امامت ته اودریدو او زه ورپسی اقامت ته ۔ چی نمونځ اوشو نو نورخلق په مزه مزه خویدل البته زه ملاست ووم او پـه مـلاستـه مِ دَ جمات نظاره کوله۔ په دے کتو کتو

کښې زما سترګې اولګیدے سحر چې ویښ شوم نو دَ جمات دَ قالین په ځائے په خاؤرو کښې پروت ووم او بابا دے مخامخ اونے ته ډډه وهلے وه ۔

ټول :۔ سبحان اللہ ۔

نورو :۔ حضور ! زه به درته هغه بله شپنۍ خبره اوکړم ، شپه دَ نیمۍ نه اوختې وه ۔ ټول خلق اوده وو او لکه دَ هدیرے دَ مړو خاموشه پراته وو ۔ زهٔ دَ بابا په څوکۍ ولاړ ووم ۔ په دیکښے دَ بابا په دے کوټه کښې یو سپین پرق شو۔ زهٔ په یره یره ورنږدے شوم او دَ ور په چودو کښې مې ورته اوکتل ۔ بابا دَ سرو زرو په تخت ډډه وهلے وه ۔ حورے او غلمان ترینه چاپیره ناست وو ۔ چا ورله خپې منډلے او چاورله اوږے ۔

رحیمو :۔ اللہ اکبر ...حضور! زهٔ درته بیګانۍ خبره کوم . بیګا چې تاسو ټول اوده شوی نوما هم دَ بابا دَ کوټے ورته ډډه اووهله ۔ په ناسته ناسته کښې مې سترګے ورغلے ۔سترګے مې ایله ترخے شوے وے چې دَ بابا په کوټه کښې مې کړپ ، کړوپ وورېدو ۔ چې په چودو کښې مې ورته اوکتل نو ټوله کمره یو سپین پرق وو بابا دَ سرو زرو په تخت ناست وو چاپیر ترے حورے ، غلمان وو ، دَ دنیا نعمتونه ورته پراته وو او هغه له یې په خوله کښې ورکول ۔

ټول سبحان اللہ ۔


www.pukhto.net



ایکټ:۴ سین ۹ وخت :ورځ

ځائے :۔ مختلف ځایونه ۔

کردار:۔ خدیجه بی بی

خدیجه بی بی خیرنے ، شلیدلے جامے او دَ تعویزونو امیلونه په غاړه، ببر سر ، خپې یبله خپې او سرتور سر په دشتو ، شاړو ، لارو ، کوځو بازارونو او هدیرو کښې ګرځی ...دَ زړو اخبارونو یوسترے یې په ترخ کښې نیولے دی او نورے ټکړے په لاسونو کښې دی ۔ چې څوک په مخه ورشی نو دَ هغه نه تپوس کوی ”تا دَ عالم خان پلار لیدلے دے“ ۔ لاروے چې هغے ته اوګوری نو توپے اوباسی او په مخه تیر شی ... کله کله واړهٔ هم ورپسے شی او په کاڼو یې اولی ۔ کله کله جمات ته ورشی او دَ خلقو نه تپوس کوی ”تاسو دَ عالم خان پلار لیدلے دے“؟

★★★★★★★★★★★

ایکټ:۴ سین:۱۰ وخت :مازیګر

ځائے :- کلاسواله

کردار:- مهتابه ، رخسانه بی بی

مهتابه دَ چودهری سکندر کورته ورځی ، دَ هغه ښځه رخسانه بی بی په کټ کښې ناسته وی اشتهار ګوری ۔ مهتابه یو نظر هغے ته ګوری او وائی ۔

مهتابه :- څهٔ ګورې بی بی ؟ . . .دے اخبار کښې یې څهٔ لیکلی دی ۔

رخسانه بی بی :- دا اخبار نه دے تروربے ، دا اشتهار دے ۔

مهتابه :- اشتهار ؟ دیکښے څهٔ دی بی بی ۔

رخسانه بی بی (خاندی) تروربے ، لوبه دَ پیسے ده ۔ هرچا لټ اینښې دے او دَ ښکار په انتظار دے ۔

مهتابه :- زهٔ پو هـ نشوم بی بی ۔

رخسانه بی بی :- یو بابا پیدا شوے دې ۔ دیکښے دَ هغه دَ کراماتو ذکر دے

مهتابه :- ته ورته ښهٔ اوګوره بی بی ، مجزوب باباخو نه دے ؟

رخسانه بی بی :-بالکل ، بالکل هم دا دے خو ته یې څنګه پیژنې؟

مهتابه ( خپلی ګوتے ښکلوی)وی بی بی دا څه وائی ۔ قربان یې دَ نامے نه شم هغـه دَ اولیـانـو ولـی دے او زبرګانو زبرګ دے ۔ داسے ډک دے لکه انار ۔ دَ مخ نه یې هغه شغلے خیژی چې څوک ورته نیغ کتے نشی۔



www.pukhto.net



رخسانه بی بی :- دا بابا دَ پسرور په هدیره کښې دې ؟

مهتابه :- بالکل ، مجزوب باب دَ هدیرے یوګوټ ته په یوه کوټه کښې وی ۔ یَه بی بی ! چې په هدیرے ته وردننه شې نو دَ خوشبوئی وږمے شروع شی ۔

رخسانه بی بی :- ته ورغلے یې ؟

مهتابه :- ماته هم دَ بابا متعلق څهٔ معلومات نه وو او که رشتیا رابانـدے وائی ما هم لکه ستا په دے څیزونو یقین نه لرلو ګینی څو څو ځله راته په خوب کښی ظهور شوے وو خو اخر دا چې مجبوره شوم نو ورغلم ۔

رخسانه بی بی :- څهٔ مجبوره شوے ؟

مهتابه :- بی بی هغه تیره ورځ ماښام تیاره مِ میښه لشله ۔ که وو او که نه خو زما دَ قسمته یو ښاپیرک راغی. او دَ میښې ستـرګـو سره تیر شو ۔ میښه اویریده ۔ ډک لوښی له یې لته ورکړه او منډه یې کړه ۔ دَ کوره اووته ۔ میښه مخکښے وه او زه ورپسی ووم۔ هغه څیرے شوے وه ۔ په لار کښی یې دَ ګلالے دوو ځامن په ډغره اووهل ۔ دَ ګل ببو دَ کور شپول له یې هم یو کیږ ورکړو او بیا یې منډه کړه تله ، تله چې دَ پسرور په هدیره ورسمه شوه ۔ بی بی تا بـه دا هدیره نه وی لیدلے ډیره ګڼه هم ده او درنه هم ۔

رخسانه بی بی :۔ درنه ، څه مطلب ؟

مهتابه :۔ غیب عالم دی پکښې . . .ښه ماخبره کوله چی زړه مِ کلک کړو او هدیرے ته راغلم ۔ میښے پسې ګرځیدم ، ګرځیدم چی اخرمِ پیدا کړه او تاته پته ده چرته وه ؟ دَ بابا دَ کوټے مخے ته ولاړه وه ، بابا ورته ناست وو او دَ هغے تیونه یې رول ۔

رخسانه بی بی :۔ رول که لشل ؟

مهتابه :۔ لشل نه بلکه رول ۔ زۀ ورته غلے اودریدم چی بابا موړ شو نو پاڅیدو او خپلې کوټے ته ننوتو ۔ مښے چی ماته اوکتل نو اواز یې اوکړو ۔ ما په میښه لاس اووهو او کور ته مِ رارواني کړه ۔ بیا مِ لوښې راواخستو او کیناستم ورته . . .یَه بی بی هغه پی یې راپریښودل چې یو سپین سیلاب وو چې رارواں وو ۔ دَ پیو چینې راماتے شوے ۔ چې درے لوښې مِ ترینه ډک کړل نو ځلورم ته جوړه نشوم ۔ میښه مِ ډکه غولانز پریښوده او زه ترینه پاڅیدم . . .دے میښے به ماله یو لوښې هم نه ډکوو او په دغه ورځ یې درے لوښی ډک کړل ۔ ماته پته اولګیده چې دا دَ بابا کرامت وو ۔

رخسانه بی بی :۔ اوس هغه میښه څومره پی کوی ۔

مهتابه :۔ هغه مِ دَ مجزوب بابا دربار ته وقف کړے ده ۔ ټوله ورځ په



www.pukhto.net



هدیره کښې سری دَ ستا او زما پټو کښې ګرځی او څوک یې شړلے نشی۔

رخسانه بی بی :۔ تاخو میښه بابا له ورکړه په خپله څۀ کوې ؟

مهتابه (خاندی) زما اوچه میښه او اوچه غوا تاندے شوے او دومره پی راکوی چې په څکلو او خرڅولو یې ستړے شوم ۔ بابا کښې دا کرامت شته چې څۀ څیز له ګوتې یوسی نو هغه یو په دو او دوه په څلور شی ۔ هسے چاته دے دَ خولے نه اونه خیژې خو ما خپل ټول کالی او ټولے روپۍ بابا سره کیښودے او دا یې څۀ کوې چې ګل بیو ، شیرینے او احسانے هم خپل ټول کالی او روپۍ هلته یوړل چې یو په دوه او دوه په څلور شی ۔

رخسانه :۔ که کالی روپۍ واقعی زیاتوی نو چې زه هم ورله اولیږم۔

مهتابه :۔ وی بی بی ! ته لا اوس هم پکښې شک کوے ۔ ماورله پنځه تولے کالے اوړے وو چې په پنځلسمه ورځ مِ تپوس اوکړو (خاندی) لس تولے شوے وو آئنده پنځلسو ورځو کښې به شل تولے شی ۔ روپۍ مِ ورسره څلویښت زره ایښے وے اوس دَ خیره اتیا زره دی او راتلونکے پنځلسو ورځو کښې به یو لاکھ شپیتۀ زره شی ۔

رخسانه بی بی :۔ ماسره څلویښت تولے کالې او څلور لاکھه روپۍ دی دے سره څۀ اوکړم ؟

مهتـابه :۔ وې بی بی ! تاسره لادومره شته او ورته ګورے ۔ شابه زرکوه
دا ورلـه اورسـوه او کـه نـورے درسره وی هغه هم ورله
یـوسـه ۔ پـوره یـوه میـاشت پس ترینه دغه راواخله ۔
اضـافی کـالے او روپۍ ترینه کور کیږده او نور ورسره
بیا جمع کړه ...بی بی چاته دے دَ خولے نه اونه خیژی
خو اوریدلے مِ دی چی هغه سره اسم اعظم دے ۔ او
پیریان یې دست کښې دی ۔

رخسانـه بـی بـی :۔ مهتـابے تـرور ! تـه داسے اوکړه چی زما دا کالی او
روپۍ ورله یوسه چی ډیرے شی ۔

مهتـابـه :۔نـه بـی بی نه ۔ دا به ته په خپله اوړے ۔ په خپل لاس به یې
ورکـړے چـی ستـا پـه مـخکښے پرے دم واچوی او دَ
پیریانو مشر ته یې حواله کړی ۔

رخسانـه بـی بـی ۔ ښه زهٔ به ورشم خو ماسره به وعده کوې چی نه به
زما نوم چاته اخلې او نه به دَ کالو ، روپو متعلق چاته
څهٔ وایې ۔ زهٔ ویم چې دا کار پټ په پټه اوشی او چی
زمـا خاونـد چـودهـری سکندر خبریږی چی روپۍ دَ
شلـور لاکهـو نـه پنځوس لاکهو او کالی دَ شلوینښت
تولے پوره سل تولے ته رسیدلے وی ۔

مهتـابـه :۔ هغـه خـو بـی بی ستاخوښه ده ۔ چې څومره ګوره اچوې
دومـره اوبـه خـوریږی چی څـومره ډیر وخت واخلی



www.pukhto.net



هو مره به زیات شی۔

رخسانـه بی بی :۔ ښه ماسره وعده اوکړه چی زما نوم یا زما دَ سرمایے
متعلق به چاته هیڅ نه وائے ۔

مهتـابه :۔ زهٔ خو بی بی ستاسو خدمتګاره یم ۔ پلار په نیکهٔ ستاسو
پـه ټکړو لوے شوے او ستاسو په زړه ، نوے پټ شوی
یـو۔ زمـالـه خوا بالکل مطمئنه اوسه چې یو غوږ او
بل غوږ به رانه نه خبریږی ۔

رخسانـه بـی بـی :۔ داسے نـه ماته به په سورقرآن لاس اړدے هله به مِ
تسلی کیږی ۔

مهتابه :۔ بی بی ! ګټه ستا ده او قسم ماله راکوی ، دا خو ډیر زیاتے دے

رخسانه بی بی :۔ زیاتے نه دے ۔ دا دے دَ پاره چې زما او ستا په مینځ
کښې شک ، شبه نه وی ، چی زهٔ په پټو سترګو په تا
اعتبار کوم او ته په ما ۔

مهتـابـه :۔ ښـه نـو زمـا هم یو شرط دے او هغه دا چی په سور قران به
دواړه لاسـونـه اړدو چې ته به زما نوم چاته نه اخلے او
زهٔ ستا ۔

رخسانه بی بی :۔ ډیره مِ خوښه ده ( هغوی دواړه قسم خوری)

مهتـابـه :۔ ښـه اوس ځان تیار کړه چې څو او هنّ کالو او روپو سره یو
چټ هم اولیکه چی "شلور لاکهه روپۍ ، شلوینښت
تولے کالے بنام رخسانه" شابه زرکوه چی څو ۔

ایکټ:۴ سین:۱۱ وخت:ماسپخین

ځائے:- دَ پسرور هدیره۔

کردار:- نورو ، دادو ، رحیمو او نور خلق

نورو سره دَ کلی پنځه بے روزګاره ځلمی راځی ۔ په سپر کښی انتظار کوی ...لږه شیبه دَ هغوی وار هم راشی او ټول کوټے ته ورځی ...دا دوِ دَ پړدے په شا د مجزوب بابا په خپو ، لاس زور کوی ۔ نورو سره چی پنځه کسه ځلمی اووینی نو هغه دَ پړدے نه را اوځی په خپل سیټ کینی۔

دادو:- څۀ دی ځلمو! څۀ غواړی ؟

ټول:- مونږ نوکری غواړو ۔

دادو :- یوکس خبرے کوی ،دَ بابا په دربار کښی په اوچت اواز او په ګستاخه انداز خبرے کول ګناه ده ۔ خبردار چې بیا داسے اونه کړی ۔

ټول:- توبه مو ده حضور بیا به داسے نه کیږی ۔

دادو :- ښه یو کس خبرے کوی( نورو ته اشاره کوی ) تۀ ځلمیه په دوی کښې لوے یې ۔ ته وایه څۀ غواړی ؟

نورو:- حضور ! زمونږ دَ ټولو یوه مسله ده او هغه دا چې مونږ ټول بے روزګاره یو مونږ نوکری غواړو ۔

دادو ( پیټی نه ځاختونه را اوباسی ) "دا ځاختونه واخلی ، دَ دے نه یو ځاخت سحر او بل مابنام دَ ډوډی نه مخکښے په نهره



www.pukhto.net



خیته درے ورځے باقاعدګی سره استعمال کړی ۔ انشاء الله کار به مو اوشی۔

نورو :- زمونږ ځاختونه نه دی پکار ، نوکری پکار ده ۔

دادو ( دَ پیټی نه تعویزونه را اوباسی ) دا تعویزونه واخلی ۔ دا په شنه کپړا کښې بند کړی او دَ غسل نه پس یې په ښی مټ اوتړی ۔ انشاء الله ډیر زر به مو کار اوشی ۔

نورو:- حضور! زمونږ نه تعویزونه پکار دی نه ځاختونه ، زمونږ نوکری پکار ده ۔ اولږے اخستے یو ، زمونږ ډوډی پکار ده ۔

دادو :- ښه اوبه شی ، مخکښے لنګر ته ورشی ځانونه ماړۀ کړی ۔

نورو:- نه حضور! لنګر ته به هله ځو چې مخکښے نوکری راکړے۔ (مجزوب بابا ځان سره خبرے کوی)۔

دادو:- مبارک شی ، مبارک شی ، کار مو اوشو ۔ بابا اومنله ۔

نورو (ټولو له مبارکی ورکوی )مبارک شی ۔ بابا راضی شو ۔

ټول :- ډیره مهربانی ، ډیره شکریه ۔

نورو:- حضور زمونږ ډیوټی به څۀ وی ؟ او زمونږ تنخواه به څۀ وی۔

دادو:- تاسو ټول بابا نوکران کړی یې تاسو دَ بابا سړی یې ۔ ستاسو دا ډیوټی ده چی دَ بابا دَ دربار د تقدس او تحفظ خیال به ساتی۔

نورو :- او تنخواه ؟

دادو :۔ تهٔ د دوی مشر یې نو ستا تنخواه شل زره روپۍ شوه او دَ دوی دَ یو یو کس اتهلس زره روپۍ ۔

نورو:۔ حضور ! دا ټول زما ملګری او دوستان دی ۔ دا پنځه کسان دَ پسرور پنځه کورنۍ دی اوکورنۍ هم ښه اوچتې ۔ په خپله علاقه او خواؤ شاکښې ورته څوک مخ نشي اړولے ۔ حضور! ته مهربانی اوکړه زمونږ دَ ټولو تنخواه یو برابر کړه ۔

دادو ( خاندی ) ښه ځی ستاسو تنخواه شل زره روپۍ سړې شو ۔

نورو :۔ اوس مونږ ته څهٔ حکم دے ۔

دادو :۔ ستا څهٔ نوم دے ۔

نورو :۔ زمانوم نور محمد نورو دے حضور ۔

دادو :۔ ښه نورو دوی لنګر ته بوځه او چی ښه ماړه شی نو بیا یې ماله راوله ۔

(رحیمو په غصه راځی )

رحیمو:۔ حضور دے کسانو بے نمبری اوکړه ۔ د دے ټولو نه تپوس اوکړه حضور ، دوی زمانه روستو راغلی وو۔ دَ دوی کار اوشو او زهٔ لا هغسے پاتے یم ۔

دادو :۔ تهٔ څهٔ وائے ځوانه !

رحیمو :۔ حضور یو امانت م راؤړے دے دا ځان سره کیږده ۔ دا څلور لاکهه روپۍ دی ۔

نورو :۔ ګوره روریه ! که دا روپۍ امانت اږدې نو تر اخره به امانت پرتے


www.pukhto.net



وی او چې کله یې اوړے نو هم دغه څلور لاکهه به اوړے او که ډیرول یې غواړے نو پنځلس ورځے پس راځه او اتهه لاکهه اوړه او که میاشت پس راځې نو شپاړس لاکهه به اوړے ۔ اوس ستا خوښه ده چی امانت یې اږدے او که ډیروې یې ۔

رحیمو:۔ زهٔ ویم چی ډیرے شی ۔ یو په دوه ۔ دوه په څلور شی او نورے هم زیاتے شی ۔

دادو :۔ ډیره ښه ده ۔ راکړه روپۍ چی بیا کله راغلے نو حساب کتاب به اوکړو ۔

★★★★★★★★★★

ایکټ:۴ سین:۱۲ وخت:غرمه

ځائے :۔ دَ بابا دربار

کردار:۔ دادو ، نورو ، رحیمو ، چودهری سکندر ، میاں صیب شاهد ۔

دَمجزوب بابا په دربار کښې د خلقو ډیره بیړه وی ۔ خلق راځی ، دا دو ځاختونه ، تعویزونه ورکوی او دمونه پرے اچوی ۔ هر سړې او هره ښځه څۀ ناڅۀ مراد راؤړی ، هغه دَ بابا خادم خاص ، دادو ته وائی او دَ هغوی دَ خواهشاتو مطابق نسخه ورکوی ۔ په زرګونو اولاکهونو روپی په لږ ساعت کښې راغونډیږے شوې . . .په دغه کسانو کښې چودهری سکندر میاں اعظم فاروقی او شاهد هم ناست دی ۔ چې ټول ختم شی نو دادو دَ هغوی نه تپوس کوی ۔

دادو (چودهری سکندر ته) ښه جی ستاسو څۀ مسله ده ۔

چودهری صیب:۔ زمانوم چودهری سکندر دے او دا نور دوه کسان زما ملګری دی ۔ مونږ تاسو سره سودا کول غواړو ۔

دادو :۔ څۀ سودا ؟

چودهری صیب :۔ مونږ دا خواست کوو چې تاسو له خدای لویه مرتبه درکړے ده ۔ دَ باباجی دَ دربارِ اقدس دَ خدمت موقع یې درکړے ده ۔ حضور دا خلق ټول جاهل دی دَ خبرے تمیز پکښې نشته نو که تاسو د دے دربارِ



www.pukhto.net



عالیه دَ خدمت ټیکه مونږ له راکړی ؟

دادو :۔ ټیکه ؟ دا څه وائې ؟ توبه اوباسه توبه خوله به دے کړه شی ۔ ستا دا مجال چې داسے خبرے اوکړے ، که دَ بابا دَ دربار بے ادبی نه وه نو اوس به مې درنه دَ بهوسو ښخی جوړ کړے وو دومره به مې پړسولے وے ۔ نور درته څه نه وایم خو پاسه او سپک پاسه ۔

دَ دادو تیزے او قهریدلے خبرے چې پاسبانانِ دربار ووری نو دو کسان سره دَ کلاشن کوفو دننه راځی ، دَ ټوپکو لټونه راکاړی هغوی ته یې نیسی او دادو ته وائی "حضور ! خدمت وایه ، دوړه یې کړو"۔

دادو :۔ نه ، نه ګوری ډز اونکړی ۔ مونږ خو هسے خپلو کښې خبرے کولے ، ځې تاسو ځی هیڅ نشته ۔( هغوی دواړه روانیږی او په قهریدلے سترګو هغوی ته ګوری )"خفه نشی زمونږ دا پاسبانان جذباتی شول ۔ معافی غواړم"۔

چودهری صیب :۔ نه حضور معافی به درنه مونږ غواړو ۔ کیدیشی زمونږ څۀ خبره ستاسو په خاطر درنه لګیدلے وی ۔

میاں صیب:۔ حضور ! که دَ چودهری صیب خبره دربانده بدلګیدلے وی نو زۀ درنه معافی غواړم ۔ دَ معافی نه پس حضور که ستاسو اجازت وی نو زۀ به دَ چودهری

صیب دَ خبرے وضاحت اوکړم ۔

دادو :۔ اجازت دے ۔

میاں صیب :۔ حضور دَ ټیکے دا ټکې په ما هم بد اولګیدو خو د دے علاوه مونږ سره څۀ بل ټکی نشته ۔ نو که تاسو زمونږ په درخواست لږ غور اوکړی نو په دیکښے زمونږ هم فائده ده او ستاسو هم ۔ مونږ ته به دَ بابا دَ خدمت موقع په لاس راشی او تاسو ته به مالی فائده اوشی ۔

دادو :۔ زماپکښی څۀ فائده ده ؟ دا خو زۀ دَ بابا خدمت کوم ۔ او که ستاسو سترګے دَ خلقو نزرانو او منښتو ته وی نو په دے خو لنګر چلوو ۔ زۀ یې په خپل جیب کښې نه اچوم ۔

شاهد:۔ حضور مونږ درنه دَ ټول عمر ټیکه نه غواړو بس د دغه کال شپږ میاشتو ۔مونږ به دَ بابا خدمت هم کوو ، لنګر به هم چلوؤ او تاسو له به ستاسو دَ مرضی رقم هم درکړو ۔

دادو :۔ نه ، نه داسے نشی کیدے ۔ دا کاروبار یا تجارت نه دے ، عوامی خدمت دے دا نه دَ مال منډۍ ده او نه دَ بسونو اډه ده چې تاسو له یې ټیکه درکړم ۔

چودهری صیب:۔ حضور دیکښے څۀ قباحت دے ؟ ۔ ټیکه نه څۀ جرم دے او نه څۀ ګناه ده ۔ دَ داتا صیب دربار ټیکه شوے دے ، دَ بابا بلهے شاه ، سلطان باهو او دَ شاه عبداللطیف بهټائی دربارونه ټیکه شوی دی ۔ دَ هغوی خادمین



www.pukhto.net



کال په کال خپلې پیسے اخلی او ښۀ دَ ارام وخت تیروی ۔ تاسو بے غمه ، بے دړده خپل کیش اخلئ او خپلې مزے کوئ ، که یورپ ته ځی او که امریکے ۔ دَ هر بینک نه تاسو ته پیسے ملاویدے شی ۔ مونږ خو درته اصل صورت حال واضحه کړو نور ستاسو خوښه ده لږ سوچ پرے اوکړی که زړه مو پرے اوبه څکی خو ټیک ده ګینې نه صحی ۔

دادو :۔ څه په دے به بیا خبرے اوکړو ۔

میاں صیب :۔ بابا سره ملاویدے شو ؟

دادو :۔ ملاویدے شی خو اوس نه اوس هغه په عالم استغراق کښې دے ۔

چودهری صیب:۔ ښه جی مونږ به بیا راشو ، لاړو درنه سلام علیکم۔

دادو :۔ وعلیکم سلام ۔

★★★★★★★★★★★★★

Pukhto.Net پښتو

ایکټ:۴ سین:۱۳ وخت:ماښام

ځائے:- دَ بابادربار

کردار:- دادو ، رحیمو ، نورو ، شاهد ، نرگس ، میاں صیب ، دلشادبانو، چودهری صیب ۔

دادو (نورو او رحیمو ته) ۔ پرون درے کسان راغلی وو هغوی دَ بابا دربار په تیکه اخستل غواړی ۔

رحیمو:- حضور تیکه د څومره مودے دَ پاره اخستل غواړی ؟

دادو :- کال یا شپږ میاشتی

نورو:- حضور دا خو دَ سرو کان دے ، دومره پیسې به هغوی سره وی؟

دادو:- د سروکان دے خو خاؤرے او شگې به چنوې او سرۀ به ترینه اوباسی ۔

رحیمو:- حضور تاسو ورته څۀ اووے ؟

دادو:- ماورته لا څۀ نه دی ویلے چې تاسو صلاح شی۔ او ښه مو خوښخه وی نو بیا به ورسره خبره اوکړو ۔

نورو :- ستا څۀ خیال دے حضور ؟

دادو:- دَ حالاتو څۀ پته نه لگی ۔ کیدیشی حالات بدل شی ۔ زۀ خو ویم چی تیکه به ورکړو دَ شپږو میاشتو او تولے روپۍ به ترینه ایډوانس واخلو ۔ په دے به خپله تیل ، مالړه اوکړو ، بیا به گورو ۔



www.pukhto.net



رحیمو:- نه حضور تیکه به تول عمری ورکړو او تولے پیسے به ترینه ایډوانس واخلو ۔ (یو پاسبان راځی)

پاسبان :- حضور بهر یو سړے ولاړ دے دَ راتلو اجازت غواړی ۔

دادو :- اجازت دے ، راځی دے (شاهد یوے زنانه سره راځی) زنانه دَ زنانه ؤ انتظار گاته بوځه ۔

شاهد:- حضور ! معافی غواړم په دے باندے پیریان دی او کله کله پرے داسے غوټه راشی چې ټوپونه اومنډے وهی ۔ څۀ په مشکله م ترے ځایه راوسته چی بابایې دم کړی ۔

دادو :- بابا خو فی الحال ډیر لرے دے ۔

شاهد:- څۀ مطلب ؟ بابا دلته نشته ؟

دادو :- طبعی لحاظ سره خپل ارام گاه کښې دے خو روحانی لحاظ سره په عالم بالا کښې په رازدنیا کښې مصروف دے (هغه دَ پیټی نه څاختونه او تعویزونه را اوباسی ) دا څاختونه واخله ، دا یو ورله په اوبو کښې ویلے کړه او هغه اوبه ورکړه چې اوڅکی ، انشاء الله په یو څاخت به کار اوشی خو دَ احتیاط دَ پاره دا درے څاختونه واخله او دا تعویز به ورله په شنه ټکړه کښې بند کړے او په غاړه کښې به یې ورته واچوې ۔ هن واخله ۔

شاهد:- حضور دا په څاختونو او تعویزونو نه ښه کیږی ۔ دے ته دَ بابا دَ خصوصی التفات ضرورت دے ۔

دادو :۔ بیا لږ انتظار اوکړه چې بابا دَ رازونیاز نه فارغ شی او خپل ارام
گاه ته راشی ....

شاهد:۔ زۀ انتظار نشم کولے ، یو ضروری کار له اسلام اباد ته روان یم ۔
دا به دلته پریږدم چی کله بابا اوزگار شی نو هغه به
یې دم کړی او چې ترڅو زۀ دَ اسلام اباد نه واپس نه یم
راغلے تر هغے به دلته دَ بابا په تحفظ کښې وی ۔

دادو :۔ نورو دا بی بی دَ زنانه ؤ ارام گاه ته بوځه او فی الحال دا یو
ځاخت ورکړه ۔

نورو :۔ ډیره ښه ده حضور ....راځه بی بی چی تا آرام گاه ته اورسوم۔

شاهد:۔ (دادو ته) حضور زۀ دے اونه پیژندم ، هغه بله ورځ مو تاسو
سره دَ دربارِ اقدس دَ ټیکے په باره کښې خبره کړے وه ۔

دادو :۔ تاسو خبره کړے وه خو آفر مو نه وو کړے ۔

شاهد:۔ حضور زما خپلو ملگرو سره په دے ټیکه اختلافات راغلی
دی ۔ زۀ دا ټیکه ځان له او صرف ځان له اخستل
غواړم ۔

دادو :۔ زما پرے هیڅ اعتراض نشته ۔ ته یې واخله ، خبره کوه ؟

شاهد:۔ (کیس پرانیزی) حضور فی الحال دا لږے شان روپۍ راوړے دی ۔

دادو : دا څومره دی ؟

شاهد:۔ دا شل لاکهه دی حضور ۔

دادو :۔ شل لاکهه دَ شپږو میاشتو ؟


www.pukhto.net



شاهد:۔ نه حضور دا ایډوانس دے ، ځان سره یې کیږده ۔ دا صرف
بیانه ده ۔ زۀ به هفته ، لسو ورځو کښې دَ اسلام اباد
نه واپس شم نو نوره خبره به بیا اوکړو ۔ تر هغے به
نرگس هم ښۀ شوې وی او کیدیشی باباته یې زما
سفارش هم کړے وی ۔

دادو :۔ نرگس څوک ده ؟ د دے جینۍ نوم نرگس دے ؟

شاهد :۔ هاؤ حضور !

دادو :۔ دا ستا څۀ ده ؟

شاهد:۔ دا زما ښځه ده حضور ۔ دغه پیریان ظالمان ورپورے انښتی
دی او نه یې پریږدی ۔

دادو :۔ د دے څۀ اولاد شته ؟

شاهد:۔ حضور ! څۀ دَ پیریانو دَ لاسه او څۀ دَ بے اولادۍ دَ لاسه یې دا
حال شو ۔

دادو :۔ اوبه شی ...اوبه شی ، دواړے مسلے به حل شی ۔

شاهد (خاندی) اوبه شی حضور ؟ ډیره مهربانی ۔ حضور دا روپۍ ځان
سره کیږدی ، دا صرف بیانه ده نورے خبرے به بیا
اوکړو ۔

دادو :۔ بیانه دَ څۀ خبرے ؟ ماخو تاسره دَ ټیکے خبره نه ده کړے ۔

شاهد:۔ نه حضور ! زما مطلب دے چی دا زما دَ طرفه دَ بابا دربار ته نزرانه
ده ۔ دا قبوله کړۍ خو بل چاسره خبره اونه کړۍ ۔

دادو :۔ نه نه داسے نه ده ، خبره به زه هر چا سره کوم خو . . . .

شاهد:۔ خو . . . څۀ حضور ؟

دادو :۔ خو تیکه به ملاویږی تاته ۔

شاهد:۔ ډیره مهربانی حضور ، ډیره شکریه ، ډیره مننه ۔

دادو :۔ دیکښے دَمهربانۍ یا دَ شکریے خبره نشته دا دَ ډیل خبرے دی ۔ چونکه ستا آفر معقول هم دے او زمونږ دَ اصولو مطابق هم دے ، بله خبره دا ده چې تۀ رومبې سړے یې نو رومبی حق ستا دے ۔ زۀ به فیصله په میرټ کوم او بله خبره دا ده چې کیدیشی ستا ښځه نرگس باباته ستا سفارش هم اوکړی ۔

شاهد:۔ په هغے مِ پوره یقین دے هم داسے به کوی ۔ ښه جی ماته دَ تلو اجازت دے ، تلے شم ۔

دادو :۔ څه ورځه ۔

شاهد:۔ لاړم درنه حضور ، سلام علیکم ۔

دادو :۔ وعلیکم سلام ، په مخه دے ښه ۔ (رحیمو راځی) "رحیمو! نورو څۀ شو "؟

نورو:۔ حضور ! هغه په هغه جینۍ دمونه اچوی (نورو راځی)

دادو:۔ یَه هلکه نورو تۀ چرته وی ؟

نورو :۔ حضور په هغه بی بی مِ دمونه اچول ۔

دادو ( خاندی ) تاله دم درځی ؟



www.pukhto.net



نورو:۔ حضور لږ تپوس ترینه اوکړه نو په خپله به درته معلومات اوشی ۔ هغه دمونه مِ پرے چف کړل چې اوس پرے دَ پیریانو هوا هم نشی لگیدے ۔

دادو :۔ دا غریبه بے اولاده هم ده ۔

نورو :۔ دا ارمان به یې هم پوره شی (پاسبان راځی)

پاسبان :۔ حضور ! یو میلمه راغلے دے ، د راتلو اجازت غواړی ۔

دادو :۔ اجازت دے ۔

(میاں اعظم فاروقی راځی ۔ هغه سره یوه زنانه هم وی ۔ هغوی راځی او دادو ته مخامخ کینی ) ۔

میاں صیب :۔ حضور ! زۀ دے اوپیژندم ؟

دادو :۔ ته مِ اوپیژندے خودا جینۍ مِ اونه پیژنده ۔ شاید ستا لور ده؟

میاں صیب:۔ نه حضور ! دا زما بی بی ده دا ذهنی بیماره ده ۔ دمولو دَ پاره مِ راوستے ده (دَ میاں صیب ښځه رحیمو سره جخته کینی) دَ هغه په اوږه سر اږدی او وائی ” I Love you,kiss me please “

میاں صیب (په غصه) دلشاد بانو ! دَ حضور او بابا په مخکښے دا بے ادبی ؟ شیم فاریو ۔ خفه نشی حضور ، دا ذهنی بیماره ده ۔ دامِ دلته راوستے ده چی بابا پرے دمونه واچوی ۔

دادو :۔ بابا دَ عالمِ موجودات نه ډیر لرے په عالمِ مابعد الطبیعات کښې په رازونیاز کښی مصروف دے ۔ رحیمو دا بی

بــی بیـمــاره ده ، دا ارام ګــاه تــه اورسوه ـ او هنّ دا یو
ثاخت هم ورکړه چې فی الحال لږ ارام اوکړی ـ او که
پـه دے اونشی نو بیا پړے دمونه واچوه ـ میاں صیب
دا چونکه ذهنی بیماره ده نو دا به لږ وخت اخلی ـ

میاں صیب :ـ ok.ok ، وخت دے واخلی خو چې ښه شی ـ

دادو :ـ ښه کیږی به ولے نه ، څه رحیمو دا بوڅه(هغوی روانیږی) "میاں
صیب د دے څۀ اولاد شته "؟

میاں صیب :ـ حضور ! دَ اولاد ارمان خو دے حال ته رااورسوله ـ

نورو:ـ حضور !زۀ ورځم چې دَ هغے بلے بیمارے حال معلوم کړم او که
د دم ضرورت وی چی ...

دادو :ـ ورشه ، ورشه ـ

میاں صیب :ـ بل ښوک بیماره هم شته ؟

دادو :ـ هاؤ ، اوس ، اوس ستـا دَ راتـلو نـه لږ مـخکښے ستاسو هغـه
مـلـګرے شاهد راغلے وو دَ هغه په بی بی پیریان هم
دی او بے اولاده هم ده ـ

میاں صیب:ـ پیریان ، میریان نشتـه حضور ، ښه تیک ټاک ده خو هغه
دلـه دے ـ دغـه ښـځـه اخـلاقی لحاظ سره تیک نه ده
حـضور ، د دربار عالیه تقدس ته به نقصان اورسوی ـ
دا لرې کړی حضور ـ

دادو :ـ اوس خو شپه ده او یواځے هم ده ـ چې شپه تیره کړی نو صبا له


www.pukhto.net



به ورسره ګورو ـ

میاں صیب:ـ شاهد څنګه راغلے وو حضور ؟

دادو :ـ بی بی یې راوستے وه ـ

میاں صیب :ـ څوانه جانه ښځه یې پریښوده او هغه ترینه لاړو ؟

دادو:ـ صرف ښځه نه (سوټ کیس ورتـه ښائی) دا اوګوره شل لاکهه
روپی او دغـه بهـر ولاړ مـوټر یې هم پریښودو او لاړو
اسلام اباد ته ـ

میاں صیب:ـروپی او موټر یې په کومه خوشحالی کښې پریښودل ـ

دادو :ـ د بابا دربار ته دَ نذرانے په خوشحالی کښې ـ

میاں صیب:ـ حضور ! دَ دربارِ عالیه دَ تیکے په باره کښی خو یې څه
ویلے نه دی ـ

دادو :ـ ویلے یې دی ـ په دے خوشحالی کښې خو یې دا نذرانه پیش کړه ـ

میاں صیب:ـ فیصله خو نه ده شوے ؟

دادو :ـ خبره مو لانه ده کړے ؟

میاں صیب ـول ډن ، شاباش ، اوس به زما او دَ هغۀ دَ غیرت پته لګی ،
هغه شل لاکهه درکړے او زۀ دیرش لاکهه نذرانه پیش
کـوم ـ هغه کروله درکړے ده او زۀ دَ لینډ روور (Land
rover ) نذرانه پیش کوم ـدا صرف نذرانه ده حضور
خو دَ تیکے خبره بل چاسره اونکړے ـ

دادو :ـ ولی ستاسو په مینځ کښې اختلاف راغلے دے ؟

میاں صیب:۔ دغه دواړه زما دشمنان دی ۔ چودهری سکندر او شاهد
دواړه ...او دا شاهد خو دومره لالچی دے چې دے دَ
پاره یې خپله ښځه هم تاسو ته حواله کړه او په خپله
لاړو اسلام اباد ته ۔
دادو (غصه شی) څۀ دے اووے ؟ دے نه خو دا معلومیږی چی ستا
زمونږ په کردار شک دے ۔ څه اوځه پاخه او دا خپلې
روپۍ دے هم ځان سره واخله ۔
میاں صیب:۔ نه حضور ! تاسو زما په مطلب پوهه نشوۍ ۔
دادو :۔ زۀ پوهه نشوم ؟ ډیره دَ افسوس خبره ده چی تۀ سره د تعلیمه او
عقل پوهے دومره کچه او سپکے خبرے کوې ۔ ښځه
خو تا هم راوستے ده او خادم ته دے حواله کړے ده چی
هغه ته ګوته نیسی نو ځان درنه ولې هیر شو ۔
میاں صیب:۔ حضور! ستاسو د جلال نه قربان ! زما مطلب دے چې
زما ښځه دَ بابا مریده ده بابا خو لا لویه خبره ده چې دَ
بابا په مریدانو هم ځان وژنی ۔ په ویښه او خوب
کښې یې په خوله دَ بابا نوم دے ۔ مونږ دَ پاره خو
حضور دواړه مقدس یې ۔
دادو :۔ پاخه پاخه څه اوځه او ښځه دے هم ځان سره اوله ۔
میاں صیب:۔ (دَ هغه په خپو پریوځی) معافی غواړم حضور ، بیا به داسے
نه ویم توبه مِ دے وی حضور ۔ دَ بابا په خاطر مِ معاف


www.pukhto.net



کړه حضور۔
دادو :۔ ښه پاخه (رحیمو راځی) "دَ بی بی حالت څنګه دے"؟
رحیمو:۔ دَ مخکښے نه ډیره ښۀ شوے ده حضور خولا پوره ښه نه ده۔
دادو:۔ ځه ورشه تۀ خپل کار کوه ۔ زر کوه میل صیب دَ هغے انتظار
کښی ناست دے چی ځان سره یې بوځی ۔
میاں صیب:۔ نه حضور ! زه هغے ته نه یم ناست ۔ زۀ ستاسو نګاهِ کرم
ته ناست یم ۔
دادو :۔ ته څۀ ویل غواړے ؟
میاں صیب :۔ حضور که تاسو بد نه ګنړی نو دَ دَ ټیکې متعلق به
عرض اوکړم ۔ حضور بل چاسره خبره اونه کړی ۔
فی الحال دا دیرش لاکهه روپۍ او ګاډې دَ نذرانے په
طور قبول کړی او که چودهری صیب یا شاهد راغی
نو هغوی سره خبره اونه کړی ۔
دادو :۔ نه میاں صیب خبره به زۀ هر چاسره کوم خو ....
میاں صیب :۔ خو ...څۀ حضور ۔
دادو :۔ خو ټیکه به تاته ملاویږی ځکه چی ستا افر نسبتًا معقول دے ۔
میا ں صیب :۔ ډیره مهربانی حضور ! ډیره شکریه ۔ اجازت دے
حضور زه درنه ځم ۔
دادو :۔ چی ځې نو خپله ښځه دے هم ځان سره بوځه ، اوس ښه شوے ده ۔
رحیمو:۔ حضور بالکل ښه شوے ده ما راوسته خو هغه نه راځی ۔

میا ں صیب ( خاندی ) هغـه مـه چیړه ،وی دے ، وی دے ۔ چی هغه خوشحاله ده نو زۀ هم خوشحاله یم ۔ ماته دَ هغے نه ، دَ تیـکـے ضرورت دے ۔ بنۀ حضور زه درنه لاړم لاهور ته ، هفته ، لس ورځے پس به راشم ، سلام علیکم( بهر اوځی ) ۔

دَ هغه دَ تلو نه پس دادو او رحیمو یو بل ته ګوری او خاندی ۔ هغوی لا هغسی خانـدی چې پاسبان راځی او وائی "حضور چودهری سکندر دَ راتلو اجازت غواړی "۔

دادو :۔ "یو ائے دے که څوک ورسره شته ؟

پاسبان :۔ حضور یوه جینۍ هم ورسره ده ( رحیمو او نورو بهر اوځی)

دادو:۔ اجازت دے ۔ راځی دے ۔

(چودهری سکندر دَ یوے جینۍ سره راځی )

چودهری صیب :۔ السلام علیکم ! حضور اقدس ۔ طبعیت شریف۔

دادو :۔ وعلیکم السلام ! کینه ۔

چـودهـری صیب :۔ حـضـور داسـے مـعـلـومیـږی چی زمـا دَ راتلو نـه مـخکښے دلته شاهد او میاں صیب راغلی دی څکه چی ګاډی یې دلته ولاړ دی ۔

دادو :۔ هاؤ ، هغوی دواړه بیل بیل ، راغلی وو او بیل بیل لاړل ۔

چـودهـری صیب :۔ دا ګاډی یې ولے پریښودل حضور ؟ کیدیشی لرے نه وی تلے دلته چرته وی او واپس راځی ۔



www.pukhto.net



دادو :۔ نه شاهد لاړم اسلام اباد ته او میاں صیب لاړو لاهور ته ۔

چودهری صیب : او دا ګاډی ؟

دادو :۔ دا ئے دَ بابا دربار ته دَ نذرانے په طور پیش کړل ۔

چودهری صیب :۔ دَ ګاډو نذرانه ؟ امیزنګ ۔

دادو :۔ نـه ، صـرف دَ ګـاډو نـه ۔ شـاهـد دَ ګـاډی نه علاوه دا شل لاکهه روپۍ او میا ں صیـب دَ ګـاډی نـه علاوه دیرش لاکهه روپۍ پریښودے۔

چودهری صیب ( لورته ) مـادرته نه وې رانی چې دا دواړه ډیر بے ایمانه دی ۔ دَ تیـکـے دَ لالـچ دَ پـاره یـې ګاډی او روپۍ نذرانه کـړے . . . ځه ورشه لورے دَ بابا په خپو زور وکړه چې ثواب دے اوشی ۔

دادو :۔ نـه چودهری صیب ! بابا فی الحال اوزګار نه دے ۔ هغه په عالم بالا کښی په راز د نیاز کښی مصروف دے ۔

چـودهـری صیـب :۔ کـه هغـه اوزګـار نـه دے نو تاسو خو اوزګار یې حضور ۔ ورشه رانی دَ حضور په اوږو زور کړه ۔ ( رانی پاځی او هغه له په اوږو زور کوی )

دادو :۔ نـه نه ۔ داسے به نه کوے ۔ دغلته کینه ماله نزدے رانشې( رانی واپس کینی ) دا جینۍ څوک ده ؟

چـودهـری صیـب :۔ دا زما دَ زړۀ ټکړه یعنی زما لور ده ۔ حضور ! دا دَ یـونـیـورسټـی طـالـبـه ده ۔ دے ته یو تیسز (Thesis)



Pukhto.Net

مـلاؤ شـوے دے "دَ اولیـاؤ کـرامـات" دے دَ پاره دا دَ
مـجزوب بـابـا پـه حیاتِ مبارکه او کرامات وتجلیات
باندے کتاب لیکل غواړی ۔

دادو :۔ ډیـره ښـه خبره ده ۔ زه د دے دَ جذبے او مینے قدر کوم او دَ بابا دَ
طرفه ورته هرکلے ویم ۔

چـودهری صیب:۔ د دے نگاهِ کرم دَ پاره خو دلته راغلے ده حضور . . .
حضور دَ تیکے خبره خو مو هغوی سره نه ده کړے ؟

دادو :۔ نه ، کړے مِ نه ده خو کیدیشی اوشی ۔

چودهری صیب :۔ څۀ مطلب ؟ زه پوهـ نشوم حضور ۔

دادو :۔ تـه لا پوهـ شوے نه یې ؟ ما خودرته مخکښے اووے چې هغوی
ډیرے غټې نذرانے پیش کړے ۔

چـودهری صیب :۔ حـضـور زۀ دَ کـلاسـواله چودهری یم ۔ په سرِنو
ایـکړه زمکه لرم او دغه خوار پرِق ماسره نوکران پاتې
شـوی دی ۔ دوی زما دَ لاسه سرِی شو په لاکهو روپی
مِ پرے اوگټـلې او چې په خپلو خپو اودریدل نو اوس
زمـا خپـې وهـی ۔ زۀ بـه دَ هغوی نه په هر څۀ کښې
وړانـدے یـم ۔ یـوشـل لاکهـه درکـړی دی ۔ بل دیرش
لاکهــه درکــړی دی ، زۀ بــه څلویښت لاکهـه درکـړم
(سوټ کیس پرانیزی) دا څلویښت لاکهه روپی دی دا
قبـولے کـړه حـضـور ۔شاهد کـروله درکړه میل صیب



www.pukhto.net



Land rover درکـړو او زه بـه درتـه جـدید ترین لینډ
کروزر پیش کـړم ۔ حضور دا واخلئ چابیانے ۔

دادو :۔ روپـی بـه درنـه واخـلـم او قبـول بـه یې کـړم خو گاډے دې لا فی
الحال وی ۔ بیا به یې څۀ وخت راولې ۔ اوس شپه ده ،
دا جینئ پکښې کور ته اورسوه ۔

چـودهـری صیـب :۔ نـه حـضـور ! جینـئ خو زۀ نه بوځم او نه دا تلل
غـواړی ۔ دا بـه تـر هـغـے تاسو سره وی چې خپل کار
ختم کړی ۔

دادو :۔ ډیـره ښـه ده چې کله هغوی خپلو بیبانو پسې راشی او بوځی
یې نو دا به هم ورسره لاړه شی ۔

چودهری صیب :۔ هغوی ؟ هغوی څوک ؟

دادو :۔ شاهد او میاں صیب ۔

چودهری صیب :۔ ولې دَ هغوی ښځے دلته دی ؟

دادو :۔ هاؤ صیب :۔ دَ شاهد په ښځه پیریان دی او زمونږ یو خادم پرے
دمـونـه اچوی ۔ دَ میاں صیـب ښـځه ذهنی بیماره ده
هغـه زمـونـږ یو بل خادم رحیمو سره ده او هغه پرے
دمونه چف کوی ۔

چودهری صیب :۔ دا دے څۀ اووے حضور ۔

دادو :۔ ولے تاوونه ریدل ؟

چودهری صیب :۔ ووم ریدل خو په خپلو غوږونو مِ یقین نه راځی ۔

دادو :۔ کـه پـه غـوږونـو دے نه راځی په سترګو خو به دے راځی ورشه
دواړه موجود دی ، تهٔ خو هغوی پیژنے ۔
چودهری صیب :۔ د بے غیرتـی هـم یـو حد وی خو دوی ټول حدود
کراس کړل ۔ دَ ښځو په سر کټه کوی ، دا بے غیرته !
بے ایمانه ۔ خپلې ښځے یې پردو لونډوانو ته پریښې
دی او دوی ترینه یو خوا بل خوا تلی دی ۔
دادو :۔ دے نه معلومیږی چې تهٔ زمونږ په کردار شک کوے ؟
چودهری صیب :۔ نه حضور ! ستا په کردار نه خو د دغه کسانو په کردار ۔
داودو:۔ هغـه خو زمونږ خادمان دی ۔ دَ بابا دَ دربار خاکروب او خدمت
ګار دی ۔ چی دَ هغوی په کردار شک کوې نو زما په
کردار هم کولے شے ۔ ډیره دَ افسوس خبره ده چی ستا
غـونـدے یـو معزز سړے دا خبرے کوی ؟ او زمونږ په
خادمانو تور لګوی ۔ که د دے لور خاطر دے نه وې نو
اوس بـه مِ د دے دربار نه سپک شړلے وې ۔ ځه نور ځه
درتـه نـه وایـم خو پـاځـه ، خپی اوباځه ۔ ستا په ذهن
کښې شیطان ناست دے ۔
چودهری صیب :۔ غلطی اوشه حضور ! بیا به داسے نه ویم ۔
دادو :۔ بیا به ولے وې ۔ پاځه ځه او بیا په دے طرف رانشې ګینی لیونی
سپی به درپسی کړم ۔
چودهری صیب :۔ معافی غواړم حضور (رانی ته) رانی حضور ته زما


www.pukhto.net



سفارش اوکړه ۔
رانی :۔ ابو تاسو داسے غلطے خبرے ولے کولے ۔ لږ سوچ خو به دے کړے
وو ۔ ستـا خپـله لور دَ حضور په خدمت کښې دَ یوے
سـوال ګـرے پـه حیث نـاستـه او دَ حضور دَ نګاه کرم
خواسته ګاره ده ۔
چودهری صیب:۔ غلطی اوشه لورے ، زهٔ پوهـ نشوم ۔ معافی غواړم۔
رانی (دادو ته) حضور ! ابو ته معافی اوکړی ۔ حضور زما په خاطر پلیز۔
دادو:۔ چې ته وائے نو معاف به یې کړم خو تیکه نه ورکوم ۔
رانی :۔ زما په خوله او زما په مخ یې هم نه ورکوی حضور ۔
دادو :۔ آه رانـی ۔ تـا خـو پـه مـا هغه جادو کړے دے چې تهٔ څه وایې نو
هغه به کیږی ۔
رانی :۔ دَ تیکے خبره بل چاسره اونه کړی حضور ۔
دادو :۔ نه ، دَ تیکے خبره به زه هر چاسره کول خو . . .
رانی :۔ خو . . .څهٔ ۔
دادو :۔ ملاویږی به ستا ابو ته ۔
چـودهری صیب ( خاندی ) ډیـره مهـربـانـی ، ډیره شکریه ، بنه جی زهٔ
درنه لاړم ۔
دادو :۔ چی ځې نو خپله لور دے هم ځان سره بوځه ۔
چودهری صیب :۔ نه حضور ! چی دا خپل کار ختم کړی نو بیا به یې
بوځم ۔ باباته وایه چی دا قبوله کړی ۔

دادو:۔ تیکه به زهٔ ورکوم ...دا هر څهٔ ماته بابا سپارلی دی که دَ بابا په ځائے دا زهٔ قبوله کړم نو ...

چودهری صیب ( خاندی) منظوره ده ۔ منظوره ( هغه اوځی ...او رانی سترګے خکته کړی)

★★★★★★★★★★



www.pukhto.net



ایکټ:۴ سین:۱۴ وخت:سحر

ځائے:۔ د بابا دربار

کردار:۔ دادو، نورو، رحیمو، نرګس، دلشادبانو، رانی

دادو او رانی دَ بابا په کوټه کښې ناست وی ۔ نورو او نرګس دواړه خنګ په خنګ راځی ۔ هغوی پسې رحیمو او دلشادبانو هم په خندا خندا راشی او ټول یو ځائے کینی ۔

دادو (نرګس ته) بی بی شپه خنګه تیره شوه ۔

نرګس ( مسکی شی او سترګے خکته کړی)حضور ! ډیره ښه ۔

دادو:۔ دے نه معلومه شوه چی نرګس بی بی دَ خیره ښه شوے ده ۔

نورو:۔ بالکل حضور ! ډیره بهتری پکښې راغلے ده ۔

دادو ( دلشاد بانو ته ) بی بی څنګه یې ۔ شپه ښه تیره شوه ؟

دلشادبانو :۔ ډیره اعلیٰ حضور ۔

رحیمو :۔ حضور ! دَ مخکښے نه قدرے ښه شوے ده ۔

دادو:۔ دے نه معلومه شوه چې ستاسو دواړه ،مریضانے دَ خیره ښه شوی دی ۔

نورو ، رحیمو، دَ دوی خاوندان خبر کړی چی خپلی ببیانے بوځی۔

دلشادبانو:۔ نه حضور زهٔ هغه سره نه ځم، مرګ مِ قبول دے خو هلته نه ځم ۔

دادو :۔وله نه ځے ، خپل کور ته لاړه شه ۔

دلشاد بانو :۔ دا ځائے زما کور هم دے او گور هم ۔

دادو :۔ خپل خاوند له لاړه شه ۔ هغه به ستا انتظار کوی ۔

دلشادبانو:۔ حضور څهٔ خبرے داسے وی چی هغه زما په خوله نشی راتلے خو دومره به درته اووایم چې هغه یو ظالم ، لالچی او انتهائی کمینه انسان دے ۔

دادو :۔ ( نرگس ته ) او ته نرگس ؟

نرگس:۔ حضور ! زهٔ او دلشادبانو دَ مخکښے نه یو بل پیژنو ځکه چی زمونږ خاوندانو دَ هرمالی مسلے حل کولو دَ پاره زمونږ لاسونه په پردو لاسونو کښې ورکړی دی او زمونږ په ذریعه یې گټې کړی دی ۔ حضور! تاسو په خپله دا هر څهٔ اولیدل ۔ چې یوسړے دَ یوے ټیکے اخستو دَ پاره دَ خپلې ښځے لاس دَ بل په لاس کښې ورکړی نو آیا دا دَ بے غیرتۍ انتها نه ده ۔

دلشادبانو:۔ حضور! چې یو خاوند دَ خپلی ښځے په باره کښې اووائی چې ''ماته د دے ضرورت نشته ، ماته دَ ټیکے ضرورت دے نو داسې سړی ته به ښځه څنگه خاوند اووائی ''۔

دادو:۔ رانی ستا څهٔ خیال دے ته څهٔ وائی ؟ که تهٔ تلل غواړے نو تلے شې۔

رانی:۔ حضور! ماته به دَ تلو نه وائی ماله ژړا راځی ۔ تاسو خو دَ ابو په مخکښے زه قبوله کړے یم او ابو هم دوه ځله ویلے دی



www.pukhto.net



چی ''منظوره ده منظوره ده ۔ اوس ولې تختې ''۔

دادو :۔ دے نه معلومه شوه چی تاسو درے واړه تلل نه غواړئ ۔ ښه به دا وی چی مونږ درے واړه درنه اوتختو ۔

دلشادبانو:۔ دَ تختیدو خبره مهٔ کوئ حضور ۔ مونږ ټولو ته خپل خپل منزل ملاؤ شوے دے ۔ نه تاسو چرته تختیدے شی او نه مونږ۔

دادو:۔ صبا که ستاسو مالکان راغلل او تاسو ځان سره بوځی نو بیا به هم نه ځئ ؟

دلشاد بانو :۔ چرے هم نه ۔

نرگس :۔ توبه ، توبه ۔

دادو :۔ او که هغوی په مونږ دَ اغوا کیس درج کړی نو بیا ؟

دلشادبانو:۔ هغوی نشی کولے البته مونږ په هغوی کیس کولے شو۔

★★★★★★★★★★★

ایکټ:۴ سین:۱۵ وخت:ماسخوتن تیر۔

ځائے:۔ دَ مجزوب بابا دربار

کردار:۔ دادو،نورو،رحیمو، مهتابه،دلشادبانو،نرګس،رانی۔

دادو:۔ (ټولو ته خطاب کوی) زما ملګرو او عزتمندو بیبانو ! تاسو له مِ تکلیف په دے وجه درکړو چی تاسو سره مِ یو ضروری صلاح کول غوښتل ۔

رحیمو:۔ دَ صلاح نه مخکښے دا تپوس کولے شم چی دَ حضور طبعیت مبارک ناساز غوندے ښکاری ۔

نورو:۔ دا تپوس ما هم کول غوښتل خو رحیمو رانه مخکښے شو۔ تپوس کولے شم حضور چی ستاسو طبعیت ولی ناساز دے ، آیا زمونږ نه څۀ غلطی شوے ده ؟

دادو:۔ نه نورو دا خبره نه ده ۔ تاسو زما دَ توقع نه زیات زما په معیار پوره اوختی۔ خویوه خبره مِ په زړۀ کښی تاویږی راتاویږی اولکه دَ مار ټکونه راکوی ... خبره دا ده چې دا کومه لوبه چې مونږ شروع کړے ده ، زۀ د دے نه ځان ویستل غواړم ۔ تاسو دواړو کښې یو کس ځان تیاره کړی چې ورته دا هر څه حواله کړم او زۀ درنه ځم ۔

رحیمو:۔ حضور ! که زمونږ نه غلطی یا بے ادبی شوے وی نو دَ هغے معافی غواړو ۔ او امید کوو چی حضور به مونږ ته



www.pukhto.net



هغه کوتاهی په ګوته کړی چی بیا دَبے ادبی مرتکب نشو۔

دادو:۔ نه رحیمو هیڅ غلطی یا بے ادبی نه ده شوه خودَ پیسو ګټلو کومه طریقه اولاره چې مونږ اختیار کړے ده زۀ په دغه کړه اوازغنه لاره نور نشم تلے ۔ کیدیشی تاسو ماسره اتفاق اونه کړی۔ خو زما ضمیر ماته نور اجازت نه راکوی ۔ دا حرامه هم ده او مخلوق خدا سره دهوکه هم ده ۔ دَ یوے خیټی دَ پاره په زرګونو خلقو له دهوکه ورکوو او دَ هغوی لاسونه تروړو۔ زۀ نور دا کار نشم کولے او دَ اوس نه دا هر څۀ تاسو ته حواله کول غواړم ۔

رحیمو:۔ حضور مونږ خو ستاسو دَ حکم تابع یو ۔ تاسو دَ مال ، دولت، موټر او ښځے ارمان کوو هغه پوره شو ۔ اوس که تاسو دا کار کول نه غواړی نو ډیره ښه ده ۔ خو زه په خپله هم په دے کار خوښ نه یم البته که نورو مشری کوی نو هغه دَ خپلې طبعے خاوند دے ۔

نورو:۔ حضور ! مونږ چې څۀ کړی دی او کوو هغه صرف ستادَ پاره کوو۔ دا مونږ ستا دَ ارمان پوره کولو دَ پاره کړے وو او هغه پوره شو ۔ ستا په وجه زمونږ ارمانونه هم پوره شو ۔ حضور که تاسو د دے کار نه روستو کیږی او شاهد ۔ چودهری صیب یا میاں صیب له ټیکه

ورکول غواړے یا دا کار هغوی ته ویریا پریښودل
غواړے نو دا به دَ ګناه دَ پاڅه ګناه وی ۔

دادو :۔ ډیره مهربانی چې تاسو زما دَ پاره دومره تکلیف اوکړو او زما
خبرے مو په ارته سینه واوریدے ۔ زه دلته لږ وضاحت
نورهم کول غواړم او هغه دا چې زۀ دا تکه چاله
ورکول نه غواړم بلکه د دے دندے ختمول غواړم ۔
یوه خبره بله او هغه دا چې زۀ نه په دهوکه کټلے ښځه
غواړم ، نه مال ودولت غواړم او نه موټر غواړم ؟ زۀ
خپل کلی او کورته تلل غواړم تاسو ماسره اتفاق کوی۔

رحیمو او نورو :۔ بالکل حضور ۔

دادو :۔ ښه ماسره چی کومے روپۍ پاتے دی هغه ما په دے کاغذ کښے
لیکلے دی هغه دا دی ، څلور لاکهه روپے او څلویښت
تولے دَ سرو کالی دَ مهتابے خور په لاس راغلے دي او دَ
هغے معلومات دے شته چې دَ چا دے ۔ دا کالے او
روپۍ دواړه څیزونه به دے ته حواله کړو چی هغے له
یې ورکړی ۔

مهتابه :۔ حضور دا کالی او روپۍ چی چاراکړی دی هغے ماته قسم
اچولے وو چی هغه به چاته نه ښائی ۔ زۀ نه دَ هغے
نوم اخستے شم او نه کالی ورکولے شم ۔ دغے کاغذ
کښی دَ هغے نوم لیکلے دے ۔ تاسو دَ هغے نوم واخلۍ


www.pukhto.net



دے ناسته ډله کښی به دَ چاخو به څۀ وی ۔

دادو :۔ (کاغذ ته ګوری) په کاغذ کښې لیکلے شوے دی "څلور لاکهه
روپۍ او څلویښت تولے کالے بنام رخسانه ، دا څوک
پیژنۍ چی څوک ده ۔

رانی :۔ رخسانه خو زما مورده او دا کالے خوزما دے هغے ما دَ پاره جوړ
کړے دے ۔

مهتابه (خاندی) ښه څه واخله ستادے مبارک شی ۔

دادو :۔ او دا روپۍ ۔

رانی :۔ دا هم زما دے ۔ دا هغه روپۍ دی چې ما به دَ کالج او
یونیورستۍ دَ پیسو نه بچ کولے او په کلالۍ خزانه
کښې م جمع کولے ۔

مهتابه :۔ دا هم واخله ستا دے مبارک شی ۔

دادو:۔ دے نه علاوه شل لاکهه روپۍ دَ شاهد دی ۔ دے سره څه اوکړو۔

نورو:۔ دَ شاهد ښځه دلته ناسته ده هم دے له یې ورکړه ۔

نرګس :۔ واقعی روپۍ زما دی او هغه زماکالی خرڅ کړی وو خو
حضور یو عرض کوم چی دے بل ته اووایه چې بیا
داسے غلطه خبره اونکړی ۔

دادو:۔ ولی دۀ څۀ غلطه خبره اوکړه ۔

نرګس:۔ حضور دا ستاسو په مخکښے یې اونه وی چی دَ شاهد ښځه
ناسته ده ۔

دادو:۔ دا خو حقیقت دے چه غلطه خبره خونه ده ۔

نرگس:۔ نه حضور هغه سره اوس زما هیڅ تعلق نشته ۔ زمادے خدایے خپل نورمحمد لری (ټول خاندی)

دادو:۔ ښه څه دا خپلی روپۍ دے واخله (روپۍ ورکوی)، ماسره دیرش لاکهه روپۍ دَ میاں صیب دی ۔ دے سره څۀ اوکړو ؟

رحیمو:۔ حضور! دا ښځه یې ناسته دے له ورکړه ۔

دلشادبانو:۔ حضور! ته گورې ورته ستاسو په مخکښے دا غلطے خبرے کوی ۔

دادو:۔ غلطه خوبه هله وه چې دروغ وه ۔

دلشاد بانو:۔ حضور! ماته خپل سرتاج ملاؤ شو په هغه څۀ کوم۔

دادو:۔ ښه دا روپۍ دے واخله (روپۍ ورکوی) ماسره خلویښت لاکهه روپۍ دَ چودهری صیب دی ۔ دے سره به څۀ کوو۔

رانی :۔ دا ماله راکړه زۀ به یې وراورسوم (دادو هغے له روپۍ ورکوی)

دادو:۔ دے نه علاوه ماسره دا پنځه لاکهه اوپنځوس زره روپۍ په لړه لړه جمع شوی دی ۔ دے سره څۀ اوکړو ؟

نورو:۔ حضور دا پنځوس زره روپۍ مهتابے خور له ورکړه ۔

دادو:۔ ډیره ښه ده ۔ دا واخله مهتابے خور پنځوس زره روپۍ، دا ستا دَ خدمت شوے او اوس ځان کورته رسوه ...او هغه میښه دے هم ځان سره بوځه ۔

مهتابه:۔ ډیره مهربانی حضور ۔ خداې دے درته ډیرے خوشحالی اوښولے کړې ۔


www.pukhto.net



دادو:۔ پاتے شوے پنځه لاکهه روپۍ، دے سره څۀ اوکړو ۔

رحیمو:۔ حضور! دے نه یو لاکهه روپۍ پاسبانانِ دربار له ورکړې ۔

دادو:۔ ورشه هغوی راوله چی پیسے هم ورکړو او رخصت هم (رحیمو بهراوځی او هغوی ځان سره راولی) "گلونو ستاسو مونږ سره یوه میاشت او پنځه ورځے اوشوے، ستاسو مونږ سره څه دَ پاسه یولاکهه روپۍ جوړیږی ۔ چونکه ستاسو کارکردگی ډیره ښه ثابت شوه نو دا واخلی دوه لاکهه روپی اوس ټول لاړ شی ۔ کورونو ته ۔ ښه بے غمه شپه اوکړئ صبا له به بیا گورو، ځی گلونو په مخه موښه"۔

پاسبانان :۔ ډیره مهربانی حضور ۔ (ټول په خوشحالی اوځی)

دادو:۔ اوس ماسره درے لاکهه روپۍ پاتے شوے په دے څۀ اوکړو ۔

نورو:۔ حضور په دے دنده کښې یو اهم رول دَ مجزوب بابا هم دے که ستاسو خوښه وی نو دا درے لاکهه روپۍ دَ مجزوب بابا جیب کښی واچوی ۔

دادو:۔وَه دَ نرځویه ۔تاخو دَ ښځے مینځ اوویشتو ۔ زبردست،راشی نورو او رحیمو ۔ بابا دَ پردے نه را اوباځی او دا روپۍ ورله جیب کښې واچوی ۔ (هغوی راځی او بابا دَ پردے نه را اوباسی) ټولے ښځے یې ښکلوی او غور سره دَ هغۀ مخ ته گوری ۔ دلشادبانو په زوره چغه کړی۔ "حضور! دا هغه

مظلوم دے چې دَ میا ں صیب چودهری صیب او
شاهد دَ ظلم ښکار شوے دے ۔ درے لاکهه روپۍ یې
هم ترینه په تګۍ واخستے او په خپلو نوکرانو یې
دومره اووهو چې مړ شو ۔ خو دا معلومه نه ده چې
بیا څنګه ژوندے شو ۔ دا هم کیدیشی چې مړ نه
بلکه بے هوشه شوے وو ۔ او بیا په هوش کښې
راغلی وو۔

دادو :۔ دے ته پیژنے دا څوک دے ۔

دلشادبانو:۔ د دۀ نوم پروفیسر کمال دے ، د پیښور اوسیدونکے دې او دَ
موبائیل ټاور لګولو دَ پاره راغلے وو۔ د دغه ظالمانو
په دام کښې ګیر شو او دا یې حال شو چې اوس په
سُرهــ کښـې هم نه دے ....د ده ټول دستاویزات
شناختی کارډ او فوټوان وغیره اوس هم دَ میاں صیب
په کیس کښې پراتۀ دی ۔

دادو :۔ مونږ هسے هم پیښور ته روان یو دے به مونږ څان سره اورسوو۔
ښه ستاسو دَ ټولو ډیره ډیره شکریه چې تاسو ټولو
مونږ سره تعاون اوکړو ۔ ښه نورو ، رحیمو ، دَ تلو نه
مخکښے دا بیبیانے په ګاډو کښې کینوی چې خپلو
خپلو کورونو ته لاړے شي ۔ رانی ، څه ګاډی کښی
کینه او څه خپل کور ته ۔


www.pukhto.net



رانی :۔ نه حضور ! زۀ تا نشم پریښودے ۔تۀ خو زما څان او زماروح یې

نورو:۔ څه نرګس خپل ګاډی کښی کینه او څه خپل کور ته ۔

نرګس:۔ د کور نه خو دا ګورښه دے ۔ هم دلته مِ ښخه کړه خو کور ته نه ځم ۔

رحیمو:۔ دلشادبانو ۔ تا ته اجازت دے ، ګاډی ته اوخیژه او خپل کور ته څه ۔

دلشاد بیګم :۔ ګاډی ته به هله خیژم چی تا دَ څان نه مخکښے اوخیژوم ۔

دادو:۔ تاسو ټول په خوشحالۍ مونږ سره ځی ۔

درے واړه زنانه :۔ جی حضور ۔

دادو :۔ اوخیژی ګاډو ته چی څو ۔ پروفیسر صیب ته راڅه ماسره
اوخیژه ۔

دلشادبانو:۔ نه حضور دا زما بابا دے ۔ دے به مونږ سره کینی ۔

(ټول ګاډو ته خیژی او پیښور ته روانیږی)

★★★★★★★★★★★

Pukhto.Net پښتو

**ایکټ:۵** سین:۱ **وخت:سحراتهه بجے**

ځائے:- **P.C هوټل پېښور۔**

کردار:- **دادو،نورو، رحیمو،رانی، نرگس، دلشادبانو۔**

هغوی ټول په P.C هوټل کښې بیلی بیلی کمرے واخلی ، هره جوړه پکښې خپل خپل سامان کیږدی . . .بیا ټول دَ دادو کمرے ته راغونډ شی او دَ آئنده قدم پورته کولو دَ پاره یو متفقه لائحه عمل تیار کړی۔ دَ هغوی میټنگ په ختمیدو وی چی دَ میاں صیب دَ طرفه دلشاد بانو ته رنگ راشی ۔ هغه مسکی شی او دَ موبائیل سپیکر اوچتوی۔

میاں صیب:۔ هیلو دلشاد بانو څنگه یې ؟ طبعیت دے څنگه دے . . . او صحت ؟

دلشاد بانو:۔ I am okay and fine ،خو ته څنگه یې ۔ خپل حال وایه۔

میاں صیب:۔ زۀ بالکل ټیک ټاک یم Don't come for me خپل خیال ساته ۔

دلشاد بانو:۔ خپل خیال به څۀ اوساتم ؟ ستا جُدائی مِ خوب او ارام ته نه پریږدی ۔

میاں صیب:۔ Yes, i know it ، خو دا جُدائی عارضی ده ۔ تۀ کوشش کوه چی خپل مرام کښې کامیابه شې ۔

دلشادبانو:۔ زما مرام خو تۀ یې میاں صیب ، چی تۀ نه یې نوزۀ په دولت او مال څۀ کوم ؟



www.pukhto.net



میاں صیب :۔ وه کم عقلے ! زۀ تانه خو چرته ځم نه ۔ بس دغه لږ یو څو ورځے جُدائی ده ، او چی کامیابه شې نودا به زما دَ ژوند یو لوے ارمان پوره شی ۔

دلشادبانو:۔ دے دَ پاره خو لگیا یم کوشش کوم ۔ او ته هم دعاکوه ۔

میاں صیب:۔ د دعا نه علاوه تاله به یو سرپرائز درکوم ۔

دلشادبانو:۔ اوه مائی ډیر! خو سرپرائز به څۀ وی ؟

میاں صیب:۔ مخکښے یې درته ځکه نه ویم چې بیا خو دَ سرپرائز ویلیو ختمیږی بهر حال تاته به دَ یورپ په ټور Tour کښی دَ دے پته په خپله اولگی۔

دلشاد بانو:۔ اوه ، سرپرائز او هغه په یورپ کښې ۔ Thanks ۔

میاں صیب:۔ په دیکښے دَThanks څۀ خبره ده ۔ دا هر څۀ خو زۀ ستا دَ پاره کوم ۔ تانه بغیر زما څوک دی ؟ ځوے مِ نشته ، لور مِ نشته ، بس تۀ زما وارثه یې ۔ بنه اوس دا راته اووایه چې تۀ کوم حد ته اورسیدے او حالات څنگه دی ۔

دلشادبانو:۔ میاں صیب مقابله ډیره سخته ده ۔ ډیر زبردست Competation شروع دے ۔ هره یوه دا کوشش کوی چی په څۀ ناڅۀ طریقه بابا ته ځان اورسوی ۔

میاں صیب:۔ هره یوه ؟ ستا څۀ مطلب ؟ دَ نرگس نه علاوه بل څوک شته ؟

دلشاد بانو (مسکی شی او هغوی ته ګوری) ولې نه میاں صیب! چې کله نه رانی راغلے ده نو دواړو ته یې ډیر مشکلات پیښ کړی دی ـ

میاں صیب :ـ رانی څوک ده ؟

دلشاد بانو:ـ واه میاں صیب عجیبه خبره کوې ، تهٔ رانی نه پیژنی ؟ دا خوستا دَ دوست چودهری صیب ایکے یوه لور ده او دَ حسن او کرشماتو مجسمه ده ـ

میاں صیب:ـ ماته پته وه چې چودهری صیب به دا کمینه حرکت کوی ـ خیر په حسن کښې خو تاته ښاپیرۍ هم نشی رسیدے ، خو دے سره څهٔ تکنیک هم استعمالوه نو په حسن کښې به دے نکهار او کشش پیدا کیږی ـ

دلشاد بانو:ـ کوم تکنیک ؟

میاں صیب ( خاندی) ولی تانه هیر شو ؟ هغه دَ اسلام آباد په کلبونو کښې به دے چی کول ، یعنی کینج ، ادا ، مسکا ، دَ خورو زلفو جنش ، په مړو سترګو وژل او په ګولو سترګو ویشتل (بیا خاندی)

دلشاد بانو (خاندی) واه واه میاں صیب ، بوډا شوے خو دَ خپل عادت نه وونه ختے ـ زهٔ خو هغه کوم خو کومے اداګانے چې دَ رانی زده دی هغه ماله نه راځی ـ خیر زه مایوسه نه یم خپل پوره پوره کوشش کوم ـ



www.pukhto.net



میا ں صیب :ـ هغه خو ماته پته ده چې دَ مایوسۍ ټکے ستا په ډکشنرۍ کښې نشته ـ دَ دے نه سختې سختې مقابلے تا ګټلی دی ـ دا خو دَ هغے مخکښے هیڅ نه ده خو تا دَ مشکلاتو خبره کړے وه نو هغه کوم رکاوټونه دی چې ستا دَ لارے خنډان دی ؟

دلشاد بانو:ـ میا ں صیب ! دَ بابا خادم اعلیٰ ، رحیمو زما په مینه روک لیونے دے ـ

میاں صیب:ـ شاباش ، ول ډن ، ډیر ښه کوشش دے ـ

دلشاد بانو:ـ او هغه ماسره وعده کړے ده چې دَ دربار ټیکه به مونږ له راکوی خو ....

میاں صیب:ـ خو څه ؟ ولے چپ شوے ؟ زر وایه ، خو څه ؟

دلشاد بانو:ـ میاں صیب زهٔ تاته څنګه اووایم ؟ هغه خبرے زما په خوله نه راځی ....شرمیږم ـ

میاں صیب ( غصه ) چی شرمیږے نو ځان به هم غرق کړے او ما هم ـ دَ ښځے او خاوند په مینځ کښې خو دا تکلفات نه وی او بیا ستا او زما په مینځ کښی ...؟

دلشاد بانو:ـ تهٔ که هر څهٔ یې نو زما په مخکښے خوستا مقام ډیر اوچت دے او په زړهٔ کښې یریږم چی هسے نه زما په خبره خفه شے ـ

میاں صیب :ـ نه خفه کیږم ، خبره کوه ، شابه زر کوه ـ



Pukhto.Net

دلشاد بانو:۔ میاں صیب هغه زما نه ناجائز مطالبه کوی ۔

میاں صیب:۔ څۀ ناجائز ؟

دلشاد بانو :۔ هغه ماسره واده کول غواړی ۔

میاں صیب:۔ بس داخبره (خاندی) ۔ اوته ورته څۀ وایی ؟

دلشاد بانو:۔ زۀ دَ هغه هر مطالبے ته تیاره یم خو واده ورسره نشم کولے۔
میاں صیب ستا دپاره زۀ هرے قربانۍ ته تیاره یم خو
هغه بله خبره نه منی ۔

میاں صیب:۔ تۀ داسے اوکړه چې هغه قابو کړه او خپل کوشش جاری
ساته ۔ زما په تا پوره ، پوره اعتبار دے انشاء الله
کامیابی به په هر صورت کښې ستا وی ۔

دلشادبانو:۔ ما هغه قابو کړے دے او هغه بابا لاس کښې اخستے دے
خو زۀ څۀ اوکړم ؟ زۀ خو به لیونۍ شم ۔ ستا "هاؤ"
"نا" ته خبره ښه ده۔

میاں صیب :۔ زما "هاؤ" "نا" ته خبره مۀ بنده وه ، کار اوباسه ، دا زما دَ
عزت او غیرت خبره ده ۔ دا دواړه زما دشمنان دی ۔ په
هره طریقه چې وی تیکه ترینه واخله او په ستام پیپر
ترینه گوته اولگوه ۔

دلشاد بانو :۔ میاں صیب ته زما په خبره ولے نه پو هیږې ۔ څو څو ځله
مِ درته اووے چې رحیمو دَ وادۀ نه بغیر بله خبره نه
منی ۔ اوس پوهـ شوے ؟


www.pukhto.net



میاں صیب :۔ ستا په وادۀ کښې رکاوټ څۀ دے ؟ اوکړه ورسره وادۀ ،
زما له خوا تاته اجازت دے ۔

دلشاد بانو:۔ دا خبره ورته ما کړے ده خو زبانی جمع ، خرچ باندے کار
نه کیږی ۔

میاں صیب :۔ هغه نور څۀ وائی ؟

دلشاد بانو :۔ هغه وائی چې په ښی لاس به طلاق نامه راکوی او په ښی
لاس به دَ تیکے کاغذ ورکوم ۔

میاں صیب :۔ دَ طلاق نامے نه بغیر کار نه کیږی ؟

دلشاد بانو :۔ مسله خو پکښے دا ده چې طلاق نامه غواړی ۔

میاں صیب:۔ o.k ، دا څۀ مسله نه ده ، مایوسه کیږه مه ۔ طلاق نامه
به زۀ په ارجنټ میل دراولیږم خو تۀ ستام پیپر
تیار کړه او پوره دَ یو کال تیکه ترینه واخله ۔

دلشاد بانو :۔ دَ یو کال ؟ ماخوورسره دَ ټول عمری تیکے خبره کړے ده۔

میاں صیب:۔ ویری گډ ، ډیر ښۀ ، ډیر اعلیٰ خو خیال ساته دهوکه دے
نکړی ۔ ښه پوخ کاغذ ترینه واخله او قانونی نکات
پکښې ټول اولیکه ۔

دلشاد بانو:۔ میاں صیب زۀ په قانونی نکاتو نه پو هیږم ۔ تۀ دغلته دَ
طلاق نامے او دَ تیکے دواړه کاغذونه تیار کړه او په
خپله راشه ، په خپل لاس به کاغذ ورکړے او په خپل
لاس به ترینه واخلے ۔ چې ستا په مخکښے هرڅه

اوشی نو زما کار به ختم شی ۔

میاں صیب :۔ ستا کار ختمیږی نه ، چې دا اوشی نو بل ، بل پسې او
هغے پسې بل( خاندی)

دلشاد بانو:۔ ته زر تر زره راشه ، دَ هارجیت ګوری هیڅ پته نه لګی۔

میاں صیب:۔ دربار ته درشم او که بل څۀ خفیه ځائے شته ۔

دلشاد بیګم :۔ نه ، نه دربار ته مه راځه ، بابا مونږ اغوا کړے دے ، مونږ
سره په پرل هوټل پیښور کښې دے ۔

میاں صیب :۔ تاسره بل څوک دی ؟

دلشاد بانو ، مونږ درے کسان یو ، زۀ رحیمو او بابا ۔

میاں صیب :۔ ډیره ښه ده ، هغه قابو اوساتی زۀ به صباله انشاء اللہ
درے بجے درشم ۔

دلشاد بانو:۔ پته یاد ساته ، کمره نمبر153 ، پرل هوټل پیښور۔

میاں صیب :۔ o.k ، دَ خدائے په امان ۔

(دے سره دلشاد بانو موبائیل بند کړی او هغوی ته په مسکااوګوری)

رحیمو:۔ کمال دے اوکړو دلشاد بانو زبردست ایکټنګ دے اوکړو۔

دلشاد بانو:۔ دا مِ تاسو ټولو ته ښودل چې زما خاوند میاں صیب داسے
سړے دی ۔ هغه ټیکے اخستو ته خپل عزت او
غیرت وائی خو ښځے ورکولو ته بے غیرتی نه وائی ۔
(دَ هغوی خبرے لا شروع وی چی نرګس ته دَ شاهد
رنګ راشی )۔ نرګس مسکی شی او وائی "دلشاد بانو



www.pukhto.net



! اوس زما خاوند ته غوږ کیږده چې دے څۀ وائی "

نرګس (موبائیل اوچتوی ) هیلو ، څوک یې ؟ شاهده ته یې ؟

شاهد :۔ هیلو جانی څنګه یې ۔ ښۀ یې ؟

نرګس :۔ تانه بغیر به څۀ ښۀ شم ، اف مائی ګاډ ، ستا دا جُدائی به تر
څو پورے وی . . .تۀ ډیر سنګدل انسان یې ۔ هسے په
خوله راته جانی، جانی وایې او په زړۀ کښې دے نور
څۀ دی ۔

شاهد:۔ اوه نو ، نه نه دا خبره نشته جانی ۔ که زما حال درته معلوم
شو نو خپل به درنه هیر شی ۔ تۀ خو ماته د دے دنیا
او مافیها نه زیاته ګرانه یې خو څۀ اوکړم دے دنیا
کښې چې اوسے نو دا منډے ترړے به وهی ګینې
روستو پاتے کیږې ښه دا راته اووایه چې حالات څنګه
دی ۔ بابا سره ملاؤ شوے یې که نه ۔

نرګس :۔ حالات ښه نه دی شاهده ۔ ډیره سخته مقابله شروع ده ۔

شاهد:۔ مقابله ؟ څۀ مقابله او چا سره ؟

نرګس :۔ ولے تاته پته نشته ؟

شاهد:۔ دَ څۀ ؟

نرګس :۔ دلته دَ میاں صیب ښځه دلشاد بانو هم راغلے ده او دَ
چودهری صیب لور رانی هم ۔ او هغوی سره مِ مقابله ده ۔

شاهد:۔ دا دے څه اووے ، هغوی مقابلے ته را اوتی دی ۔

نرګس :۔ صرف دا نه ، میاں صیب دَ ګاډی نه علاوه دیرش لاکهه روپۍ دربار ته نذرانه ورکړه او چودهری صیب دَ ګاډی نه علاوه څلویښت لاکهه روپۍ ۔

شاهد:۔ دا خو واقعی مقابله ډیره سخته ده ۔ زۀ خو غرق شوم ۔ تباه شوم ۔

نرګس:۔ ښه ماته څۀ حکم دے ؟ زۀ واپس درشم ؟

شاهد :۔ نه نه ، مایوسه کیږه مه ، تۀ هم دغلته اوسه او باباته په څۀ طریقه ځان اورسوه ۔

نرګس:۔ بابا ته مِ دَ نورو په ذریعه ځان رسولے دے او دواړه زما په حق کښې دی ، خو دیکښے څه نورے خبرے دې چې هغه زۀ تاته نشم ویلے!

شاهد:۔ چې بابا او نورو ستا په حق کښې دی نو پاتے پکښے څۀ شو؟

نرګس:۔ ته څۀ خبرېږې شاهده ، ځینې خبرے پکښې داسے دی چې هغه زما په خوله نشی راتلے ۔ دَ ټولو نه لویه خبره دا ده چې ...

شاهد:۔ وایه وایه ولے چپ شوے ۔ شابه زر وایه پلیز ۔

نرګس :۔ خپله حیا او شرم اجازت نه راکوی ۔

شاهد:۔ صفا خبره اوکړه ، زۀ هرے خبرے اوریدو ته تیار یم ۔

نرګس:۔ چې تیار یې نو دیکښے لویه مسله دَ واده ده ۔

شاهد:۔ اوه ، ښه نو داخبره ده ۔ اودے ته ته مسله وایې ؟ ویری شیم فار



www.pukhto.net



یو ۔ زما خو تانه ډیر امید وو ، دا خو هیڅ خبره نه ده ۔ اوکړه ورسره واده ۔

نرګس:۔ زه تانه بغیر ژوندی نشم پاتے کیدے ۔

شاهد:۔ دا رومانی خبرے پریږده ، رییالسټک اپروچ پیدا کړه ۔

نرګس:۔ په تاخفه کیږی چې تۀ به زمانه بغیر څنګه ژوندے پاتے شی۔

شاهد:۔ زما غم مه کوه ۔ په ما به یې خداې تیره کړی ۔ په دے دنیا کښې په کروړونو خلق داسے دی چې بغیر ښځے او بغیر خاونده ژوندی دی ۔

نرګس :۔ زمونږ واده څومره په مینه شوے وو او مونږ یو بل سره تر مرګه پورے دَ وفادارۍ څومره وعدے کړے وې ؟

شاهد:۔ دا منم چې تا زما دَ پاره ډیرے قربانۍ ورکړی دی ۔ دَ ډیرو ښۀ ښۀ رشتونه دے انکار کړے دے او دغه رنګ ما هم ، خو اوس څۀ اوکړم دغه ظالمانو سره مِ مقابله راغلے ده ۔ دواړه ډیرے اوچتې ستېې دی ۔ هسے نه چې مخ تورن شم ورته ۔

نرګس :۔ شاهده! تۀ لږ دے خپل ګریوان کښې اوګوره ۔ ما ستا دَ پاره څومره قربانۍ کړی دی او هر ځل به دے وې چې دا زما دَ عزت او غیرت مسله ده چې دغه مسلے حل شوے نو اوس دے راپسی بلـه را اوویستله ۔ هغه نورے قربانۍ جوپریږده خو اوس پکښې دَ واده مسله

راپیښنه شوه (ژاړی)

شاهد:۔ اوه ، ته ژاړے ، ریلیکس پلیز ، ریلیکس ، دا څۀ مسله نه ده
نرگس جانی خو تا ترینه مسله جوړه کړے ده ۔ چې په
واده کار کیږی نو اوکړه ورسره واده ۔ هغه خو یو بوډا
سړے دے ، دغه دوه ورځے ژوند به یې وی یانه ، د دے
فکر مه کوه ۔ دا دومره لویه خبره نه ده ۔

نرگس:۔ هغه بوډا سړے نه دے ، دَ پنځویشتو کالو هلک دے ، تانه په
عمر کښې کم او په ځوانۍ کښے خائسته دے ۔

شاهد:۔ ته دَ نورو خبره کوې ؟ بیا خو ډیره ښه ده ، اوکړه ورسره واده
خو بابا څۀ وائی ۔

نرگس:۔ بابا هم په هغه ولاړ دے او وائی چې تیکه به ورته هله
ملاویږی چی نورو سره واده اوکړے ۔

شاهد:۔ تیک ده ...تیک ده بابا ته انکار اونه کړے واده ورسره اوکړه زما
درته اجازت دے ۔

نرگس :۔ په اجازت کار نه کیږی ، نورو وائی چی طلاق ترینه واخله۔

شاهد:۔ دا هم څۀ گرانه نه ده ۔ طلاق نامه به زۀ دراولیږم خو دَ
طلاق نامے ورکولو او وادۀ کولو نه مخکښے ترینه دَ
تیکے ښه پوخ کاغذ واخله او گوته ترینه اولگوه چی
دهوکه درسره اونکړی ۔

نرگس:۔ شاهده ! زۀ ښځه ذات یم په دے لانجو څه پو هیږم ؟ ته په


www.pukhto.net



خپله راشه په خپل لاس به طلاق نامه ورکړے او دَ
تیکے کاغذ به ترینه واخلے ۔ او هنّ دواړه کاغذونه
دغلته اولیکه او دلته یې راوړه ۔

شاهد:۔ کوم خوا درشم ؟ دربار ته ؟

نرگس :۔ نه ، نه ، مونږ دربار کښې نه یو ، زۀ ، بابا او نورو په تور
Tour باندے پیښور ته راغلی یو او دلته په پرل
هوټل کمره نمبر152 کښے یو ۔ ته زر تر زره راشه
چې هر څۀ ورسره په خپله اوکړے ۔

شاهد:۔ o.k , o.k ۔ زۀ به انشاء الله صبا څلور بجے درشم څه نورے
خبرے به بیا هلته اوکړو ۔ دَ خدائے په امان ۔

نرگس ( ځان سره ) ارے بے ایمان ۔

(دَ نرگس په خبره باندے ټول اوخاندی ۔ دَ هغوی خندا لا جاری وی چی دَ
چودهری صیب دَ طرفه رانی ته رنگ راشی ۔ هغه موبائیل اوچتوی ) ۔

چودهری صیب :۔ هیلو لورے ښنگه یې ؟

رانی :۔ فائن ابو ! او تاسو ؟

چودهری صیب:۔ زۀ ښه یم لورے ، بالکل تیک ټاک یم او ستا
کامیابۍ ته مِ سترگے دی ۔

رانی :۔ ابو ! زۀ په خپل کار کښی مصروفه یم او دَ بابا په حیات مبارکه
مِ ډیر څه لیکلی دی او تر ډیره حده کامیابه شوے یم ۔

چودهری صیب:۔ زۀ ستا دَ Thesis خبره نه کوم بلکه دَ تیکے خبره

کوم ؟

رانی (خاندی) ښه دَ تیکے خبره ؟ د دے غم مه کوه ابو اوبه شی ۔

چودهری صیب :۔ یره لورے ته هم ښهٔ ساده یې ، غم به یې ولے نه کوم دا دَ کروړونو روپو ډیل دے او ته وائے غم مه کوه اوبه شی ۔ شابه کار اوباسه ۔

رانی :۔ ابو مقابله ډیره سخته ده بلکه ډیر نازک موړ ته رسیدلے ده ۔

چودهری صیب:۔ څنګه سخته ده او څهٔ نازک موړ ته رسیدلے ده ؟

رانی :۔ ابو ، نرګس او دلشاد بانو دَ نورو او رحیمو په وجه زمانه مخکښې دی او هغوی بابا ته ځان رسولے دے ۔

چودهری صیب :۔ چی هغوی ځان رسولے دے نو تهٔ څهٔ کوے ؟ ته اودهٔ یې او که د هغوی خولو ته ګورے ۔ شابه کار اوباسه ۔

رانی :۔ ابو څنګه ، کار اوباسم هغوی چی په کومه طریقه خپل کار ویستل غواړی زهٔ هغه نشم کولے ۔

چودهری صیب:۔ هغه کوم کار دے چی هغوی یې کولے شی او ته یې نشے کولے ؟

نرګس :۔ ابو دَ تیکے اخستو دَ پاره نرګس نورو سره او دلشاد بانو رحیمو سره واده کول غواړی ۔

چودهری صیب :۔ دَ هغوی نه یریږه مه ۔ هغوی دَ شته مړونو ښځے دی او هغوی سره دَ بل چا نکاح نشی کیدے ۔

رانی :۔ یریږم به ولے نه ابو ۔ شاهد نرګس له او میاں صیب دلشادبانو



www.pukhto.net



له اجازت ورکړے دے ۔

چودهری صیب:۔ وَه ساده لورے په اجازت کارنه کیږی ۔ چې څو پورے خاوندانو طلاق نه وی کړے نو دَ هغوی وادونه نشی کیدے ۔ او دا خادمان ماشومان خو نه دی ولی دوی ته پته نشته چی بغیر طلاقه ورسره نکاح نشی کیدے ۔

رانی :۔ هغوی اجازت هم ورکړے دې او دوه درے ورځو کښې به ورله طلاق نامے هم را اولیږی ۔ خبره به په میرټ او "پهلے آؤ ، پهلے پاؤ" په بنیاد کیږی ۔

چودهری صیب :۔ ښه نو خبره دے حد ته را اورسیده چی هغوی خپلو ښځو له طلاق ورکولو ته تیار شو ۔

رانی :۔ تیار نه ابو ، دوه درے ورځو کښې به فیصله اوشی ۔ معلومه نه ده چې دا فیصله دَ هر چا په حق کښې کیږی خو زمونږ په حق کښې نشی کیدے ۔

چودهری صیب :۔ زمونږ په حق کښې ولے نشی کیدے ، څه وجه ده؟

رانی :۔ هم دغه وجه ده پکښی ابو حضور چی کومه قربانی غواړی زهٔ هغے ته تیاره نه یم ۔

چودهری صیب :۔ ولے تیاره نه یې ؟ ډیره دَ افسوس خبره ده چې هغوی دَ خپلو خاوندانو دَ پاره دومره لویه قربانی ورکولے شی او ته نشی ورکولے وخت مه ضائع کوه ،

خپل کار اوباسه او په هره طریقه چې وی دَ تیکے په کاغذ ترینه دستخط واخله ۔

رانی :۔ ابو زۂ په دے څیزونو نه پوهیږم ۔ تۂ په خپله راشه چې دا هر څۂ کلیر شی ۔ حضور هم پریشان دے چې هسے نه تیکه شاهد یا میا ں صیب ته ملاؤ شی او زۂ هم پریشانه یم ۔

چودهری صیب :۔ حضور ته وایه پریشانه کیږه مه ۔ زۂ درځم ۔ تۂ دربار کښې یې ۔

رانی :۔ نه ابو ! زۂ حضور او بابا په تور Tour پیښور ته راغلی یو ۔

چودهری صیب :۔ وَه زما ساده لورے ، تور بیا هم کیدے شی خو اوس کار اوباسه ۔

رانی :۔ دے دَ پاره خو مِ حضور او بابا دلته راوستی دی چې هسے نه هغوی زمونږ نه مخکښے شی او دستخط ورته اوکړی ۔

چودهری صیب:۔ ډیر ښۂ ډیرښۂ ، شاباش ، تاسو پیښور کښې چرته یې۔

رانی :۔ مونږ په پرل هوټل کښې په کمره نمبر151 کښې یو۔

چودهری صیب :۔ زۂ به انشاء الله پنځه بجے در اورسم ۔

رانی :۔ ابو ! امی سره زما څلویښت تولے کالے دے چې راځے نو ځان سره هغه هم راوړه او امی هم ځان سره راوله ۔

چودهری صیب :۔ ډیره ښه ده بے غمه اوسه ۔



www.pukhto.net



**ایکټ:۵** سین:۲ وخت :سحر

ځائے :۔ دَ چودهری صیب کور

کردار:۔ چودهری صیب او دَ هغه ښځه رخسانه بی بی

دَ چودهری صیب ښځه رخسانه بی بی دَ هغۂ خواله راځی او وائی ۔

رخسانه بی بی :۔ چاسره دے خبرے کولے چودهری صیب ؟

چودهری صیب:۔ هنّ ، ښه ۔ دا ښه ده چې راغلے ، رانی سره مِ خبرے کولے ۔

رخسانه بی بی :۔ چودهری صیب ! پریشانه غوندے ښکاری ۔

چودهری صیب:۔ هنّ ، نه ، نه هیڅ نشته ۔

رخسانه بی بی :۔ څۂ خو ضرور شته مګر ویل نه غواړے ۔

چودهری صیب:۔ تاسره دَ رانی څلویښت تولے کالے شته ۔

رخسانه بی بی :۔ کا...کالے ؟

چودهری صیب:۔ هغے وې چې ماله مِ مور جوړ کړے دے او هغے سره پروت دے ۔

رخسانه بی بی :۔ هاؤ...پروت دے ...ولے په کالی څۂ کوے ؟

چودهری صیب:۔ زۂ پرے څۂ نه کوم هغه یې غواړی .

رخسانه بی بی :۔ هغه پرے څۂ کوی ؟

چودهری صیب:۔ دَ هرے جینۍ ارمان وی چې دَ کالو په شرنګاشرنګ کښې دَ خاوند کورته لاړه شی ۔

رخسانه بی بی :۔ ډیرښه خبره ده ۔ دا خوما دَ هغے دَ پاره جوړکړی دی
او چی کله ودیږی نو دا به ورته اچوم ۔
چودهری صیب:۔ هم دے دَ پاره یې خو هغه غواړی ۔ دَ هغے وادۀ تیار
دے هغه راواخله چې ورله یې یوسو ۔
رخسانه بی بی :۔ دا ته کومے خبرے کوے ؟ وادۀ تیار دے ؟
چودهری صیب:۔ هاؤ ، ته او زۀ یې غوښتې یو۔ کالی راواخله چی ځو۔
رخسانه بی بی :۔ ماته پته هم نشته او وادۀ تیار دے ؟ هرڅۀ پاتی شو۔
او کالی راواخله ؟
چودهری صیب:۔ تاته پته نشته خو ماته شته څه کالی راواخله چی ځو۔
رخسانه بی بی :۔ (کمرے ته ورځی او ځان سره وائی ) "یَـه خدایه زۀ ده ته
څۀ اووایم ... څنګه ورته اووایم چې هغه ما دَ ډیرولو
دَ پاره بابا له لیږلے دی ۔ زۀ خو چاته حال هم نشم ویلے
...ماخو مهتابے ته په قرآن لاس ایښے وو ...چې دا
خبره به پټه وی "۔
چودهری صیب:۔ شابه کنه څۀ کوی ۔ را اوځه ۔ ناوخته کیږی۔
رخسانه بی بی :۔ (دَ کمرے نه را اوځی ) کالی بے درکه شوی دی ۔ ما
ورپسی تول ځایونه اوکتل خو هیڅ پته یې نه لګی ۔
چودهری صیب:۔ دا به اوس څۀ کوو ۔ که کالی پیدا نشو خوواده به
اونشی او که وادۀ اونشو نو زۀ خو به غرق شم۔ شابه
چرته نور پیدا کړه چې اوس پرے کار اوچلوؤ ۔


www.pukhto.net



رخسانه بی بی :۔ اوس هیڅ نشی کیدے ۔ زۀ یې دَ کوم ځایه پیداکړم؟
چودهری صیب:۔ دَ هرځایه چې پیدا کوی ماته پته نشته ۔ خو پیدا کړه۔
رخسانه بی بی :۔ چودهری صیب ! یو تپوس درنه کولے شم چی دا
څنګه وادۀ دے چی زۀ ترینه خبر نشوم ۔ زما خپل
میـن او عزیزان ترینه خبر نشو او ته ترینه خبریې ۔ زۀ
خو به دَ خلقو دَ خندا شم ۔ زۀ دے ته تیاره نه یم ۔
چودهری صیب :۔ ستا په تیاریدو او نه تیاریدو هیڅ فرق نه پریوځی۔
هغه هم تیاره ده او زه هم ۔
رخسانه بی بی :۔ تـه ماسره رانی ملاؤ کړه ، زۀ ورسره یودوه خبرے
کوم (چودهری صیب هغے ته موبائیل ورکړی )هیلو
لورے څنګه یې ؟
رانی :۔ امی سلام علیکم ۔
رخسانی بی بی:۔ وعلیکم سلام ۔ دا څۀ معامله ده ، پلاردے وائی
چې ستا وادۀ دے ماته پته هم نشته او تا پټ په پټه
داسے کول ، داولے؟
رانی:۔ امی دا زمانه بلکه دَ ابوخواهش دے ۔ دا هر څۀ دَ هغه په حکم
کیږی زما پکښے هیڅ دلچسپی نشته ۔
رخسانه بی بی :۔ لورے زۀ به دَ خلقو دَ خندا شم ۔ دا وادۀ داسے وی؟ یره
خو څۀ به اووایم نو ...
رانی :۔ امی ته ابوسره راشه تاسره م یوه خبره ده ۔

رخسانه بی بی :۔ خنگه او په کوم مخ درشم لورے ۔ ستا هغه کالی
زمانه یے درکه شوی دی او تش لاس درتلے نشم ۔

رانی :۔ امی زما په کمره کښی په ګلالۍ خزانه کښې شلور لاکهه
روپۍ دی هغه ځان سره راوړه ، که کالی نه وی نو پروا
نشته ۔ دوی به راله جوړ کړی ۔

رخسانه بی بی :۔ لورے ، کالی او دَ روپو خزانه دواړه یے درکه شوی دی ۔
زهٔ څهٔ اوکړم ؟

رانی :۔ خیر دے امی خفه کیږه مه ، که هغه یے درکه شوی نو ته خو
یې کنه ۔ چی ته راشے نو دا کالی هم دی او دَ روپو
خزانه هم ۔

رخسانه :۔ ښه لورے زهٔ درغلم ۔

★★★★★★★★★★★



www.pukhto.net



ایکټ:۵ سین:۳ وخت:ماسپښین

ځائے :۔ پولیس ستیشن

کردار:۔ رحیمو دلشاد بانو ، پروفیسر کمال ، عروج خان

رحیمو او دلشاد بانو پروفیسر صیب ځان سره په ګاډی کښې کینوی او یوے تهانې ته یې بوځی . . .دلشادبانو ، رحیمو او پروفیسر صیب دَ مرزا صیب دفتر ته ورځی ۔ مرزا صیب چې پروفیسر صیب ته اوګوری نو سترګے دَ هغه په مخ ورښخے کړی ۔ یوه شیبه پس دَ هغه په مخ یوه ځلا راشی او ځان سره وائی "پروفیسر کمال" بیا پاځی هغه ته ورترغاړه ووځی او وائی " پروفیسر صیب سلام علیکم ، راځی جی تشریف کیږدی ۔ مرزا صیب هغه په یوه کرسۍ کینوی او په خپله خپل سیټ له واپس راځی ۔ بیا وائی ۔

مرزا صیب:۔ پروفیسر صیب زهٔ مو اونه پیژندم ؟ زهٔ ستاسو سابقه شاګرد
عروج خان یم ۔ تاسو ښهٔ یې سر ، پروفیسرصیب،
پروفیسرصیب؟

دلشاد بانو:۔ سوری مرزا صیب ، دَ پروفیسر صیب دماغی توازن
صحی نه دے ۔

مرزا عروض خان :۔ اوه مائی ګاډ ۔

دلشاد بانو :۔ سر دوی په سر ګوزار خوړلے دے او دَ هغے په وجه د دوی
ذهن کار نه کوی ۔

مرزا عروج خان :۔ تاسو دَ پروفیسر په سلسله کښې راغلی یئ ۔

دلشادبانو:۔ هاؤ صیب ، مونږ دَ هغه ظالمانو خلاف رپورټ درج کول غواړو چاچې پروفیسر صیب دے حال ته رارسولے دے ۔

مرزا عروج خان :۔ دَ رپورټ نه مخکښے ماته پوره خبره اوکړی نو هله به زه رپورټ درج کوم "دلشاد بانو هغه ته پوره قیصه اوکړی۔۔۔عروج خان ورته سر لړکوی ۔۔۔چې هغه خپله خبره ختمه کړی نو عروج خان ورته وائی "ټیک ده زه په تانړه کښې یم۔ بیا راشئ۔"۔

★★★★★★★★★



www.pukhto.net



**ایکټ :5** **سین:4** **وخت : درے بجے**

**ځائے :۔** **P.C هوټل پیښور ۔**

**کردار:۔** **میاں صیب ،رحیمواو دلشاد بانو۔**

میاں صیب پرل هوټل ته اورسی او دَ لږ ډیر تپوس نه پس کمره نمبر153 ته روان شی ۔ په لار کښې ورته دَ کمره نمبر 151 دَ کړکۍ په جالۍ کښې دادو او رانی ګوری ۔ هغوی دواړه یو بل ته مسکی شی ۔ دغه شان دَ کمره نمبر152 دَ کړکۍ دَ جالۍ نه ورته نورو او نرګس ګوری او خاندی ۔ میاں صیب کمره نمبر 153 ته اودریږی نو ناکنګ اوکړی ۔ دَ ټک ټک دَ اواز سره دَ کمرے نه اواز راځی ۔

اواز :۔ Yes , come in

(میاں صیب ورلرے کړی او کمرے ته ورشی ۔ رحیمو او دلشاد بانو ته چې اوګوری نو مخ ترینه واړه وی او وائی oh, it is very fine and well decorated ۔ کمره خو ډیره اعلےٰ ده ۔ زبردست ۔

دلشاد بانو(مسکۍ شی بیډونو ته اشاره کوی )میاں صیب بیډونه ډیر اعلےٰ او پاسته دی ۔ داسے ده که نه ، رحیمو ۔

رحیمو :۔ بالکل هم داسے ده خوب پرے خوند کوی ۔

میاں صیب :۔ هنّ ، هاؤ ، ډیر اعلےٰ ۔

رحیمو :۔ ستاسو طبعیت څنګه دے میاں صیب ۔

میا ں صیب :۔ سوری دلشاد بانو ، لس ، اتهه منته لیټ شوم دے
کاغذونو جوړیدو کښې رانه وخت اولګیدو ۔

دلشاد بانو:۔ نیور مائنډ ۔ کاغذونه تیار شو ؟

میاں صیب :۔ یس، یس ، بالکل ، بالکل ۔دا واخله خپله طلاق نامه
او دا بل کاغذ زما دَ تیکے دے ۔

دلشاد بانو:۔ زما په طلاق نامه تا دستخط نه دے کړې ؟

میاں صیب:۔ دستخط به دواړه په یو ځائے کوو۔

دلشاد بانو یو کاغذ میاں صیب له ورکوی او بل رحیمو ته او وائی ، په
دے دستخطونه اوکړی ۔

میاں صیب :۔ بابا څۀ شو ؟

دلشاد بانو :۔ دَ بابا ضرورت نشته ۔ دَ هغه په ځائے به رحیمو دستخط
اوکړی ۔

میاں صیب :۔ نه کنه ، دستخط به بابا کوی دے به صرف ریکمنډیشن کوی۔

دلشاد بانو:۔ رحیمو په دے کاغذ باندے ریکمنډیشن اولیکه او
دستخط ورته اوکړه ۔ ته میاں صیب په طلاق نامه
دستخط اوکړه او ماله یې راکړه ۔

میاں صیب :۔ ستا په کاغذ به زۀ دستخط اوکړم دا څۀ مسله نه ده نو
مسله دَ تیکے دَ کاغذ ده ۔ په هغے دَ بابا دستخط پکار
دے او هغه دلته لیدے نشی ۔

دلشاد بانو:۔ ستادَ راتلو نه لږ مخکښے دَ هغه یو میلمه راغلے وو هغۀ سره لاړو ۔



www.pukhto.net



میاں صیب :۔ داخو ښۀ اونشو ۔ دَ هغۀ دستخط ضروری دے ۔

دلشادبانو:۔ په طلاق نامه دستخط اوکړه او دۀ له ورکړه ۔ څه چې ځو
دَ بابا نه به پرے هلته دستخط واخلو ۔ هغه دلته
نزدے دے ۔

(میاں صیب په طلاق نامه دستخط اوکړی او رحیمو له یې ورکړی۔ هغوی درے
واړه په ګاډی کښې کینی او روان شی )

دلشاد بانو (غلے غوندے)دَ تیکے میعاد دے څومره لیکلے دے ؟

میاں صیب ( خاندی او غلے غوندے وائی )"ټول عمری "۔دے سره دواړه په
خندا شی لږ وخت پس ګاډی تانے ته رسی ۔

میاں صیب چې تانے او پولیس ته اوګوری نو رنګ یې تک زیړ شی ۔
دلشاد بانو ته په مایوسۍ ګوری " داسے معلومیږی
چې مونږ غلط ځائے ته راغلو "۔

دلشاد بانو:۔ نه میاں صیب ! مونږ ډیر صحی ځائے ته راغلو ، دا هغه
ځائے دے چې د ډیرے مودے نه ستا په انتظار وو۔ ۔راځه
راکوزیږه"۔

میاں صیب:۔ دلشاد بانو زماتانه دا توقع نه وه چې ته به ماسره دومره
ظلم کوے ۔

دلشادبانو:۔ میاں صیب ! خپل ګریوان کښې اوګوره ۔ داتا چې ماسره
څۀ اوکړل نو آیا داسے یو خاوند خپلې ښځے سره کولے
شی ۔ تازما مینے وفا ته اونه کتل او د تیکے دَ لالچ دَ

پاره دے ماله طلاق راکړو۔ راځه میاں صیب بابا ستا
انتظار کوی ۔(دواړه تانے ته ورځی) "دغه مخامخ سړے
پیژنے ؟ دغه هغه بابا دے ، راځه راځه چې دستخط
درته اوکړی او ستا کار ختم شی ۔

میاں صیب :۔ اوه نو ، دا هغه نه دے ۔ دا بل ځوک دے هغه دَ تختیدو
کوشش کوی خو دلشاد بانو هغه دَ لاس نه کلک
نیسی او د هغهٔ لاس دَ یو سپاهی لاس کښې ورکوی
او دَ ایس ایچ او دفتر ته ورځی ۔

دلشاد بانو:۔ میاں صیب ! دا هغه سړے دې چې تهٔ ترینه دَ دربار تیکه
اخستل غواړے ۔ او دے پیژندو ؟

میاں صیب:۔ نه نه ، زهٔ دے نه پیژنم او نه مې چرے لیدلے دے ۔

دلشادبانو:۔ کهٔ تهٔ یې نه پیژنے نو د دهٔ تعارف به زه اوکړم ، دا هغه
مظلوم پروفیسر دے چې ستا دلاسه یې دا حال شو ۔
ښه ورته اوګوره دا پروفیسر کمال دے او که نه ۔

میاں صیب :۔ نه ، نه ، زهٔ دے نه پیژنم ۔

دلشاد بانو ( ایس ایچ او ته) سر ! ما خپله ډیوټی اوکړه نور کار ستاسو دے۔

ایس ایچ او :۔ ډیره مهربانی (یوسپاهی ته) راشه هلکه دے حوالات ته
بوځه ، التها یې اویزانده کړه او چوکے ورته اونیسی۔ ۔
چی کله په خپله چغے اووهی چی "زه یې پیژنم "نو
بیا یې ماله راولې (دلشادبانوته) ستاسو ډیره مهربانی


www.pukhto.net



چې دَ یو خطرناک او عوام دشمن مجرم په ګرفتاری
کښې مو پولیس سره تعاون اوکړو۔ ډیره مهربانی ۔

دلشاد بانو:۔ سر زمونږ یو دوه میلمانهٔ راروان دی ، که ستاسو اجازت
وی نو دَ هغوی استقبال به اوکړو ۔

ایس ایچ او (مسکې شی ) اجازت دے میډم ، ځی ورشی ، ډیره مهربانی۔

★★★★★★★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

**ایکټ :۵** **سین:۵** **وخت:۔ خلور بجے**

ځائے :۔ **پرل هوټل پیښور**

کردار:۔ **شاهد ، نرگس او نورو ۔**

شاهد په کمره نمبر 151 تیر شی ...دَ کمره نمبر152 مخے ته اودریږی او ناکنگ کوی ۔

اواز :۔ Yes come in ۔

شاهد چې کمرے ته ورشی او گوری نو دَ نورو په اوږه باندے نرگس زلفې خورے کړے او لاس یې ترینه چاپیره کړے وی ۔ شاهد غاړه تازه کړی او وائی ۔

شاهد :۔ السلام علیکم !

نورو (دَ مخ نه دَ نرگس دَ زلفو جال لرے کوی)"وعلیکم سلام ، میلمه په خیر راغلے ۔نرگس په مدهوشه حالت کښې هغه ته گوری "هیلو شاهد "۔

شاهد:۔ هیلو نرگس جانی ! څنگه یې (نرگس دَ پاڅیدو کوشش کوی) "نه ، نه مه پاسه کینه ، کینه "۔

نرگس ( په خمارو سترگو )"ډیر نورو! دا میلمه دے اوپیژندو! دازما خاوند دے "

شاهد:۔ غلطه شوے نرگس ، سابقه خاوند ۔

نرگس :۔ اوه سوری ، سابقه خاوند ...طلاق نامه دے راوړه ۔



www.pukhto.net



شاهد:۔ دا دی دواړه زما لاس کښې دی ...دا یو طلاق نامه ده او دا بل دَ ټیکے کاغذ دے ۔ هن دا خپله طلاق نامه دے واخله او دا بل بابا له ورکړه چې دستخط پرے اوکړی ۔

نرگس شاهده تاخو زما په طلاق نامه دستخط نه دے کړے ؟

شاهد:۔ زما دَ ټیکے په کاغذ هم بابا نه دے کړے ۔ زهٔ به هله دستخط کوم چې بابا دستخط اوکړی ۔

نرگس:۔ دَ بابا دستخط ضرورت نشته ، نورو به پرے اوکړی ۔

شاهد:۔ دَ نورو دستخط قابلِ قبول نه دے ۔ دَ بابا دستخط پکار دے۔

نرگس :۔ نورو دَ بابا خادم اعلیٰ دے چې دے یې ریکمنډ کړی نو بابا به پرے دستخط اوکړی ...نورو ډیر (Noro,dear) دا کاغذ ریکمنډ کړه چې بابا پرے دستخط اوکړی ۔

شاهد:۔ بابا څهٔ شو ؟

نرگس :۔ ستا دَ راتلو نه لږ مخکښے یو میلمه سره بهراووتو ، اوس به راشی ۔

نورو:۔ اوس نه راځی ۔ هغه ورله پروگرام کړے دے هلته به شپه نیمه ایساروی او ولې تانه هیر شو مونږ ته یې هم حکم کړے وو چې ډوډۍ له دواړه راشی ۔

نرگس :۔ اوه زما خو بالکل دَ خیال نه اوتے وه دا خبره ، ښهٔ نورو ناوخته کوه کوه مه څه چې څو شابه تیاریږه ، هسے نه چې باباخفه شی ۔

نورو :۔ زۀ تیار یم خو ته راپاسه ، شاهد به هم ځان سره بوځو ، ډوډۍ
به هم اوخوری ، د بابا نه به دستخط هم واخلی او بابا
به هم ځان سره بوځی چې کار شروع کړی ۔
شاهد:۔ دا خبره ده ، زۀ ویم چې څومره زر کیدیشی چی دا کار ختم
کړو او دربار ته ځان اورسوم ۔
نرګس :۔ شاهده په دے طلاق نامه دستخط اوکړه چې ځو ۔
شاهد:۔ دستخط به هله کوم چې مخکښے بابا دستخط اوکړی ۔
نرګس:۔ ستا په ما اعتبار نشته ؟ ډیره دَ افسوس خبره ده ، ستا دَ پاره
زۀ څۀ کوم او ته څۀ کوے ؟ چې دستخط نه کوے
نو مه کوه ۔ ماته ستا دَ دستخط ضرورت نشته ، زۀ
تا نه خلع هم اخستے شم خو ته دَ تیکے خیال دَ زړۀ او
ذهن نه اوباسه ۔ تینک یو تۀ تلے شې ۔ستااوزما هیڅ
تعلق پاتے نشو ، تۀ زما دَ پاره پردے یې ۔ نورو دے دَ
کمرے نه اوباسه ۔
نورو :۔ شاهده دَ بی بی خبره دے وورېده ۔ Get out ۔
شاهد:۔ اوه نرګس جانی ما خو تاسره ټوقے کولے ۔ ته په ټوقو هم نه
پوهیږے ۔ زۀ خوستا غلام یم ، ستاخادم ، ستا نوکر
وغیره وغیره ۔
نرګس :۔ تۀ که هرڅۀ یې خو زۀ ستا هیڅ نه یم۔ Get out ۔پاسه اوځه۔
ته زما هیڅ نه یې ۔ زر اوځه ، ته انتهائی یو خود



www.pukhto.net



غرضه او کمینه سړے یې ۔ ستا دَ پاره ما څۀ اوکړل او
ته څۀ کوے ۔
شاهد:۔ سوری مائی ډیر جانی !
نرګس (په غصه) نه یم زۀ ستا جانی ۔ ماته جانی مه وایه ۔
شاهد:۔ سوری نرګس زۀ معافی غواړم آئی ایم ریېلی سوری (نوروته)
نورو صیب نرګس ته زما سفارش اوکړه ماته پته ده
چې ستاخبره منی ۔ پلیز
نورو:۔نرګس دَ شاهد خبره اومنه ۔ که هغه نه زیاتے شوے وی نو
معاف یې کړه پلیز ۔ زما په خاطر ۔
نرګس:۔ نورو ! تاته پته ده چې د دۀ دَ تیکے دَ پاره ماتاته څومره منتونه
اوکړل ماستا څومره خدمتونه اوکړل ، څۀ په مشکله
مې ته راضی کړے او څه په مشکله مونږ دواړو بابا
راضی کړو ۔ د دۀ دَ تیکے دَ پاره مود تور په بهانه بابا دَ
هغه نورو خلقو نه راویستلو په P.C کښې موورله
کمره واخسته چې هغه خوشحاله شی . . .او تاته پته
ده چې دلته دَ هغۀ دَ خوشحالولو دَ پاره ما څۀ اونۀ
کړل او دے بیا هم زما په مینه او خلوص شک کوی ۔
شاهد:۔ نرګس زۀ په خپله خبره پښیمانه یم ۔ مامعاف کړه پلیز۔اوېې
دا دے دستخط مې اوکړو ۔ ( هغه په طلاق نامه دستخط
کوی) اوس خو لړه اوخانده کنه ۔

نرګس (دَ هغه نه طلاق نامه اخلی په خپل پرس کښی یې اږدی) زهٔ پردو سړو ته نه خاندم ۔ ستا او زما طلاق اوشو تهٔ زما دَ پاره پردے شوے ، څه دَ کمرے نه بهر اودریږه او رشتیا اوس اوس مالـه دَ مهر لـس لاکهه روپی او دَ خپلی بنګلے کاغذونه راکړه ۔

شاهد:۔ اوه مائی ګاډ ۔ دا خو زه غرق شوم ، تباه شوم ، ماسره نه لس لاکهه روپی شته او نه دَ بنګلې کاغذونه ۔

نرګس:۔ دَ بنګلی کاغذونه ماسره دی ۔ تهٔ په هغے صرف دستخط اوکړه

شاهد:۔ دا زهٔ څه اورم جانی ۔

نرګس (په غصه) شټ اپ ، نه یم زهٔ ستاجانی ! (هغه دَ پرس نه دَ بنګلے کاغذ را اوباځی) دا دَ ډیل خبرے دی ۔ په دے دستخط اوکړه ۔

(شاهد ، نورو ته ګوری)

نورو:۔ دستخط ورته اوکړه چې ستاسو هر څهٔ کلیر شی ۔ شاهدصیب! که تیکه غواړے نو دستخط ورته اوکړه ۔ دا دَ کروړنو روپو معامله ده چې په دے ترینه خلاصیږے نو اوکړه ورته دستخط ۔

شاهد دَ هغے نه کاغذ واخلی او په هغے دستخط کوی ۔ نورو دَ هغه نه کاغذ واخلی او نرګس له یې ورکوی ، نورو ! دا واخله جانی ستا دَ مهر کاغذ "۔


www.pukhto.net



نرګس:۔ او دَ مهر لس لاکهه روپی ؟

شاهد:۔ ماسره خو هیڅ پاتے نشو ۔ زهٔ خو کنګال شوم۔

نرګس:۔ دَ کروړنو ، اربونو روپو تهول عمری تیکه ده ۔ که تهٔ اخوا دیخوا کوې نو دَ تیکے نه لاس اووینځه ۔

شاهد:۔ نه ، نه ۔ داخبره به نه کوی زهٔ هرڅهٔ ته تیاریم خو اوس مې لاس کښی نشته ۔

نرګس:۔ چی نغدې نشته نو چیک راکړه ۔

شاهد ( نوروته ګوری ) نورو بهائی ! دا خو ډیر زیاتے دې ۔ داپوهـ کړه۔

نورو :۔ نرګس زیاتے مه کوه ۔ لږ په زړو سترګو ورته اوګوره ۔

نرګس:۔ زیاتے نه کوم نورو ! دا بنګله لس لاکهه روپی او دا ګاډے دازما دَ نکاح مهر دے ۔ دا ترینه زهٔ دَ پولیس په ذریعه هم اخستے شم خو دا دے دے دَ زړو سترګو خاطر اوګنی چی شرمول یې نه غواړم ...ماد دے هرڅهٔ نه زړه صبر کړے وو خو دهٔ چی ماسره ګوتے راواخستے او زما په وفا یې شک اوکړو ... نو زهٔ بیا ولے په دهٔ زړهٔ اوسیزم (شاهده ته) شابه راکوه چیک چی هرڅهٔ کلیر شی او تاله دَ بابا نه دستخط واخلو ۔

(شاهد دَ سوټ کیس نه چیک بک را اوباسی او په رپیدونکی لاس دستخط کوی )

نرګس (دَ هغه نه چیک اخلی په پرس کښی اږدی)"ځی۔ چی ځو اوس دَ بابانه دستخط واخلو "(هغوی دَ کمرے نه اوځی ، په ګاډی کښې کینی اولږ ساعت پس تانے ته اورسی)۔

**ایکټ:۵** **سین:٦** **وخت :څلور نیمے بجے۔**

**ځائے :۔** **پولیس سټیشن ۔**

**کردار:۔** **شاهد، نرګس ، پروفیسر صیب دَ تانے ایس ایچ او۔**

لړه شیبه پس نرګس په تانه کښې ګاډے اودروی ۔ شاهد چې تانے او پولیس ته اوګوری نو رنګ اووهی ، وارېې خطا شی او په ساه ختلی انداز کښې وائی ۔

شاهد:۔ نرګس دا مونږ چرته راغلو ۔

نرګس (خاندی) ولې اویریدے ؟ دا هغه ځاے دے چې دَ کوم تا ارمان کوو.. ته مکافاتِ عمل اخر خپل ځائے ته راوستې۔

شاهد:۔ دا ته څۀ وائی نرګس جانی پلیز ګاډې واپس کړه چی ځو۔

نرګس (دَ ګاډی نه کوزیږی) راکوزیږه شاهده چې دَ بابانه دستخط واخلو ...اینے ته ورته اوګوره هغه دے مخامخ ناست دے او مونږ ته ګوری ۔

شاهد:۔ دا خو بابا نه دے ...شاید....

نرګس :۔ دا هغه بابا دے چې ته یې دلته راوستې ، راکوزیږه شابه ناوخته ده ۔

شاهد:۔ تاماسره دهوکه اوکړه ۔ زۀ نه کوزیږم ۔(نرګس یوسپاهی ته اشاره کوی) ۔

سپاهی :۔ راکوز شه ، شابه زر کوه ۔



www.pukhto.net



شاهد:۔ که مړم کړے هم نه کوزیږم(سپاهی هغه دَ څټ نه نیسی او لاندے یې غورځوی)

سپاهی :۔ تۀ جوړ په خوږه ژبه نه پو هیږې (دَ څټ نه یې نیسی او تانے ته یې بوځی)

شاهد (نرګس ته) تاماسره دهوکه اوکړه ۔ زۀ به تاسره ګورم۔

نرګس:۔ څه ورځه ، میاں صیب ستا انتظار کوی خو مخکښے ایس ایچ او صیب سره لږ ملاؤ شه ۔ (دَ پروفیسر صیب طرف ته اشاره کوی) ...دا هغه بابا دے چی تۀ ترینه دَ دربار ټول عمری ټیکه اخستل غواړے ۔ دا پیژنے ؟

شاهد (پروفیسر ته ګوری) زۀ دے نه پیژنم ۔ دے ما هډو لیدلے هم نه دے۔

ایس ایچ او:۔ لږ سوچ اوکړه ، چرے خو به دے لیدلی وی ۔

شاهد:۔ سوری سر ، نه یې پیژنم او نه م لیدلے دے ۔

ایس ایچ او (یوسپاهی ته) راشه هلکه دے حوالات ته بوځه ، جامے ترینه اوباسه التهایې اویزانده کړه او شنه چوکه ورته اونیسه...او چی کله دے په چغو چغو اووائی چې زۀ یې پیژنم نو بیایې راوله (سپاهی هغه حوالات ته روانوی) ۔

شاهد:۔زۀ خو غرق شوم ، تباه شوم ، زمانه خو هرڅۀ لاړل ۔

نرګس (ایس ایچ او ته) سر، زمونږ یو بل میلمه راروان دے دَ هغه دَ استقبال تیارے کوو ۔ اجازت دے تلے شو ۔

ایس ایچ او :۔ هاؤ میډیم اجازت دے ۔ ستاسو ډیره شکریه ۔

ایکټ:۵ سین:۷ وخت:پنځه نیمے بجے

ځائے :۔ پی سی پیښور۔

کردار:۔ چودهری سکندر ، رخسانه بی بی ، رانی او دادو۔

چودهری صیب او دَ هغه ښځه رخسانه بی بی دَکمره نمبر 151 مخے ته اودریږی او ناکنګ کوی ۔

اواز :۔ Yes come in

چودهری صیب ( کمرے ته ورځی ) السلام علیکم ، رانی لورے ، السلام علیکم حضورِ والا ۔

رانی :۔ ابوسلام علیکم ۔

دادو :۔ چودهری صیب سلام علیکم (لاس ورکوی)

چودهری صیب :۔ وعلیکم سلام ۔ تاسو ښنګه یئ (رخسانے بی بی ته) "رخسانے راځه کنه ولے بهر ولاړه یئ "(رخسانه بی بی مخ پټے کمرے ته راځی ) رانی هغے سره روغ جوړ کوی او وائی ۔

رانی :۔ امی د دۀ نه ستر مه کوه دا خو ستا زوم دے ۔

دادو :۔ مورے سلام علیکم ۔

رخسانه بی بی :۔ وعلیکم السلام ۔ خوشحاله اوسے ځویه ۔

رانی :۔ امی تهٔ ښنګه یئ ۔ ناجوړه شوے خو نه یئ ۔

رخسانه بی بی :۔ ناجوړه نه یم لورے خو ستا ناکردو ته چی ګورم نو



www.pukhto.net



ویم چې مخ ته مِ دے نه کتے ۔

رانی (خاندی ) ولې امی ؟ ماڅه کړی دی ؟ زمانه په څۀ خفه یئ ۔

رخسانه بی بی :۔ تاچی داسے کول نوماته خو به ډِ لږ ویلے وو کنه ، داسے هم څوک کوی لکه تا چې اوکړل دَ خپل قام ، قبیل او دَ خپلو مینو دَ خندا دے کړم ۔

رانی :۔ امی زما ،واده کښی هیڅ دلچسپی نه وه او نه شته ۔ دا هرڅۀ خو ما دَ ابو په وینا کړی دی ۔ زۀ ابو دَ Thesis په بهانه راوستم او دَ خپله لاسه یې دوی ته حواله کړم او راته یې څو څو ځله اووے چی زما دَ پاره به دا قربانی ورکوې نو ښنګه به مِ انکار کړے وو . . . که ستا زما په خوله اعتبار نشی نو دا دے ناست دے تپوس ترینه اوکړه ۔

رخسانه بی بی :۔ چودهری صیب دا رشتیا وائی ۔

چودهری صیب :۔ بالکل رشتیا وائی ۔

دادو :۔ مورے! اوس هم که ستاسو اجازت نه وی نو دے وادۀ ته زۀ تیار نه یم ۔

چودهری صیب:۔ نه ، نه حضور ، دا د بد شګونے خبرے مه کوه ۔ زۀ هر څۀ ته تیار یم ۔

رخسانه بی بی :۔ چی تاسو خپلو کښې راضی یئ نوزما دَ راتلو څه ضرورت وو . . .بس دا به اووایم چې یوه لورخدائے

راکړے او خدائے رانه واخسته ۔ زۀ به خپلو مینو سره
سترګے څنګه لګوم ...چې څوک زما نه تپوس
اوکړی چې "رانی څۀ شوه نو زۀ به څۀ جواب ورکوم
...رانی زما لور هم وه او ځوے هم ...د دے وادۀ خو
زما لوے ارمان وو۔ دے دَ پاره خو ما رنګ رنګ
خوبونه لیدل ، هغه ټول لاړل په اوبو لاهو شو۔

چودهری صیب:۔ رخسانے ،جذباتی کیږه مه زما هم څۀ مجبوری وه۔

رخسانه بی بی :۔ ستا هغه کومه مجبوری ده چې زما لور قربانوی ۔
ډیره دَ افسوس خبره ده ۔

چودهری صیب:۔ ته په دے نه پو هیږے رخسانے ۔ دا زما دَ عزت او
غیرت مسله ده ۔

رانی :۔ نه ابو ! داسے مه وایه ، ستا عزت او غیرت خو زۀ یم بلکه داسے
وایه چې دا دَ ډیل او دَ کروړونو ، اربو روپو دَ ګټے خبره وه۔

چودهری صیب:۔ هاؤ لورے دے نه هم انکار نشی کیدے ۔ دا خبرے
پریږدۀ ۔ ښه لورے ته څنګه یې ۔

رانی :۔ ښه یم ابو۔ امی اوس خو مونږ دواړو دَ وادۀ اقرار کړے دے اوس
خو پکښې څۀ نه کیږی ، لږه مسکے شه پلیز ( هغے
ته غاړه ووځی)

رخسانه بی بی ( هغه ښکلوی) زما لورے تاته ډیره ملامته یم چې تش
لاس درله راغلم ۔ ما چې ستا دَ پاره کوم کالے جوړ





کړے وو هغه چرته یے درکه شوے دے ۔

رانی ( خاندی) اوه امی ته په دے خبره خفه وې ۔ پرون چې ستاخبره ما
دادو ته اوکړه نو په هغه ساعت یې زۀ ځان سره اندر
شهر ته بوتلم او هم هغه شان کالے یې راله واخستو ۔
او څومره ؟ پوره څلویښت تولے۔ (هغه کالے راخلی او
هغے ته یې ښائی )دا اوګوره کنه څومره ښکلے دے ۔

رخسانه بی بی :۔ واؤ ۔ ډیر اعلیٰ ۔ داخو ډیر ښائسته دے او خودبخود
ستا دَ کالی غوندے دې ۔ څه لورے مبارک دے شه ۔

رانی :۔ امی دا راته په خپل لاس واچوه (رخسانه بی بی هغے ته کالی
اچوی) ښکلے ښکاری امی ؟

رخسانه بی بی :۔ ډیر خائسته ښکاری ۔ خدایٔ دے نصیب کړه ۔
لورے ستا هغه کلالۍ خزانه هم یے درکه شوے ده ۔

رانی :۔ اوه کلالۍ خزانه ۔ امی ما دپاره ته خزانه یې ۔ دَ روپو خزانه، دَ
مینے محبت خزانه او د دعاګانو خزانه ۔ پرون چې م
ستا دَ خفګان اظهار دادو ته اوکړو نو فورًا یې سوټ
کیس لرے کړے او څلور لاکهه روپۍ یې راکړے( هغه
ورته روپۍ ښائی ) دا اوګوره دا ټولے روپۍ ستا زوم ماله
سلامی راکړه ۔

رخسانه بی بی :۔ خدائے دے خوشحاله کړی چې ستادومره خیال ساتی۔

چودهری صیب :۔ حضور! تاسودَ تیکے خبره باباسره اوکړه ۔



www.pukhto.net

دادو:۔ هاؤ ما کړې ده ، دَ هغه دَ طرفه نا ، منعې نشته صرف ستاسو
انتظار وو (دَ دادو په موبائيل رنګ راځي ، هغه پاڅي او
کمره نمبر 153 ته ورځي ) . . .لږه شيبه پس چې هغه
راشي نو چودهري صيب ورته وائي ۔

چودهري صيب:۔ دا کاغذ مِ راؤړې دي چې دَ هغه نه پرې دستخط واخلو۔

دادو:۔ دستخط څه مسله نه ده دا به پرې زۀ اوکړم ۔

چودهري صيب:۔ نه حضور والا ، دستخط دَ هغه پکار دے ۔

دادو:۔ تيکه دَ څومره مودے دَ پاره غواړې ؟

چودهري صيب:۔ دا خوستاسو په نګاه کرم منحصر ده چې څومره
ګوره اچوے اوبه خوريږي کم از کم چې دَ يو کال خو وي ۔

دادو :۔ (خاندي) تيکه به تول عمري درکوم خو په يو شرط ۔

چودهري صيب :۔ څۀ شرط ؟

دادو :۔ تيکه کښې به ما شريکوے ۔

چودهري صيب :۔ حضور تاسو سره زما لورکيناسته ۔ ته اوس زمونږ
دَ کور سړے يې شريک کاروبار کښې اکثر خفګان
پيدا کيږي او زۀ دا نه غواړم چې زما او ستا په مينځ
کښې خدائے مه که خفګان راشي۔

دادو:۔ ښه څه چې ما نه شريکوے نو دا لور دے شريکه کړه ، ستاخو
هسے هم بل اولاد نشته ۔ دا به درسره وي ، قابلِ
اعتباره هم ده او قابله هم ده ۔


www.pukhto.net



چودهري صيب:۔ نه حضورِ والا ! دا هم شريکول نه غواړم ځکه چې
لور ، خور دے دَ کوره اوځي نو دَ بل دَ کور شي ۔ دا
زما لور ده خو اوس چونکه ستا ښځه شوه نو زۀ به
ورته دَ لور په نظر نه ګورم بلکه ستا دَ ښځے په نظر
ګورم ۔ د دے کور اوس ستا کور دے زمانه ، هلې هغه
مړے ژوندے او تګ راتګ بيله خبره ده خو زما زور
پرے نه چليږي۔ البته يوه خبره ده چې تاسو دواړه څۀ
شريک کاروبار شروع کړئ زۀ به تاسو له قانوني
مشورے هم درکوم او دَ منډو ، ترړو پوره تعاون به
درسره کوم ۔

دادو:۔ په دے به سوچ کوو او که ضرورت پيښ شو نو تاسو نه به
مشوره هم اخلو۔

چودهري صيب:۔ بالکل زه تابعدار يم. . .ښه حضور والا ! بابا څۀ شو
چې په دے کاغذ ترينه دستخط واخلو ۔

داودو :۔ دستخط به اوشي خوروبي ته زمونږ په نکاح نامے دستخط اوکړه ۔

چودهري صيب:۔ په نکاح نامے زما دَ دستخط يا اجازت ضرورت
نشته . چې تاسو دواړه راضي يې نوزما څه
ضرورت دے ۔ مياں ، بيوی راضی تو کيا کرے قاضی
، تا دا متل نه دے اوريدلے ۔

دادو :۔ دا راني څوک ده ؟ ستا څه ده ؟

چودهری صیب :۔ دا زما دَ زړه ټکړه او زما دَ بدن حصه ده ۔

دادو:۔ ستا په مال کښې د دے برخه شته ؟

چودهری صیب:۔ دا زمـا دَ ټـول جـائیداد او مـال وارثـه ده ۔ زمـا هر څۀ د دے خواوس نه ۔ زما دَ مرګ نه پس دا هر څۀ د دے ۔

دادو:۔ هغه خو ټیک خو اوس ورله داج کښې څۀ ورکړه ...تاسو خپل کـالی ورنه کړل او دا بهانه مو اوکړه چې هغه بے درکه شـوی دی ...د دے خپل جمع شوے روپۍ تاسو ورنه کـړے ...اخر د دے به هم په زړۀ کښې ګیله راځی که نه ۔ تاسو دواړه تش راغلۍ او هغه نورے جوړے جامے خـو پریـږده چی یـوه لـوپټـه مو هم ورلـه راؤړنـه ړه ...مورے تۀ په خپله سوچ اوکړه آیا دا دَ اصولو خبره ده .کـه د اصـولـو خبـره نـه ده نـو بیا ولی داسې اوشو اوکیږی ، که ته وائے چې زما مجبوری وه نو دا خو څۀ دومـره ګـرانـه خبـره نه ده تۀ خو هم په دے ځائے دے له خپل حق ورکولے شے ۔ دے نه معلومیږی چې ته زما او د دے په واده ، په زړۀ کښې خوشحاله نه یې ۔ رانـی ډیـره ښـه جیـنـۍ ده او زما ډیره خوښخه ده خو چـونـکـه مـاسره د دے وادۀ دَ څـۀ مجبورۍ پـه وجـه کیـږی نـو زۀ دَ چادَ مجبوری نه ناجائزه فائده نه اخلم ۔دے دَ پـاره د دے وادۀ نـه انـکـار کـوم ... ته تلے شې ۔


www.pukhto.net



ځان سره رانـی هم بوځه ، دا مور بی بی یې راغلے ده چې لاړه شی ورسره ...

چـودهـری صیـب:۔ حـضـورِ والا دا زۀ څۀ اورم ۔ داسے خبرے مه کوی پـلـیـز ۔ دا خو ماتاله درکړے ده ۔ ماخو تاته په ړومبی ورځ ویـلـے وو چې مـاتـه مـنـظـوره ده ۔ که زمانه څۀ غلطی شوے وی نو زه درنه معافی غواړم ۔

دادو:۔ معافی درنه زۀ غواړم ۔ څه چودهری صیب څه تاته اجازت دے ..رانـی یـوه مـعـصـومـه او تعلیم یافته جینۍ ده او زۀ یو ګناه ګار او غیر تعلیم یافته سړے یم ۔ زۀ د دے لائق نـه یـم ۔ څـه چـودهـری صیـب چرته اوچته کورنۍ کښی یې ورکړه او دَ خپل زړه ارمان پرے اوباسه۔

چودهری صیب:۔ زما دَ تیکے به څۀ کیږی ؟(دَ دادو په موبائیل مس کال راشی )۔

دادو:۔ ماته پته ده چې ته به دَ تیکے خبره کوے ...تیکه ختمه شوه تۀ تلے شے ۔ ستا او زما ترمینځه هیڅ پاتے نشو ۔

چـودهـری صیـب:۔ حـضـور ، دا زمـا دَ عزت او غیرت خبره ده ۔ که دا تیکه ماته ملاؤ نشی نو زه خو به غرق او تباه شم ۔

دادو:۔ زۀ سـتـا دَ تیـکـے دَ پـاره دَ رانـی ازار نشـم اخستے ۔ څـه ورځـه چودهری صیب ۔

چودهری صیب (رانی ته په ډکو سترګو ګوری) رانی لورے ، حضور والا

تـه زمـا سفارش اوکړه چې دَ بابا نه دستخط واخلی ۔
لورے پلیز۔

رانی :۔ ابو! تاخو دَ خپلې مجبورۍ په پړی زما خپې لاس تړلی وو او دَ خپـلـه لاسـه دے سـمندر ته غورځولے ووم بنۀ ده چې حضورِ والا په خپله انکار اوکړو . . . په دے وجه زۀ هم ورته په کلکه نشم ویلے ۔

چـودهری صیـب:۔ رانـی لـورے پـلیـز ، دا اخری خواهـش مِ پوره کړه لورے چې ځم درنه ناوخته کیږی ( رانی پاځی او دادو له ورځی )

رانی :۔ حضور والا ، د ابو اخری خواهش پوره کړه پلیز ۔

دادو :۔ نه رانی نه ۔ تۀ هم ځه او دوی هم بوځه ۔

رانی :۔ حضورِ والا ! لږ ماته اوګوره ، تاته رانی ولاړه ده او تانه سوال کوی۔

دادو:۔ آه رانـی ! ستا فرمائش به زه څنګه پوره نه کړم ۔ ځه کمره نمبر 152 ته ورشه ، بابا سره ماخبره کړے ده ۔ هغه نه پرے دسـتـخـط واخـلـه۔ ورشـه ورشـه ، تۀ هم ورسره ورشه چودهری صیب ۔

رخسانه بی بی :۔ ځویه تا دَ رانی دَ رشتے نه ولے انکار اوکړو ؟

دادو :۔ مورے ! رانی ډیره ښه جینۍ ده او زما خوښخه هم ده خو زه یو غریب مزدور سړے یم دَ هغے جوګه نه یم۔ بله خبره دا ده چې ستـا کـورنـۍ دَ چودهرانو ده او زما کورنۍ دَ


www.pukhto.net



مـزدورانـو او غریبانانو ، زۀ تاسو سره جغ نشم اوړے ۔

لږه شیبـه پـس رانـی راځـی او خـفه کینـی ۔ دادو غلے غونډے هغـے ته ګوری او وائی ۔

دادو :۔ بابا دستخط اوکړو ؟

رانـی :۔ هـغـه دستخط ته جوړ نشو ؟ دَ دستخط نه مخکښے پولیس راغی او هغوی یې بوتلل ۔

دادو:۔ دا به څۀ کیږی (دلشادبانو ، نرګس ، رحیمو او نورو راځی)

دلشـادبـانـو:۔ دابـه داسے کیـږی راځـی چې تانے تـه ورپسې ورشو او پولیس ته دَ هغوی سفارش اوکړو ۔

نرګس:۔ ډیره ښه خبره ده ، راځی چې ورځو ۔

دادو :۔ ځی چې ورشو ۔

هغوی ټول دَ کمرے نه اوځی په ګاډو کښې کینی او تانے ته رسی۔

★★★★★★★★★

ایکټ :۵ سین:۸ وخت:۔ مازیګر زیړے

ځائے :۔ پولیس ستیشن

کردار:۔ نورو، رحیمو ، دادو ، خورشید ، دلشادبانو، نرګس ، رانی ، رخسانه ۔

هغوی چې دَ ګاډو نه کوز شی او تانے ته ورځی نو نور مخکښے لاړ شی خو چې دلشادبانو دَ چودهری صیب ډرائیور خورشیداووینی نو مسکی شی او وائی ، هیلو خورشید ! ته دلته څۀ کوی . .اوه تا جوړ چودهری صیب راوستے دې ، خورشید په مسکااو خندا دَ هغے خواله راشی "سلام علیکم میډم "

دلشاد بانو:۔ وعلیکم سلام ، دلته ولے ولاړې ؟

خورشید :۔ دلته دَ چودهری صیب انتظار کوم ، میډم تاسو څنګه راغلی "۔

دلشاد بانو:۔ زۀ یو کار پسې دلته پیښور ته راغلے ووم ۔ خو چې دَ چودهری صیب د ګرفتاری نه خبر شوم نو هغه کارم په ځائے پریښودو او دلته راغلم ۔ زۀ ورځم چې رفاقت سره دَ چودهری صیب پیژندګلو اوکړم ۔

خورشید:۔ رفاقت صیب څوک دے میډم ؟

دلشاد بانو:۔ د دے تانے ایس ایچ او دے ، زما کزن دے ۔

خورشید :۔ بیا خو ډیره ښه خبره ده امید دے کار به اوشی ۔



www.pukhto.net



دلشاد بانو :۔ ته هم راځه ، دلته څۀ کوے ، چودهری صیب سره به ملاقات هم اوکړے او ښه مکلفه چاے به هم اوڅکے ۔ ځه چې ځو۔

خورشید :۔ ما به دننه پریږدی ؟

دلشاد بانو:۔ چې ماسره یې نو بیاپریږه مه ۔

هغوی دواړه تانے ته دننه کیږی ، سنتری دلشاد بانو ته سلام کوی او خورشید دَ تلاشی دَ پاره اودروی ۔

دلشاد بانو:۔ دے ماسره دے ، د تلاشی ضرورت نشته ۔"راځه هلکه"۔

چودهری صیب حوالات ته دننه شوې وی البته نور تول دَ ایس ایچ او صیب په دفتر کښی ناست وی ۔ دَ دلشاد بانو په ورتلو باندے ایس ایچ او هغے ته دَ کرسی نه پاسی ۔ دَ هغه پاڅیدو سره ناست کسان هم پاسی ۔ ایس ایچ او صیب یوے کرسی ته لاس نیسی "تشریف کیږدی میډم "۔

دلشاد بانو :۔ تینک یو سر ۔

ایس ایچ او :۔ دا میلمه تاسره دے میډم ؟

دلشاد بانو:۔ دا دَ چودهری صیب ډرائیور دے سر ، دۀ چائے نه ده څکلے دے میلمه خانے ته اورسوی او ښه میلمستیا ورکړی۔

ایس ایچ او :۔ راشه ځمین جانه ۔ دے میلمه خانے ته بوځه او ښه زبردسته میلمستیا ورکړه ۔

ثمین جان :۔ "راځه چی ځو میلمه "( هغه دَ ځټ نه نیسی او تارچرسل ته
یې بوځی )

ایس ایچ او (یو سپاهی ته) ورشه هلکه دے میلمنو له ښه زبردسته
چائے راؤړه (دلشاد بانو ته) "دا دوه بیبیانے نوے غوندے
ښکاری "؟

دلشاد بانو:۔ (رانی ته اشاره کوی) سر ، دا جینۍ دَ چودهری صیب لور
ده او زمونږ ملګرے ده ...دا بله بی بی دَ چودهری
صیب بی بی ده ۔ دوی دَ چودهری صیب ملاقات له
راغلی دی ۔

ایس ایچ او :۔ ډیر ښه ۔ملاقات به اوشی خو چې چائے اوڅکی
(یوسپاهی چائے راؤړی او ټولو له پیالۍ ورکوی)" چې
دوی له چائے ورکړے نو مرزا صیب راؤغواړه "۔

سپاهی :۔ سر ، هغه اوس لږ ساعت مخکښے بهر اووتو ۔

ایس ایچ او:۔ ښه داسے اوکړه چې اے ایس آئی ، زبیر خان راؤغواړه ۔

سپاهی :۔ ډیره ښه ده سر ، دا دے لاړم ورپسې ۔

زبیر خان :۔ (راځی او سلوټ کوی) سر ، تاسو ماته څۀ ویل غواړۍ۔

ایس ایچ او :۔ ته ورشه هغه میلمانۀ راوله ، دوی ورسره ملاقات کوی۔

اے ایس آئی زبیر خان:۔ ډیره ښه ده سر ۔ ( هغه سلوټ کوی او بهراوځی)۔
میا ں صیب ، شاهد او چودهری صیب په هتکړو
کښې په داسے حالت کښې راځی چې دَ هغوی نه



www.pukhto.net



قمیصونه ویستلی شوی وی ۔ په بربنډو ځایونو یې
دَ چوکو تغمے او زخمونه ښکاری ۔

ایس ایچ او :۔ "دا دی ستاسو میلمانۀ ! رخسانه بی بی چی چودهری
صیب ته اوګوری نو یوه چغه اووهی ۔ چغے سره یې
دَ چاے ګوټ دَ خولے نه تو‌ے شی او دَ هغے په جامو
پریوځی ۔ هغه څۀ ویل غواړی خو دلشادبانو دَ هغے
په خوله لاس اږدی او وائی "خبردار بی بی ! دا تانړه ده
" دَ تانے دَ نوم سره هغه دومره اویریږی چې دَ خولے
سلکۍ یې خیتې ته لاړے شی ۔

په دیکښے مرزا صیب سره یوه ببر سرے لیونۍ تانے ته رادننه شی ۔
هغے سره په تربښ کښې دَ زړو اخبارونو ټکړے وی ۔
چې دَ ایس ایچ او دفتر ته دننه شی نو مراز صیب
ورته وائی "ورشه مورے دَ مشرخان نه تپوس اوکړه "

ایس ایچ او :۔ مرزا صیب دا بوډی څۀ وائی ۔

مرزا صیب:۔ سر ، دا تاسو نه یو تپوس کوی ۔

ایس ایچ او :۔ تۀ څۀ وائی مورے ۔

لیونۍ (دَ هغه خواله راځی) "تا دَ عالم خان پلار لیدلے دې "؟

ایس ایچ او (مسکے شی) نه مورے مانه دے لیدلے او کیدیشی لیدلې م
وی خو زۀ هغه نه پیژنم ، (مرزا صیب هغه دَ لاس نه
نیسی ، پروفیسر صیب له یې بوځی او ورته وائی "د

دے سړی نــه تپوس اوکړه دے یې پیژنی " بوډۍ
پروفیسر صیب له راځی هغه ته مخامخ اودریږی او
وائی "تا دَ عالم خان پلار لیدلے دے"؟ پروفیسر صیب
هغے ته نیغ نیغ ګوری خو هیڅ جواب نه ورکوی ـ

ایس ایچ او :ـ مرزا صیب دا څه ډرامه دے شروع کړے ده ـ عالم خان او دَ عالم خان پلار څوک څۀ پیژنی ؟

مرزا صیب:ـ دا ډرامه نه ده سر، تاسو عالم خان او دَ عالم خان پلار نه پیژنئ خو زۀ دا دواړه پیژنم ـ دا بوډۍ دَ عالم خان مور ده ـ عالم خان زمونږ په سب ډویژن کښې دَ واپډا SDEO دے او دا بوډا سړے چې ناست دے دا دَ عالم خان پلار او د دے بوډۍ خاوند پروفیسر کمال خان دے ـ سر دا پروفیسر صیب زما استاذ وو او دا بوډۍ ښځه زما دَ ښځے او دَ ټول ګوانډ دَ ښځو دَ ناظرے استاذه ده ـ زۀ دا دواړه پیژنم خو افسوس چې نه خپلو ځامنو او پیژندل او نه دے ظالمانو ـ سردا هغه ظالمان دی چې دَ دوی دَ لاسه روغ جوړ پروفیسر لیونے شو ، قرآن خوانه بی بی یې لیونۍ شوه او دا یې حال شو چې اوس ښځه خاوند او خاوند خپله ښځه نه پیژنی ـ سر ، دوی ته خو به سزا ملاؤ شی خو دے لیونو سره څۀ اوکړو ؟ دوی څۀ ګناه کړے ده ـ





(ملزمانو ته) یَه دَ خدایٖ ظالمانو تاسو نه تپوس کوم چې دوی څۀ ګناه کړے ده ـ دا زړه مِ وائی چې په بمونو کښې مو والوځم خو افسوس چې قانون اجازت نه راکوی ـ (دَ ټولو په سترګو کښې اوښکے راشی)

ایس ایچ او ـ مرزا صیب جذباتی کیږه مه ـ دوی سره به دَ قانون مطابق کارروائی کیږی او تۀ تسلی ساته ، دوی دَ قانون دَ پنجے نه بچ کیدے نشی ، ریلیکس پلیز ، ریلیکس ـ

مرزا صیب :ـ سر یو ریکوسټ بل کوم ـ یو خو دا چې ماله اجازت راکړه چې دوی خپل کورته اورسوم او بل دا چې دَ لس ورځو چُهټی راکړه چې دوی هسپتال ته اورسوم او د دوی علاج اوشی ـ

ایس ایچ او :ـ مرزا صیب! دوی خپلو زامنو ته حواله کړه هغوی به یې خدمت کوی ـ دَ هغوی پلار دے او هغوی پرے پړۀ دی ـ

مرزا صیب:ـ سر ، هغوی ټول الوتے دی اوس دوی نه پیژنی ـ ماله اجازت راکړه سر ، چې خپل فرض ادا کړم ـ

ایس ایچ او :ـ ټیک ده دوی بوځه ـ

★★★★★★★★★

ایکټ:۵　　سین:۹　　وخت:ماښام

ځائے:- پی سی هوټل پیښور

کردار:- نورو ، رحیمو ، دادو ، دلشاد بانو ، نرگس ، رانی او رخسانه ۔

(ټول دَ دادو کمرے ته راغونډ شوی وی او هغه ورته خطاب کوی)

دادو:- خورو ملگرو او عزت مندو بیبانو ! السلام علیکم ۔

ټول :- وعلیکم سلام ۔

دادو :- مونږ درے واړه نارینه دَ یوے علاقے یُو او یو بل دَ مخکښے نه پیژنو خو چې کله نه مو تاسو سره لیدل کتل شوی دی نو په ډیره لږه موده کښې یو بل ته دومره نزدې شو لکه چې دَ عمرونو واقفیت او دوستانه لرو ۔ په دے لږه موده کښې زمونږ زړونه او ذهنونه یو بل سره اوترلی شو او ډیر ښکلی ښکلی او خائسته خائسته یادونه پکښې ځلا کوی ۔ داسے معلومیږی چې مونږ درے کورنۍ یُو او هره کورنی دَ مینے ، محبت په رشته یو بل سره تړلې شوے ده او دَ یو بل دَ جُدائی تصور نشو کولے خو ډیر افسوس سره ویم چې اوس یو څو لمحے پس به مونږ دَ یو بل نه همیشه همیشه دَ پاره جُدا شو ۔ څۀ موده به دَ ټیلی فون او موبائیل په



www.pukhto.net



ذریعه یو بل سره رابطے ساتو ، بیا به دا رابطے رو رو ختمے شی او صرف تصویرونه به زمونږ په زړونو کښی پاتے شی ۔ څۀ موده پس به دَ حالاتو او حادثاتو دَ گردونو په وجه دَ دغے تصویرو ځلا تته شی ۔ دغه تت تصویرونه به دَ وخت تیریدو سره غیب شی او هیر شی ۔ څۀ موده پس که چرے بازار یا یو ځاے بل ځاے ناگهانی ملاقات اوشی نو یو بل ته به په شک منو سترگو اوکتې شی ، که یو بل یې اوپیژندو نو روغ جوړ به اوکړی ، زاړه یادونه به تازه کړی او لکه دَ زړو کلاس فیلو به بیا دَ سکول دَماشومانو غوندے زړے خبرے یاده وی او په خندا خندا به په یوه یوه خبره تبصره کوی ..او که یو بل یې اونه پیژندو نو دواړه به په خپله خپله لاره ځی ... دَ هر سړے دَ ژوند تیرولو خپله خپله لاروی ۔ په دغه لارو کښې ځینے نیغے او ځینے کږے وی ۔ دَ نیغو لارو منزل خوشحالی او سُکالی ده او دَ کږو لارو منزل رسوائی او تباهی ده ۔ د دے مثال ستاسو مخکښے دے۔

چودهری سکندر دَ کلاس واله چودهری او ډیر جائیداد او مال ودولت مالک وو ۔ هغه ته دَ ژوند ټول سهولتونه حاصل وو او دَ هیڅ څیز

Pukhto.Net

کمے ورسره نه وو خو د دے هر څه
باوجود دَ هغه دَ حرص تنده ماته نه شوه ۔ دَ پیسو
گټلو دَ پاره هغه په خپل عزت او غیرت هم اړه نه
لرله ۔ میاں اعظم فاروقی کروړ پتی وو ۔، دَ اولاد دَ
نعمت نه هم محروم وو خو بیا هم دَ عمر په اخر ډګر
کښې په هغه لار روان وو چې دَ هغے انجام بربادی وه
۔ دغه شان شاهد هم وو ۔ اګر چې دَ عمر په لحاظ د
دغه دواړو نه کم وو خو لالچ یې دَ هغوی نه کم نه وو ۔
دے ټولو دَ بدکارۍ او غیر اخلاقی حربو په استعمال
کښې دَ یو بل نه دَ مخکښے کیدو کوشش کوو ۔ دے
ټولو دَ پیسو گټلو دے لوبے ته دَ خپل عزت او غیرت
درجه ورکړے وه او دے دَ پاره هرجائز او ناجائز کار ته
تیار وو۔ په دے غرض شاهد خپلې بی بی له طلاق
ورکړو ، میاں صیب خپلې بی بی له طلاق ورکړو او
چودهری صیب خپله معصومه لور دغه دندے ته
راوویستله ۔

دَ ژوند ارمانونه پوره کولو دَ پاره مونږ په خپله چې په
کومه لار سروو دَ هغے سر دَ چودهری صیب ، میل
صیب او دَ شاهد لارے سره جنګیدلے وو نو په دے
ډیرخوشحاله شوم چې خداې زمونږ اصلاح اوکړه او


www.pukhto.net



نیغے لارے ته یې راواړولو ، هغه لاره چې دَ قناعت ده
، هغه چې دَ صبر او شکر ده ۔

زما عزتمندو! مونږ ټول جوړے جوړے شو ۔ شاهد خپلې ښځے له
طلاق ورکړو او نورو ته یې حواله کړه ۔ میاں صیب
خپلې ښځے له طلاق ورکړو او رحیمو ته یې حواله
کړه چودهری صیب خپله فرشته صفت لور دَ لاسه
اونیوه او ماته یې حواله کړه خو ما چودهری صیب
ته دَ رانی دَ مور بی بی په مخکښے څو څو ځله ویلے
دی چې زۀ دے رشتے ته تیار نه یم او تاسو ټولو ته م
هم څو څو ځله ویلے دی چې زۀ په دهوکه گټلې
شوے ښځے ته تیار نه یم ۔ دے دَ پاره زۀ هغے له اجازت
ورکوم چې خپلې مور بی بی سره خپل کور ته لاړه
شی (رانی په چغو چغو ژاړی) "البته ستاسو مخه نه
نیسم ،ستاسو چې څۀ خوښه وی هغه کوی ۔
(خاموشی)

رحیمو :۔ حضور ماته دَ خبرے کولو اجازت شته ؟

دادو :۔ ما خپلې خبرے ختمے کړے ، هرڅوک دَ خپلې رائے اظهارکولے شی

رحیمو:۔ حضور : تاسو ډیرے خائسته او ګل خبرے اوکړے ۔ ستاسو
خبرو زمونږ پټې سترګے اوغړولے ۔ حضور تاسو
زمونږ دَ پاره دَ لارے بل مشال یې ۔ مونږ ستاسو په

رنړا ، تاسو پسے روان یو او ستاسو په پل به پل اړدو ۔
زۀ واقعی چی دلشادبانو سره مینه کوم او دَ هغے په
مینه دَ سر نه هم ورتیریم خو دَ عزت او غیرت نه
ورتیر نه یم۔ ما دَ هغے مینه په دهوکه گټلے ده او مینه
کښې دَ دهوکے گنجائش نه وی ۔ زۀ ډیر په افسوس
سره ویم چی زه خپله مینه په خپل ضمیر ، عزت او
غیرت قربانوم او دَ هغے دَ مینے لاس ډیر په افسوس
سره پریږدم (دلشاد بانو په سلګو سلګو ژاړی)

نورو:۔ حضور ! ستاسو خبرو زمونږ ړندے سترگے بینا کړے ۔ زۀ دَ
نرگس په مینه روک لیونے یم او د دے مینه ماته د دنیا
دَ هر شیز نه گرانه او خوږه ده ما هم لکه ستاسو دا
مینه په دهوکه گټلې ده او مینه او دهوکه دواړه
متضاد شیزونه دی ۔ زۀ دَ هغے دَ مجبورئ نه ناجائز
فائده نه اخلم او په ډیر افسوس سره دَ هغے دَ مینے
لاس له ځنډ ورکوم ۔(نرگس په چغو چغو ژاړی)...ډیره
شیبه دغه ژړاگانے وی ۔ چی کله دَ نرگس زړۀ تش
شی نو پاڅی او وائی ۔

نرگس:۔ حضور ! مینه او دهوکه واقعی متضاد شیزونه دی او دواړه
په یو وخت په زړه کښې نشی چلیدے ...حضور!
مینه اکثر جنسی او نفسانی گټلې شی او تر څو چې


www.pukhto.net



زه دَ بابا جی دربار ته نه ووم راغلے نو دَ مینے متعلق
زما هم دا نظریه وه خو چې ستاسو په صحبت کښې
شامله شوم نو دَ مینے مقام راته دَ نفسانی او جنسی
خواهش نه ډیر اوچت ښکاره شو ۔ستاسو دَ نیک
صحبت په وجه زما نفسانی بالیدگی رو رو ختمیده
او دَ زړۀ آئینه مِ رو رو صفا کیده ان چی هغه ټوله
بالیدگی ختمه شوه او یوه ځلا پکښی پیدا شوه ۔ د
دے ځلا په شا یووړوکے تت شان تصویر پیدا شو ۔ دَ
وخت تیریدو سره دا تصویر لوئیدو او صفا کیدو ۔
اوس هغه دے حد ته رسیدلے دے چې زما دَ زړۀ
کائنات یې ټول تسخیر کړو او وخت په وخت دَ پاکے
مینے په چینو زما دَ پاکے مینے آبیاری کوی ۔

حضور! ما غوښتل چې دغه خیالی تصویر مجسم شی او زۀ یې په
دنیاوی سترگو اووینم او واقعی داسے اوشو ۔ چی کله
هغه مجسم شو نو دَ نورو په شکل کښې نمودار شو۔
دا تصویر چې ما اولیدو نو دَ خپلو ارمانونو دَ
تکمیل امید مِ پیدا شو ۔

حضور ! زما جولئ دَ ماضی دَ گناهونو نه ډکه ده ۔ دا ډکه جولئ به
ټول عمر هم داسے ډکه گرځوم ، دَ خپل مستقبل
ارمانونه به ورته لوگے کوم او که د دے د تشیدو څۀ

امکان شته ؟ ما دَ خپلو گناهونو اعتراف اوکړو خو
چا چې دا گناهونه زماجولۍ کښې اچولے وو دَ هغه
کردار تاسو اولیدو ـ ما هغه سره بے وفائی ځکه اوکړه
چې هغه ته زما دَ عزت او غیرت نه زیات دَ خپلې
گټې اومال ودولت ضرورت وو۔ آیا داسے خاوند سره
بے وفائی جائز نه ده ـ زۀ ډیر افسوس کوم چې نورو ته
زما دَ ماضی دَ گناهونو داغونه ښکاری خو زما په
زړه کښې ، په هغه زړۀ کښې چرته چې دَ هغه
تصویر جوړ شوے ، لوبے شو او مجسم شوے دے ، په
هغے کښے ورته دَ روخانه مستقبل امیدونه نه
ښکاری ـ ده ماسره دَ ژوند پیټې اوړونه انکار اوکړو ـ
خو زه انکار نشم کولے البته دَ اقرار په امید به تل دۀ
ته سترگے په لار ولاړه یم۔

(ژاړی او سلگی وهی ...دلشادبانو خپلی اوښکے اوچوی او پاڅی)

دلشاد بانو:۔ حضور! ښځه فطری طور دَ مینے محتاجه وی ځکه چې
طبعی لحاظ سره کمزورے او نازکه وی ـ هم په دے
لحاظ سره ورته صنف نازک ویلے کیږی ـ هغے ته دَ
خپلی کمزورۍ احساس دَ ورکوتوالی نه وی ـ چې
وړه وی نو دَ خپلی مینے د اظهار په توگه گډیانے
لوبوی ـ هغوی له خائسته خائسته جامے جوړوی او


www.pukhto.net



دَ خپل ذهن او زړۀ مطابق ورله کورونه جوړه وی ـ
ټوله ورځ هغوی سره خبرے کوی او دَ نورو نه پټ دَ
مینے اظهار کوی ـ چې لږه لویه شی نو خپلو هم
ځولو سره لوبے کوی او دَ گډیانو په ځائے هغوی سره
مینه کوی ـ چې پیغله شی نو دَ مینے فطری میلان
یې غوټی اوسپړی او دَ توجه متقاضی شی ـ په کور
کښې دَ مور پلار دَ مینے محتاجه وی ، دَ رونړو دَ مینے
محتاجه وی او چې کله وادۀ شی نو بیا دَ خاوند دَ
مینے محتاجه وی ـ دَ هغے دَ ژوند مقصد خپل خاوند
خوشحالول وی ـ د دے مقصد حاصلولو دَ پاره دَ هغے
هروخت دَ خاوند سترگو اوتندی ته کاتۀ وی ـ بعضے
خاوند دَ ښځے دَ مجبورۍ نه ناجائز فائده اخلی او
ښځه دَ دولت گټلو یوه لویه وسیله اوگڼی ـ کومه
پرزه چې په بله طریقه نه کهلاویږی نو دَ هغے په
ذریعه یې دَ کهلاؤلو کوشش کوی ـ

حضور! هم داسے مونږ سره هم اوشو ـ مونږ دَ کورونو نه اوویستلی
شو او کلبونو ته اورسولے شو ـ بیا دَ گناه دَ پاسه دَ گناه
سلسله شروع شوه او د دے زنځیراخری کړۍ دَ
باباجی دربار ته اورسیده ـ دَ ټیکے حاصلولو په لالچ
کښې زمونږ ترمینځه زبردسته مقابله شروع شوه ـ

د دے مقابلے ګټلو چې زمونږ خاوندانو کومے هلے ، ځلے اوکړے هغه تاسو نه پټې نه دی ۔ هغوی دَ دربار تیکه اخستل دَ خپل عزت او غیرت مسله جوړه کړه ۔ تر دے چې خپلو ښځو له یې طلاق ورکړو او تاسو ته حواله شوے ۔ تاسو ته دَ هغوی مجبوری دَ هغوی اخلاقی کمزوری او بے وفائی ښکاره شوه او دَ مینے لاس ورکولو په ځائے مو نیمه خوا پریښودے ۔

حضور ! ستاسو صحبت سره مونږ ته دَ مینے یوبل ادراک اوشو ، هغه ادراک چې هغے زمونږ دَ روحونو بالیدګی اووینځله او پاکه یې کړه ۔ زمونږ زړونو کښې یې دَ پاکے مینے چینې پیدا کړے ۔ رحیمو چې دَ کومے مینے محرک وو دَ هغے مینے تقدس ته ئے دَ شک په نظر اوکتل او زما دَ مینے لاس قبلولو نه یې انکار اوکړو ۔ بهرحال زهٔ دَ هغه دَ انکار نه بلکه دَ هغه دَ اقرار په امید دَ خپل مستقبل روخانه خوبونه وینم۔

(دادو مسکے شی رانی ته ګوری )

دادو:۔ ښه رانی تهٔ هم دَ خپل خیال اظهار اوکړه ۔

رخسانه بی بی :۔ ځویه ! دیکښے دَ رانی دَ وینا ضرورت نشته ۔ د دے ترجمانی به زه اوکړم او هغه داسے چې ما تهٔ یو خود غرضه او خپل مطلبی سړے ګڼلې خو چې ستا پاکے


www.pukhto.net



، صفا او بے لالچه خبرے مِ واوریدے نو سترګے مِ اوغړیدے ۔ تاڅو څو ځله دَ رانی دَ وادهٔ نه انکار اوکړو ۔ په دے وجه نه چې ستا خوښخه نه ده بلکه په دے وجه چې هغے سره وادهٔ تاته یو فراډ ښکاریدو ۔ ما هم دا فراډ ګڼلو خو اوس راته معلومه شوه چې نه داسے نه ده ۔

بچے ! چودهری صیب له خدایږ ډیر څهٔ ورکړی دی خو دَ دنیا لالچ دَ هغه سترګے تپې کړی وې او هله اوغړیدے چې دَ حوالات تمبے ورته لرے شوے ...هغه چې څهٔ کول نو زمونږ پرے وس نه رسیدو خو دَ هغے دَ ګناهونو په تیلو کښې خپله او دَ رانی مینه مه سیزه ۔ بچے زهٔ درته منت کوم ، زاری کوم چې رانی له دَ مینے لاس ورکړه ۔ زما ځوے نشته خو په تامِ دَ ځوی مینه ماتیږی ۔ چودهری صیب خولاړو خپل مقام ته اورسیدو ، دَ هغه راوتهٔ نه کیږی خو چې تهٔ او رانی مِ دَ سترګو وړاندے یې نو په تاسو به مِ تسلی کیږی ...پاسه رانی حضور له لاس ورکړه چې دَ خفګان دا اوښکے مِ دَ خوشحالی په اوښکو کښې بدلې شی"۔

(رانی پاځی او دادو له لاس ورکوی ۔ دادو په خپلو ګوتو دَ هغے اوښکے اوچوی ... دادو مسکے شی او رحیمو ته ګوری ۔ رحیمو هم په مسکو سترګو هغه ته ګوری )

دادو :۔ رحمیو پاسه دلشادبانو له دَ مینے لاس ورکړه ۔

دلشاد بانو(پاسی ) نه حضور ! دا کار به زۀ اوکړم( هغوی مسکی شی او یو بل له لاسونه ورکړی )

دادو (نوروته ) "نورو نرگس لا هغسے ژاړی ، ورشه لاس ورکړه "

نرگس (مسکے شی اوپاځی) نه حضور !دادَ خوشحالۍ اوښکې دی۔(هغه نورو له لاس ورکوی ... نورو دَ هغے او خپلې اوښکے اوچوی)

داودو (مسکې شی ) اوه نورو ! ته هم ژاړے ۔

نورو (مسکې شی ) نه حضور دا دَ خوشحالۍ اوښکې دی ۔

(دے سره هغوی ټول په خندا شی ...دَ هغوی خندا لاجاری وی چی دَ دلشادبانو په موبائیل رِنگ راشی ... هغه موبائیل اوچتوی ۔ دَ هغوی خندا ختمه شی او ټول هغے ته گوری ۔ یوه شیبه پس هغه موبائیل بندوی او غلے غوندے وائی )"اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْن" (ټول هغے ته په سوالیه سترگو گوری )

دادو:۔ څۀ اوشو دلشادبانو ؟

دلشاد بانو (دادو ته په مړو سترگو گوری او وائی )"په تانه کښی خودکش چودنه اوشوه ....او زمونږ زاړه ملگری ټول په حق اورسیدل"۔

(دَ ټولو په سترگو کښې غټې غټې اوښکے اوځلیدے خو دا معلومه نه وه چې دا اوښکے دَ خفگان وې او دَ خوشحالۍ )

★★★★★★★



www.pukhto.net



Pukhto.Net پښتو